# دغني ځاله

نصیراحمد احمدي

Ketabton.com

ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متن څخه

له خان سره مې وویل چې ښه! په دې سرې کې د مینتوب څه دي؟! ارته سینې مې که ورده خوله؟ یو هم نه، خو زړه مې قناعت نه کاوه. همدا ارته سینه مې او بې دوله خوله هم ښه راته ایسېدله.

په دې سرې کې یو بل څه و، غرور؟ نه، له غروره مې بد راتلل، پوهه؟ شاید. انسانیت؟ هو، همدا، انسانیت، د ژوند په زموزو پوهېدل او مهرباني، یا به دا هم نه وو. ما پېنځه خبرې نه وې ورسره کړې، نه پوهېدم، خو له دې سړي مې ښه راتلل، پاک راته ښکارېده، په دومره ښکلو نجونو او ښځو کې مې د ده یوه بې باکي هم نه وه لیدلې.

بیا مې په زړه کې را تېره شوه، وي به، بې باکه به وي، هیڅ نارینه هم پاک نه دی، تول په ښځو پسې ګرځي، ښځې بې پیدا کړې، ورسره بربوزي، خو نورو ته چې موقع نه شي مساعده، هیله یې وځېژي، له بې وسې ورځې په زور ځان متقي کړي، خدای وړاندې ګران کړي، خو دې خبرې هم قانع نه کړم، عیاش انسان که هر څومره ځان وساتي او د پاکي تمثیل وکړي، بیا به یې هم بې باکي ښکارېږي، خو دې سړي یوازې خپل کار کاوه، نه یې ښځو ته کتل او نه یې له کومې یوې د تلیفون شمېره غوښته. نه سترګې له ورایه ښکاري، انسان وړاندې پوهېږي، تول شهوت سترګو ته راختلی وي. دې سړي د ماشوم غوندې معصومې سترګې درلودې.

داسې نارینه کم پیدا کېږي، په زړو کې یو، یا به نه وي، نه پوهېږم، ما خو چې له کوم نارینه سره خبرې کړې، نو سترګو یې هم ختلم.

چاپچاري:
مومند خیرندویه ټولنه او کتابپلورنځی
Momand.books@gmail.com
اړیکشمېرې: 0700626161 - 0777626161
MBP - 978-1-06161-136-7

(c) ketabton.com: The Digital Library

4125-150

# د غني ځاله

(ناول)

صداقت منصور زرمتي pdf

نصير احمد احمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ننګرهار

مومند خپرندويه ټولنه، ننګرهار مارکېټ، پښتونستان وټ

momand.books@gmail.com – www.fb.com/momand626161

۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د غني خاله

لیکوال: نصیر احمد احمدي – ۰۷۰۰۲۵۶۱۹۱

nasirahmad_ahmadi@yahoo.com

کمپوز: ن. ا. احمدي

پښتې: ضیاالحق ارمان

ډیزاین چارې: ایملیار ساجد

چاپ کال: ۱۴۰۰ل – ۲۰۲۱م

چاپ وار: لومړی

د چاپ شمېر: زر ټوکه (۱۰۰۰)

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

کابل: اصلاح افکار، دارالسلام، مستقبل، پښتونس، اکسوس او سروش کتابپلورنځي.

پکتیکا: مجاهد او اریانا کتابپلورنځي.

کندهار: لمبر کرور، افغان او عرفان کتابپلورنځي.

خوست: غرغښت، رحیمي، ساوون، ژوندون، ابدالي، لیوال، غازي او شیخ زید کتابپلورنځ

هلمند: سید جمال الدین او تاج منور کتابپلورنځي.

پکتیا: علمي او روحاني بابا کتابپلورنځي.

فراه: قیومي کتابپلورنځي.

لغمان: یونس کتابپلورنځي.

مزار شریف: ثقافت کتابپلورنځي.

Telegram منصور کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په شپږ ویشت کلنی کې کونډه شوم. سړی مې زما تر مخ برق ونیو، یودم وپوړېد، سترګې یې ردې راوختې، څو دقیقې همداسې بې حرکته، ګړه خوله پاتې و، کله چې یې سا وخته، سیم مې کرار له برقه وایست.

مه راته وایاست چې ملامته یې، بې رحمه یې، ظالمه یې، قاتله یې. دی په خپله له عقله خلاص و، په برق کې بنده سه ساکته یې په سترګو لیده، خو بیا یې هم تر لوخ سیم رابرتېب تاواوه. د خپنو په مرګ کې د ډېرو نورو پرده وي.

په جنازه کې یې خپلوانو چیغې وهلې، بدې ورځې اخیستي ول، ژړل یې، ندرور مې خپل وېښته شکول، خو ما اوښکه تویه نه کړه. بوې ګاوندۍ راته وویل چې د خلکو له شرمه خو خپلې تورې کړې سترګې په اوبو لندې که. پر بفور را څخېدلي رانجه به دې د ژړا نښه وي، خو ما د دې مردارخور له لاسه ډېرې اوښکې تویې کړې وې. بس وې، نه ارزېده.

یوه هم د مرګ لایق نه ګانه، خواني ته یې ژړل، خاورې یې بادولې، خو زه په تشناب کې آینې ته ودرېدم، رانجه او سلایي مې را واخیستل، خپلو غټو تورو سترګو ته مې تورې لکی ورکړې. ما حتی خپله بوولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلنه لور او نهه کلن زوی هم له ژړا منعه کړل. همدا دوه اولادونه م
ول، په پټه به مې د وچو دوا خوړه، نه مې غوښتل چې د مردار خور مې
نسل مې ډېر شي، ګناه راته ښکارېدله.

کور ته ګاونډیانې را ماتې شوې، زما پر خای دوی زما د سرې په اړه
قضاوت کاوه. ښځګنې یې نه خلاصېدې."اه! انجنیر صیب نو حیاناک
سړی و، په خوش اخلاقي کې یې هم وړې وه، تل به یې خندل. یو
وخت یې زما زوی ته لسګون ورکړ، بل وخت یې زما ناروغه وړه لور تر
شفاخانې ورسوله..."

ټولو دورواغ ویل، مخامخ دورواغ! تر ټولو ډېره صفت ویونکې وچ موږي
ډنګره بوډۍ یوه ورځ په ژړا کور ته راغلې وه، ویل یې چې خدای ومنه،
مېړه دې سم غناور دی، زما غبرګ تنکي لمسیان یې په قمار راوستل.
مېړه مې قمار باز و، پلار مې هم همدا کمال درلود، زه څوارلس کلنه
وم چې په قمار کې یې بایلودم. ترخې ورځې نه هېرېږي، همصنفیانې
مې د نهم صنف له پاره کلني امتحان ته تلې، خو زه یې په هماغه ورځ
ګلپوش موټر ته ور وخېژولم، نه ورختم، چیغې مې وهلې، خو د پېچلو
چونډیو زور و، همدې خیرن ته کېناستم.
ورک یې که، له نارینه وو مې کرکه کېږي. ښه به هم لري، خو ما ونه
لید.

زما د مېړه د مرګ خلوېښتې لا نه وه پوره شوې چې لېور مې راته
کېناست، تر خولې مخکې یې د کوناټو ښورېدا خبرې کولې، پوهېدم
چې په اخیر کې به څه وایي. ډېرې خبرې یې وژدویلې، له یوې او بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا راته وغږېد، قیمتي ببې یاده کړه، ویې ویل چې تور سرې یې، ځان او خپل اولادونه به ځنګه ساتې! له لاسه دې وځي...

تولې خبرې یې له نهیلۍ او اندېښنو ډکې وې، تکی داو یې نه درلود، ویل یې چې خوانه جانه یې، وخت خراب دی، په تا پورې مو د پلار، نیکه شمله یادېږي... خو اخیر یې اصلي خبره له خیتې راووته، ویې ویل چې بله لار نه لرو، له ما سره به واده کوې.

دی زما د پلار پر ځای و، یو نیم درجن اولادونه یې لرل، نه مې خوښېده، په ناوېتوب کې یې په ګډ کور کې لا دوه ځله تر لښتو ایستلې وم. اوله بانه یې دا وه چې د حویلۍ په دروازه کې ولاړه وې، بیا یې ځکه وټکولم چې د دېګ مالګه یې ډېره بلله.

اوله خبره یې سمه وه. د دروازې له چولې مې ګاونډي ته کتل، له خپلې ښځې او تکي سپینې اسراتمنې کوچینی لور سره روان و، ښځې او سرې خبرې سره کولې، خندل یې، د سړي له خولې مې څو وارې د (ګرانې) خبره واورېده، ناولده راته ښکاره شوه، خوند یې راکړ، ماته په دې انداز د ګرانې تکی نوی و، نه مې و اورېدلی، سړي به مې تل فاحشه بللم، یوازې د ویدېدا په وخت کې (ګرانه) وم، وروسته به یې شا را وګرځوله، بېرته به فاحشه شوم، تر سهاره به بې خرهاری خوت.

خو د لبوره دویمه خبره دروغ وه، وچ دروغ، دېګ مالګه نه درلوده، اصلا مې مالګه هېره وه، کتغ بلمبګي و، خو له هغه وروسته مې قصدا ډېره مالګه ور اچوله، لبوره مې د وینې لوړ فشار درلود، مالګه ورته زهر وه، خو یوې بلا هم ونه خوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه! نارینه د ښځو د وهلو او سپکولو له پاره ان دومره زحمت هم نه باسي چې د بانې په منطق فکر وکړي. له چایو ډکې پیالې ته به ور پوه کړي خو تاته به وایې چې سترګې نه لرې! چای سوړ دی. دوی ښځو ته ز ګناه مخکې خپېږي نیسي چې ګناه ونه کړي.

لبوره ته مې وچ خواب ورکړ، ورته ومې ویل چې زما او ستا نه سره کېږي یو بل ته نه یو جوړ، دا واده، نه واده، زه د همدې دوو اولادونو له پاره سر سپېنوم.

ویې نه وهلم، د حیرانی خبره نه وه، ولې به یې وهلم! لا یې تمه نه و ختلې.

څه وخت وروسته مې خوابښې راغله. د کورنی عزت یې له زوی سره زما په واده کې لید. اه! عزت! بودی هېڅکله زما مېړه ته نه و ویلي چې و زویه! ټوله ورځ دې له خولې د شرابو ډدوزې خبژي، په کوڅه کې به شرابخور مشهور یې، دوه منزله کور، موټر، هستي، نیستي دې په قمار کې غرقه کړه. بس! دوی ته یوازې ښځې بې عزته ښکاري.

خوابښې ته مې وویل چې له دې واده تېره یم. بودی وار له واره د مرداري تکی را پورې پورې کړ. ویل یې چې ډېرې مرداري سترګې دې دي، بې شرمه یې، ډېر ژر به حرموني واچوې.

د بودی خبره بده نه راباندې ولګېده. څه به یې ویل؟! همدا! په دې وطن کې که د کوندې یا نجلی خوک خوښ وي هم مرداره ده، وایې چې هان، تار ورسره لرې. وژنې یې، که یې خوښ نه وي هم مرداره ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای یې خراب بوله، وایي چې ښه، خوښ دې نه دی، نو حتما له بل سره یارانه پالې.

بوډی مې تر ولي ونیوله، د خپلو خبرو غوندې سپکه وه، په چوپه خوله مې کړاره د حویلی له دروازې و ایسته. ښېراوې یې کولې.

په هماغه مازدیگر مې لېوره تلیفون را وکړ، اول یې فاحشه وګڼلم، بیا یې د اولادونو د بیولو او زما د وژلو زیری راباندې وکړ. طبیعي وه، دی مې ونه مانه، اوتومات فاحشه شوم، خو پوهېدم چې هیڅ هم نه شي کولای، ده خپل اولادونه نه شوای ساتلی، ان وچه ډوډی یې ور جلا کوله، زما وال به یې پوره ماړه کړي وای. له مرګه هم باک نه راته، ما داسې ژوند نه درلود چې تر مرګ ښه وي.

میاشت ووته، نه څوک راغلل، نه چا ووژلم.

ما به سهار وخته اولادونو ته چای تیار که، مکتب ته به مې ولېږل، دوې کوټې به مې جارو کړې.

نور کار نه و، د کابل په شوربازار کې په یوه زاړه کرایي خام کور کې اوسېدو، تر غرمې به ترکي سریالونو ته ناسته وم. یو په بل پسې به مې کتل.

کله کله به مې کتاب را واخیست، د اروا پوهنې له کتابونو سره مې جوړه وه، ډېر مې ولوستل، خو تکی اروا یې رابدله نه کړه.

وروسته اندېښمنه شوم، په کور کې ذخیره کړې پیسې په خلاصېدو وې. دا پیسې مې له مېړه پټې کړې وې، نه یم پښیمانه، په خپله یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه پاکټ ګوليو پيسې نه راکولې، خو په قمار کې به يې يو داو، پنځه

يا لس زره اوګانۍ وې.

کله چې به نشه شو، د کورټي جېبونه به مې يې ولټول، يوه ورځ به زړ

ول، خو بله ورځ به مې ګوتې يوازې د سيګرټو له کوټي سره ولګېدې.

دومره به مې را اخيستې چې له نشې وروسته شک ونه کړي.

اه، مېړه مې انجنيرۍ ويلې وه، خو انسانيت په فاکولټو کې نه دی. تکې

رحم يې نه درلود.

له مېړه سره مې ژوند تريخ و، له اوله تريخ و، له سپکو سپورو او وهلو

پرته مې هېڅ نه پېژندل، د واده په لومړيو کې به مې په چيغو چېغو

وژړل، ښه و، د زړه درد به مې له اوښکو سره را ووت، خو وروسته يې ژړا

ته هم نه پرېښودم، زما په غږ کې يې عزت تاواني کېده، ويل يې چې

عزت ته مې نه ګورې! ګاونډيان دې غږ اورې.

خوله به مې وازه وه، ټول درد به مې ستوني ته راغی، غږ مې نه را ايست،

غږ لا تاواني کولم، زما هرې چيغې، دړې، څلور اضافه لغتې درلودې.

وروسته عادت شوم، پزه به مې تکه سره وه، خوله به مې د تودو وينو له

ترپو خونده ډکه وه، چيغې به مې يوازې په ستوني کې راټولې وې. دی

به راکې خوت، ما به يوازې چوپه خوله ورته کتل، څه مې کړي وای! د

مېړه عزت تاواني کېده.

د سکوت درد د چيغو له درده ډېر دی. زر وارې ډېر. اه! له هر وار سره

به مې له زړه يوه وړه ټوټه بېلېدله، تر ستونې به راغله، همالته به وچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېده، وبه مې ټوخل، له خولې به مې کنډک وينې راتويې شوې.

ټوک ټوک وم.

خندا خو نه وه، ژړا مې هم هېره شوه. غمونه مې د هډوکو په مغزو کې

ګرځېدل، سمې خولې يې پرې لګولې.

يو خل مې لور ته وخندل، مکتب ته تله، پرتوګ يې راوتلي تار تار

درزونه لرل، په چپه خوا يې اغوستی و، خو دې آينې ته له ټيکري راوتلی

تور پېکی سماوه. شونډې مې له خندا سره نابلدې وې، پرې شوې.

ماشومان مې هم همداسې ول، په کومه ورځ چې به يې ناپامه وخندل،

ناروغه به شول.

يو سهار مې خان پرېوی، اينې ته ودرېدم، ښېلو غټو تورو سترګو او

سپين مخ ته مې وکتل، کارګوټي اوږده لانده وېښته مې ښند وهل، لور

مې را وغوښته، ورته ومې ويل چې ماته وګوره! کوم کمی لرم؟!

نجلۍ ردې سترګې راته نيولې وې.

همدا مې ژوند و. مېړه به مې د شرابو له بوتله پرته کور ته نه راته. څه

مې کاوه، بلا مې ور پسې، په ما يې څه! نشه يې ښېل کار و، خو د ده

هره نشه زما د خولې له ماتېدا سره تړلې وه. هېڅ به هم نه و، يودم به

يې يوه خبره وکړه:

" سترګې دې چاته تورې کړې؟! ها! غومبرې دې سره دي، ووايه! د

حاجي فريد زوی غاښونه پرې لګولي که د رنګمال جبار وراره؟!..."

قسمونه به مې خوړل، خو نه، د ده په خبره د کوڅې ټول هلکان زما

ياران ول. وروسته يې دومره زحمت هم نه ايست، له بانو پرته به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېړې راته ونیولې. اخیر اموخته شوم، هر ماښام به مې په سره ګرمې کې تر کمیس لاندې دوه، درې ډبل بنیانونه واغوستل، د وهلو وار به تېر شو، بنیانونه به مې وایستل، خو د ده ډېر وارونه به زما مخ، غاړې او غوږونو ته سیخېدل.

یوه ورځ نه وه، دوې نه وې، درې نه وې، هر ماښام به مې وهلو ته لکه فرض لمونځ تیاری نیوه. ښه خبره به یې فاحشه وه، مړه مور به مې بې لوڅه لېړه راته ترسیم کړه، د ورځې به څو وارې پرې وخوت، ښېرنه به ترې کښته شو، خو له پردو سره یې تل خندل، په تلیفون کې لکه پوست باد داسې نرم غږېده، په هره خبره کې یې خار، قربان ګډ و.
یو ماخستن مې دوډۍ ورته کېښوده، ووتم، شېبه وروسته د لوښو د تولولو لپاره بېرته ورغلم، یوه لوښې ته مې ملا ټیټه کړه، وار له واره یې برچ وهل:
- پر غاړه دې د غانې د لګېدو ښه ده!
سر مې هسې ونه ګرځاوه، دا خبرې تکراري وې، زما پر غاړه یا تتر یې خدایي سور بخار هم عادي نه ګانه. خامخا به د کوم چا د غانې ښه وه.

اشپزخانې ته لاړم، غوږ لوښې مې مینځل، وار له واره مې په ککرۍ کې څرېکه شوه، سترګې مې تورې شوې، ولوېدم، غوږونه مې ډپ ول، نه اورېدل، د سرې له خولې لاړې بادېدلې، کنځاوې یې جړې راتلې. په تشې کې یې اخیرې لغته راکړه، له اشپزخانې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زحمت کېناستم، سر مې نه شواى تم كولاى، لاندې وخړېد، ځک، ځک، ځک...د پزې ځوكې ته مې وكتل، د وينو په څاڅكي كې د ګروپ سپينه رڼا تازه ښكارېدله، سره څاڅكي څو سپينې لكى درلودې، يوه شېبه به مې د پزې پر ځوكه ولاړ و، دروند به شو، ځک، پر سپينه كاشي به ولوېد، بل څاڅكي به يې ځاى ونيو.

ګرېوان ته مې لاس كړ، له تټره مې غوړې ماتې ښيښې را واېستې. ده د غوري وار راباندې كړى و.

حويلى ته ووتم، نور نو نه كېده، ماته وم، ژوند مې له وسه وتلى و، څاه ته مې غبرګې پښې ور وغځولې، لاندې په اوبو كې ستورې ښكارېدل.

وروسته ګډوډ شول، اوبه د وينو څاڅكو كراري ته نه پرېښودلې.

يوه شېبه مې فكر وكړ، تېر ژوند مې تېز په ذهن كې را وګرځاوه. نه مې له پلاره ښه ورځ ليدلې وه، نه له مېره، خو پلار مې يو څه ښه و، اته كاله يې درس راباندې ووايه، په كومه ورځ چې به يې به قمار كې بخت بيداري كړې وه، نو په خپل نوم به يې بللم، طاهره، خو په تاوان كې به ببرته فاحشه شوم.

فكر خلاص شو، لنډ و، تېر شو، يوه نتيجه راووته، په مرګ كې مې خپل خير ليد. د څاه د چک پر ژى مې ګوتې ټينګې كړې، اوبو ته اوښكې او ويني ګډې ور رواني وې، ببرته مې جټكه وخوړه. لور مې د قمار په يوه داو كې بايللې ليده. له ځان سره مې وويل، طاهرې! څاه ځوک نه درنه وړي، پښې هم نه لري، همدلته ده، راځه! تر مرګ مخكې يو وار زړور ژوند هم وازمايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته ورغلم، سړي مې تلويزيون ته کتل، کله کله به يې ډک ي

خولې ته ور وړ.

سر ته يې ودرېدم، د شرابو بوتل مې له خولې ونيو، لاس مې پرته

بېرته مې په چټکۍ پرېښود، د بوتل ماتې ښيښې د سړي په ګنو

وښوېدې. اخ يې هم ونه کړ، بېسده پرېووت.

ريموټ مې را واخيست، يوه مسته سندره مې راوسته.

ميړه ته مې وکتل، په وينو کې پروت و. وروسته يې ګوتې وښورو

کښاست، تر ډېره يې پر ماته ککرۍ رغوۍ ايښې و، بيا يې يودم رابان

خېرې کړې، نه يې زما مخ ته کتل، نه ځان ته، سم خرېده، خولې

راباندې لګولې. ستړی شو، ستونې سنغ وغزېد.

ځان مې سره راټول کړ، په ټول بدن کې مې وچ ځای نه و، ان د ګ

له نوکانو مې هم وينې څڅېدلې.

پوهېدم چې ميړه مې په دې وارو قناعت نه و کړی، وړه خبره نه

ساه يې سموله، بېرته را ولاړېده، خو د ده لا په پروتو سترګو خوت چ

پر تنده مې د پيالې واری پرې وکړ، دا وار مې ولاړېدو ته پرې نه ښو

له لوښو ډکه الماری مې پرې را ړنګه کړه. ستمی يې هم غلی شو.

ماشومان عادت ول، ان د الماری د لوښو په درانه غږ هم له خپل

کوټې را ونه وتل. همالته پرېوتم. د ميړه مې يوازې سر له ړنګې المار

راوتلی و.

تشناب ته لاړم، سر مې په ډک سطل اوبو کې ننه ايست. په اوبو ک

مې سترګې لوخې کړې، اول ړنې وې، د شنه سطل، شين ښخ له ورای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده، خو ورو ورو سرې شوې. له خولې مې لوی- واړه ډومبکان را وختل، سر مې پورته کړ، له لندو وېښتو مې سرې اوبه څڅېدلې.
په ناستو د تشناب دروازې ته ور وښوییدم، د وره کیلي مې تاو کړه. همالته په تشناب کې پرېوتم.
یو وخت مې سترګې رڼې کړې، نه وم مړه، د دومره ډېرې وینې له بهېدو وروسته مې لا هم ساه اخیسته. اول کوټې ته ورغلم، مېړه مې لا تر الماری لاندې و، خو سا یې وهله. بیا مې د ماشومانو د کوټې دروازه خلاصه کړه، ګروپ مې ولګاوه، خپلې لور ته کېناستم. پر سپینو غومبرو یې د اوږدو بڼو سیورې پراته ول. زوی ته مې وکتل، ښه ورخ یې نه وه لیدلې، په ماشومتوب کې یې لا نازک تندي ژورې ګونځې درلودې.
لور مې وسونګېده، ور ومې کتل، له بغوره یې غټې، شین مچ والوت. په هوا کې مې دواړه رغوي سره وجنګول، مچ لاندې ولوېد، را وامې خیست، ښنې یې وهلې، په موټ کې مې چختاړی کړ. له ځان سره مې وویل:
- طاهرې! نور داسې ژوند نه کېږي.
دهلېز ته ووتم، درې بنیانه مې را واخیستل، په حویلۍ کې مې اور ور واچاوه. سوځېدو یې خوند راکړ، په زوره مې وخندل، د لمبو رڼا ته کېناستم، پر دېوال زما د لوخ سر د جړو، ببرو وېښتو سیورې تېرې څوکې درلودې.
تر سپېده چاوده همالته وم. کړپا مې واورېده، کوټې ته ورغلم، مېړه مې له خپله ځانه الماری لیرې کوله. پر الماری کېناستم، له غولي مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېوو د سپينولو تېره چاقو راواخيسته، د مېړه پر ستوني مې ور کېښ
یوه مې کړ چې په بيا ولاړېدا کې يې تاوان دی. ده سپيني سترګې ټ
نیولې وې.
تشناب ته لاړم، اينې ته مې وکتل، مخ مې وچو وينو نيولی و. پر خ
مې سرې اوبه تويې کړې. وروسته مې چای تيار کړ، اولادونه مې په ن
ماړه کړل، مکتب ته مې ولېږل. چاړه مې را واخيسته، د ماشومانو په
کوټه کې اوږده وغزېدم.
کرپا شوه، مېړه مې له لرګي سره راغی، خو زما په لاس کې نيولې چاړ
په وره کې ودراوه.
ده يوه شبېه په راوتلو رډو سترګو راته کتل، بيا له کوټې ووت.
له هغه وروسته مې وهل ونه خوړل، په يو بل مو کار نه درلود، کوټه مې
ور پرېښوده. زه به له کوچنيانو سره ويدېدم، خو چاړه او د دروازې ترل
مې نه هېرول.
خو ورځې وروسته دا تشويش هم لېرې شو. برق عادل و، ويې نيو، بې
غمه شوم، خو اوس بله انديښنه را لوېدلې وه. په کور کې يوازې د دوو
هفتو د خوراک پيسې پاتې وې.
يو مازديګر دروازه وټکېده، ورغلم، د وره تر چولې مې ور وکتل، ډنګر
ږيره، بربټ خريبلی سړی ولاړ و، توره قره قلي خولۍ يې پر تندي ايښې
وه، ويل يې چې د کور مالک دی، کرايه غواړي.
وخت مې ورنه وغوښت، خو ده په ډېر احترام راته وويل چې د تېرې
مياشتې کرايه هم درباندې پاتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پله خبره يې ونه کړه، روان شو.

په حويلۍ کې حيرانه ودرېدم. د خرڅلاو له پاره مې څه نه لرل، د سرو زرو بنګړي او ګوتمې مې لا د واده په اوله مياشت مېړه په قمار کې بايللي ول. کوټې ته لاړم، تلويزيون ښه و، خو ماته الماري او د پيسو په رابر ترلې زوړ خراب مبايل په پينځو سوو اوغانيو هم نه ارزېدل.

د بلې کوټې دروازه مې خلاصه کړه. غالۍ هم يو څه راته جوړول، په ګوتو مې حساب وکړ، زر، دوه زره، درې زره...تلويزيون ته مې اته زره قيمت وټاکه، خو غالۍ يو ځاى پينه درلوده، که مې بخت بيداري کړې واى، نو پينځه زره ښې وې.

چادري مې پر سر کړه، له تلويزيون سره له کوره ووتم. ما اته کاله په شوربازار کې تېر کړي ول، خو له خپلې کوڅې هاخوا نه وه را مالومه. مېړه مې له کوره وتل بد ګڼل، د واده په اولو کې مې د کوڅې د سر له دوکانه اورلګيت راوور، مېړه مې تېل راباندې وپاشل، د هماغه اورلګيت دانه يې بله کړه، قسم يې و ايست چې له کوره دوهم ځل وتل به دې د ژوند پاى وي.

اوس يوه خوا هم نه را مالومېده. په تنګو کوڅو کې روانه وم، د ماشومانو را پام شول، مردکي يې پرېښودې، ټوکې يې راباندې کولې، ويل يې

چې خاله! کوم فلمونه دې خونبري؟ سبکس؟

باک نه راته، په دې خبرو روږدې وم، عادي راته اېسېدې.

په پوښتنه پوښتنه جادې ته ووتم، د مستعملو شيانو د پلورلو کوڅه مې پيدا کړه، څو کسانو ته ودرېدم، تلويزيون يې ارزانه غوښت، ويل يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د غلا مال دی. قسمونه مې خوړل چې همدا تلویزیون مو ...
مخکې په دیارلس زره واخیست، خو نه یې منله.

بېرته مې اول سړی وموند، ده څلور زره راکولې، په ګټه کې د غلا ...
نه وه. ور مې کړ.

غرمه مې ماشومان له مکتبه راغلل، لورکۍ مې وار له واره د تلویزیو...
کوټې ته ور منډه کړه، دې یو ترکي سریال نه قضاء کاوه، بېر...
اشپزخانې ته راغله. تلویزیون یې یاد نه کړ، زړه یې نه درلود، اولادون...
مې همداسې عادت شوي ول. دوی هېڅوخت د پوښتنې اجازه نه لرله...
همالته مې کچالو په قاب کې ورته واچول، لور مې خوابدې وه، ډوډ...
یې نه خوړه، پوهېدم چې په زړه کې یې څه ور ګرځي. تلویزیون نه و...
لنډه مې وپوهوله چې تلویزون مې خرڅ کړ.

د نجلۍ په سترګو کې اوښکې را ورغړېدې، ولاړه شوه، په غوسه مې
ورته وویل چې کېنه. دې منډه واخیسته، پسې ورغلم، په کوټه کې مې
تر څنګ ونیوله، بېرته مې اشپزخانې ته راکش کړه. دسترخوان ته مې
کېنوله.

د لوښو د مینځلو په وخت کې مې تر څنګ ور وکتل، خوله یې پټه وه،
ژامې یې نه خوځېدې، له سپېرو شونډو یې د سپېرې وچې ډوډۍ
سپېره وړه ځنډه راوتلې وه، له غټو تورو سترګو یې دانه، دانه اوښکې
روانې وې.

اجازه مې ورکړه. دا چټکه له اشپزخانې ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همالته کېناستم، سر مې پر زنګنو کېښود، ومې خندل، په زوره مې وخندل، دومره په زوره چې په پښتاسه کې اینبې پیالې ولړزېدې. بیا مې بیو دم وژړل. د زړه له اخلاصه مې وژړل، په چیغو چیغو مې وژړل. د کلېنو کلونو زړه مې تش کړ، باک نه راته چې ګاونډیان به څه وايي.

زوی او لور مې په وره کې راته ولاړ ول، دواړو ژړل.

په زړه کې را تېره شوه:

ـ ظاهري! اولادونه به دې هم ستا غوندې وي.

بېرته مې خپل خان ته ځواب ورکړ:

ـ نه، اولادونه به مې زما غوندې نه وي.

لور ته مې اشاره وکړه. راغله، په غېږ کې مې ونیوله. لور مې یودم وژړل، بخښنه یې وغوښته.

وروسته مې دواړه کېنول. خبرې مې ورسره وکړې، خپله مجبوري او د کور کرایه مې یاده کړه، د دوی نظر مې وپوښت...

زوی او لور حیران راته کتل، له دوی سره تر اوسه چا د کور خبره نه وه شریکه کړې. بوازې امر پرې شوی و چې څه کوئ څه مه کوئ.

یوه هفته وروسته د کور خاوند بیا راغی. سهار و، ماشومان مکتب ته تللي ول. د دروازې له شا مې خبرې ورسره وکړې، د یوې میاشتې کرایه مې د وره له چولې ور وایسته، درې زره وې، خو ده د دواړو میاشتو پیسې یوځای غوښتې. وریاده مې کړه چې په کور کې یوه غالۍ لرم، بده نه ده، په ورلو ارزي، خو ده نغدې پیسې غوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی لومړی په ادب راسره غږېده، ویل یې چې دری اولادونه مې دي
له پیسو پرته یې ژوند سخت دی، خو وروسته یودم جدي شو، اخېري
خبره یې دا وه چې یا به تر سبا سهاره کرایه را پوره کوې او یا به له کو
وځې.
ورځ مې په چورتونو تېره کړه، شپه هم نا ارامه وم، کرایه به مې له کومه
کوله؟! چېرې به تلم؟! نه پوهېدم.
سهار دروازه وټکېده، زړه مې پرېووت، په وېره ورغلم، ارامه شوم. په
کوڅه کې ماشومانو کرکټ کاوه، توپ یې زموږ حویلۍ ته را لوېدلی و.
اول وار نه و، پوه مې کړل چې د کرکټ له پاره بل ځای پسې وګواږي.
زړه مې ډاډه شو، د کور خاوند نن نه راته.
لس بجې بیا دروازه وټکېده، دا وار مې د کوڅې ماشومانو ته غوسه
راغله، په بېړه مې دروازه خلاصه کړه، زر مې پر لوښ مخ او خلاص تنر
تیکری را کش کړ، بېرته مې دروازه پورې کړه. د کور خاوند و، ښځه
مې ترې وغوښته، ومې ویل چې د کور کرایه مې نه ده پیدا کړې.
دی یوه شېبه غلی و، وروسته یې غالۍ یاده کړه، خو ما ورته وویل چې
اوس په کور کې څوک نه شته، مازدیګر راشه. ده خپل مصروفیت یاد
کړ، ویې ویل چې ښار ته ځي.
زړه نا زړه وم، خو اخیر خپله مجبوري راباندې زوروه شوه، سرې حویلۍ
ته راغی. په بېړه مې کوټه ور وښوده، زه په کوڅه کې ودرېدم. وارخطا
وم، خو ښه و، په کوڅه کې یوازې له یوه خر پراته سپي پرته بل څوک
نه و. سپي مې پرده کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سري له هماغه ځایه را ناري کړې چې غالی ډېره زړه ده. زړه مې خولې ته راغی، خدای خدای مې کول چې په کوټه کې د کومې زړې لرګیني دروازې خوله خلاصه نه شي.

سړی ناوخته شو، ناره مې هم نه شوای ورکولی، د څنګ ګاونډیان پوهېدل چې تر دوولسو بجو یوازې یم. دوی په دې هم خبر ول چې هېڅ خپل نه راته راځي. ناره، مانا، پردی.

په ببره چوترې ته وختم، له کړکۍ مې ور وکتل، سړی په تاخچه کې ناست و، په مبایل کې یې ګوتې وهلې.

کړکۍ مې ور وټکوله، پوه مې کړ چې کور پرېږدي، خو د دروازې د خلاصېدو په وخت کې زما لوخ مخ او خلاص سپین تتر کار کړی و، ده یوازې راته خندل.

د کوټې په وره کې ودرېدم، خوله مې جینګه کړه، خواست مې ورته وکړ چې خدای ومنه، مه مې بې پردې کوه. خو خدای بې خه کاوه، زما د سینو سپین نری چاک زورور و، نه ته.

قران مې ورته راواخیست، ور ویې هم نه کتل، د غالی پیڅکې یې وارووله، ویې ویل چې د اخیستلو نه ده.

ورته ومې ویل چې چیغې وهم، خو چیغې مې نه شوای وهلې، دی مې داراوه، په چیغو کې مې خپل تاوان و، خلک خبرېدل، ګاونډیان راتلل، که مرداره نه وای دې پردي سړي به زما په کوټه کې خه کول؟!

ومې ژړل، سړی په ډېرو نخرو له حویلۍ ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره زړه مې نه درلود چې کوټې ته غږ ور اوږده کړم. يوه شېبه د پورې دروازې شاته کېناستم. زړه مې دربېده، بيا مې ور مازې چوله کړ. شکر مې وايست، د دروازې تر مخ يوازې خړ سپي ولاړ و.

بل سهار بيا راغی، له کوټې راسره غږېده، خبرې يې مودبې وې، نه يې کرايه ياده کړه او نه يې له کوره د وتلو خبره په خوله راوړه، برعکس بخښنه يې وغوښته، ويې ويل چې خپل کور دې دی، له کرايې پرته پاتې کېدای شې.

دې لوربدا مې زړه خوړ.

دوې ورځې ووتې، سړی رانه غی. په دربيم مازديگر دروازه وټکېده، ما په گازي تبی پاستي پخول، زوی مې ور ووت، خو بېرته پر يوه خوا کړ راغی، په لاس کې يې له مايع غوړو ډکه پينځه ليتره بوشکه نيولې وه. په حيرانی مې ورته وکتل، ده په خوشالي رايادہ کړه چې بوره، چاکليټ او په پلاستيکي کڅوره کې اينبی شين چای هم شته. يوه قره قلي وال راوړل، په حويلی کې يې کېښودل.

په بېړه انگړ ته ووتم، دروازه مې خلاصه کړه، د کوټې په سر کې بو؛ ماشوم يو خيرن توپ رغړاوه.

د پلاستيک کړپا مې واورېده، د زوی يو بغور مې پورته راختلی و. گوته مې په خوله کې ور ننه ايسته، چاکليټ مې ژوندی را وايست. بېرته مې په کاغذ کې ونغاړه، په خلطه کې مې واچاوه. زوی مې په لندو سترگو راته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سودا دوې ورځې لمر ته پرته وه، خو د سړي درک ونه لګېد. درېیم سهار بیا دروازې ته ور ووتم، ور مې نیمکښه کړ، اول د تېزې سپرې بوی راغی، بیا مې د سړي خلاصه اوږده خوله ولیده، خندل یې.

سودا مې ور وایسته، مننه مې ترې وکړه، ومې ویل چې تر موږ نور دېر غریبان شته.

دروازه مې پورې کړه، خو چوترې ته لا نه وم رسېدلی چې بیا مې تک تک واورېد. غوسه راغله، همالته ودرېدم، دا ځل د بندې دروازې لاستې ټیټ شو. زړه مې خولې ته راغی. پښو مې پړک واخیست، کېناستم. یوه شېبه د دروازې لاستی ټیټ پاتې و، وروسته بېرته خپل ځای ته ورغی.

غرمه بیا دروازه وټکېده، داده وم، اولادونه مې له مکتبه په دوولس راتلل، د دروازې په کولپ کې کیلي لا سمه نه وه تاو شوې، چې د دروازې درنه پله تېزه راباندې راغله. سړي وار له واره په غېږ کې ونیولم، وانې مې ووتې، ټول بدن مې بې حسه و، ده مې پر خوله خبله خوله کېښوده، شونډې یې لندې وې، ساه مې نه شوای ایستی، پورې مې واهه، نه کېده، متې یې غښتلې وې. په زحمت مې خپل مخ ترې لرې کړ، ده تېزه سا وهله، په سا کې یې د نصوارو بوی ګډ و.

پر غاړه مې کلکه خوله ور ولګوله، سړي اخ کړل، شاته شو. خپلې غاړې ته یې لاس ور ووړ، ګوتو ته یې وکتل، سرې وې.

په بېړه له دروازې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کولپ کې مې کیلي تاو کړه، همالته کېناستم، ومې ژړل، ومې ژړل.

ومې ژړل.

په کوټه کې پرمخې پرېوتم.

یو وخت مې ناره واورېده، ګاونډی وه، د دېوال له سره یې زما نوم اخیست.

"طاهرې! اولادونه دې سره لمر ته ولاړ دي".

ور ووتم، دروازه مې خلاصه کړه، لور مې په لاس کې وړه ډبره نیولې وه. دواړو په حیرانی راته کتل، خو ما هېڅ ونه ویل، ان ډوډی مې هم په پټه خوله ورکړه. بېرته کوټې ته لاړم.

په زړه کې مې اور بل و:

ـ نو دومره چور!

کوټې ځای نه راکاوه. په حویلی کې سره لمر ته کېناستم. خړو خاورو ته مې کتل، یو وخت مې یو دم توپ کړل، ور ومې کتل، لور مې زما له اوږې لاس پورته کړ. نجلی په وارخطایی وویل:

ـ ادې! لمر دی. ناروغه کېږې.

په غېږ کې مې ونیوله، ومې ژړل.

دې وچې سترګې راته نیولې وې.

مازدیګر بیا دروازه وټکېده. د کور خاوند و، بخښنه یې غوښته، خو ما

خل ما ورته وویل چې د شپې یوه بجه درته ماتله یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی خوشاله و، اول يې زما د غټو سترګو او خلاصې سپينې غاړې صفت وکړ، وروسته يې په هيجان زما عزت ته قيمت وټاکه، ويې ويل چې يو ساعت راسره تېر که، د يوه کال له کرايې به غمه يې.

ماخستن مې د کوچنيانو کتابچې ور ټولې کړې، دوی کورنۍ وظيفه ليکله، ويل يې چې معلم مو وهي، خو ما وربانده کړه چې يوه ورځ مو دې بيا نه وي ليکلې.

دواړه حيران ول، ادې تل د کورنۍ وظيفې په ليکلو ټينګار کاوه، داسې يې نه پرېښودل، درس يې مهم ګاڼه، د دوی اينده يې وربوري تړلې وه، دا وار يې خپله قلمونه له ګوتو ترې وايستل.

پر دواړو مې نرۍ کمپلې واچولې.

په تياره کې حويلۍ ته ووتم، د بدرفت (د کمود د چټلي) له خا مې د لرګي درنه تخته وښوروله. د دې خامې ژورې خاه ژورواله نه و را مالوم، خو په دې کور کې يوازې مونږ اته کاله اوسېدلي وو، خاه په دې اتو کلونو کې نه وه پاکه شوې.

د چوترې د سر ګروپ مې مړ کړ. هماغه په چوتره کې کېناستم، د زړه دريا مې په خپله اوربده.

پاو کم يوه بجه مې د دروازې د لاستي د تاوېدو ورو غنجی واورېد.

ورغلم، دروازه مې خلاصه کړه، سړي وار له واره زما تر ملا لاسونه تاو کړل، سينې ته يې ور جوخته کړم، ده نرم عطر وهلي و، له خولې يې د غانبونو د کريمو بوی ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورو مې ووېل:

- ګډه پرېوتا ښه نه ده!

ده سوکه وخندل، زما خولې ته يې خپلې شونډې را نږدې کړې، سترګ يې ډېره شوه، مخ مې ترې وګرځاوه، ده زما د دواړو ورنونو تر مينځ لاس تېر کړ، لږ مې خان ور مخکې کړ، سرې يو ګام شاته شو، تياره وه، خو زما د اټکل له مخې دې د خا پر زې ولاړ و. ورو مې د ده يل لاس په خپل لاس کې ونيو، دا ځل يې مقاومت ونه کړ، ګوتې يې زما له ملا ښېلې شوې. يودم مې بورې واهه. سرې کوږ شو. چيغه يې کړه، لاندې په تينګه چټلې کې مې بوازې يو ځرپ واورېد.

غوږ مې ونيو. هېڅ هم نه و.

ورو مې د ځاه پر سر د لرګي ډېله تخته کېښوده.

ګوتې ته لاړم. ګروپ مې ولګاوه. لور مې کراره سا اخيسته. د دواړو اولادونو په مينځ کې پرېوتم.

تر يوه څه وخته مې زړه درېېده، وروسته مې ځان ته قناعت ورکړ، له دې سړي بل رنګ نه شواى خلاصېداى، څوک پوهېدل، چټلو خلکو نه همداسې چټل ځاى ښه و.

سهار وخته د باندې ووتم، زړه مې ولړزېد. د ځاه درې ليرې شوې وه، تر ځاه ته ودرېدم، په تيکرې مې پزه پټه کړه، د ځاه په خامو دېوالونو کې د لاس او پښو د تم کېدو زور خاپونه لانده ښکارېدل. سړى وتلى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخته مې بېرته سمه کړه. ځای مې پرېمانځه. خو لا هم تو له حویلی د چټلې بوی نه ولې وه.

ورخ ووته، سړی مالوم نه شو، خو د دروازې له هر وار ټکېدو سره به له چارې سره ور وتم.

بل سهار د جومات ملا او د کوڅې یو سپین ږیری راغلل. د چایو ست مې ورته وکړ، دوی هم بله ونه کړه، په چوتره کې مې پلاستیکي فرش ورته ویړ کړ.

ډېرې خبرې د جومات ملا کولې، ده اول د اسلام له نظره د نورو د حق د خوړلو په اړه اوږدې خبرې وکړې، د مسلمان د حق خوړونکی یې دوزخي وګانه، بیا یې د مامور قدوس د کرایې د ورکړې غوښتنه رانه وکړه، ویې ویل چې مامور صاحب نېک او متدین شخص دی، پینځه وخته جومات ته راځي، حیا لري، له ډېرې حیا په کوڅه کې خوړند سر روان وي، بد یې چا نه دي لیدلي، یو ځل یې جومات ته ګړی راوړه، بل وار یې ترکي بخاری ورته واخیسته...

زه د ده له خبرو پوه شوم چې قره قلي وال مامور قدوس نومېده.

ملا صیب اوږدې خبرې وکړې، مامور قدوس یې د ابرو او عزت سړی وباله، دا یې هم وویل چې په دې وخت کې دا ډول نېک او حیاناکه کسان کم پیدا کېږي. دی یوازې دوه ځله درته راغلی و او په ډېر درناوي یې د کرایې غوښتنه کړې وه، دا وار یې موږ را ولېږلو، ویل یې چې پردی ناموس دی، جنجال نه شم ورسره کولای... په پای کې یې وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا د دوو میاشتو کرایه د دا رنګه خلکو عزت ته باید په سپکه ونه ګورو. ورکړه او یا له کوره ووځه.

یوه هفته وخت مې وغوښت.

فکر مې وکړ، نه مې کرایه ورکولای شوای او نه هم دې کور نور خوند راکاوه. دې خامو دېوالونو خولې راباندې لګولې.

بل سهار د کور په پیدا کولو پسې ووتم. له شوربازاره مې ورته کېده، لیرې لاړم. د کابل په کمپنی کې له موټره کښته شوم. ماشومتوب مې همدلته تېر کړی و، دا ځای بې نخښې و، خام کورونه یې ډېر لرل.

په تنګو کوڅو کې مې ډېرې دروازې وټکولې، دوه کوره مې پیدا کړل، خو کرایې یې لوړې وې. اخیر مې یوازې یوه کوټه او یو تشناب وموند. ګډ کور و، خو لاره یې بېله وه.

کور زما په خیر د یوې کونډې و. په کرایه ورسره وغږېدم، بیه یې ارزانه وه، یوازې یونیم زر، خو د پینځو میاشتو کرایه یې پیشکي غوښته.

خواست مې ورته وکړ، دا هم پوهېدله چې په دې نمجنه، زړه کوټه کې خدایکه سپی هم ګذاره وکړي، دریو میاشتو ته را تیټه شوه. پینځه سوه اوغاني مې بیانیه ورکړه.

غرمه ستړې کورته راغلم، ماشومان مې بندې دروازې ته ولاړ ول.

بله ورځ له کوڅې یو تېره غږ راغی. سړي نارې وهلې، د کور زاړه وسایل، زړې اوسپنې، بیطرې، پلاستیک او وچه ډوډۍ یې اخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور ووتم، رامې ووست. د کور ټول وسایل مې ور وښودل. ټول یې په شل زره غوښتل. چنې مې ورسره ونه وهلې. خو دومره مې پوه کړ چې ټکنده غرمه به راځي.

سرې لاړ، غرمه راغی، اول مې کوټې ته غړی ور اورده کړه. هېڅوک نه ول، بیا دواړو په بېړه د زرنج بادي له زرو وسایلو ډکه کړه.

غرمه مې اولادونه سپېرو خاورو ته ودرېدل.

ماخستن له یوه پلاستیکي فرش او څو لوښو سره له کوره ووتو. ټیکسي مې ونیوله. ساعت وروسته په کمپنۍ کې وو.

کونده به تیاره کې زما ورتګ ته حیرانه وه. کیلي مې ترې را واخیسته. دري ورځې له کوره ونه وتو. ما او اولادونو به ګډه کوټه پاکه کړه. د لندو دیوالونو رالوېدلو خاپونو ته مو ختې ور وتپلې، سپین ګچ مو ورکړ. بله ورځ مې ماشومان نوي مکتب ته را سه پارچه کړل.

وخت ووت، شل زره اوغانۍ رواني وې، تلې.

څومره چې به وخت تېرېده، هماغومره به مې د اولادونو د جامو پېښې زیاتېدلې.

وروسته له دوه وخته خوړو سره عادت شوو، سهار او غرمه.

ماښام به وخته پرېوتو. وخته پرېوتا مو به ګټه وه، په خوب کې دېره لوږه نه احساسېدله.

یو سهار مې زوی د مکتب کالي اغوستل. ګېډه یې ننوتې وه، د سینې پښتۍ یې ښکې ولاړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سهار راته کېناست، ويل يې چې مکتب پرېږدم، د بوټونو د رنګولو چل راوښيه.

په غېږ کې مې ونيو. وريادوه مې کړه چې تر اوسه لا ساه راکې چلېږي بله ورځ د خوړلو له پاره هېڅ هم نه ول.

چادري مې پر سر کړه، نانوايي ته ورغلم، ګنې ښځې ناستې وې، هر تېرېدونکي سړي ته به يې خولې جينګې کړې، دوی د يوې وچې ډوډۍ د اخيستلو خواست کاوه.

يوه شېبه ورسره کېناستم، چوپه خوله وم، سخته وه، ډېره سخته. خواست ته مې خوله نه جوړېده. يو سړی راغی، ټولو ته يې يوه يوه ډوډۍ واخيسته. ډوډۍ ته مې وکتل، ما نه شوای خوړلای، دې خوړلم. ډوډۍ مې تر څنګ د ناستې ښځې په لمنه کې ور واچوله. چټکه روانه شوم. ګرمي وه، تنګه کوڅه تشه وه، چادري مې پورته کړه، په فکرونو کې ډوبه وم، څوړند سر مې سوکه سوکه ګامونه اخيستل، يو وخت پر خړو خاورو سيوری راباندې راغی، په بېړه مې پورته وکتل، تر څنګ تېرېدونکي له عمره پاخه پېرور سړي وچې سترګې راته نيولې وې.

په وره کې مې کيلي تاو کړه، تر څنګ مې ور وکتل، سړي پر سميټي پايه پورې د مېترونو ترلې بکسه خلاصوله. خو ماته يې کتل.

کوټې ته لاړم، غلې کېناستم. فکر مې وکړ، څه به مو خوړل؟! لاره رانه ورکه وه، په کور کې د خوراک له پاره هېڅ هم نه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کونج کې کړپا شوه، ناولې جامې مې ليرې کړې، له پلاستيکي خلتې يو موړک را ووت. موړک ته مې دعاوې وکړې. په خلته کې د وچې ډوډۍ څو کلک ټوکه پراته ول.

ډوډۍ مې پزې ته ور وړه، د چناسو بوی يې ته، خو بيا هم د خوراک وړ راته واېسېدله، نه به وه، په زوره مې واېسوله. اول مې پرهمينځله، بيا مې په اوبو کې لنده کړه.

غرمه مې اولادونه راغلل، حيرانه شوم، لور او زوی مې ايسکريم څښل. پوښتنه مې ترې وکړه، ويې ويل چې ميتر جوړونکي سړي ايسکريم راته واخيستل.

زړه مې اور واخيست، د مامور قدوس کيسه بيا تکرارېدله، له غبرگو ايسکريمو سره د باندې ووتم، څوک نه ول. زوی ته مې ورغږ کړ، راغی، وارخطا و. ده درېيمه دروازه را وښودله، ويې ويل چې له عمره پوخ سړی همدې کوټه ور ننوت.

دروازه مې ور وټکوله، دوه غبرگ کوچنيان را ووتل، له خيرنو مخونو، شکېدلو جامو او پلاستيکي زړو څپلکو يې غربت اورېده. ورته ومې ويل چې حاجي صاحب را وغواړئ.

يوه يې د کوړ خواته منډه کړه، دويم په راوتلو رډو سترگو زما په لاس کې نيولو ايسکريمو ته کتل. داسې راته ښکاره شوه لکه په ټول ژوند چې يې ايسکريم ته ژبه نه وي را اېستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوري راغي، وارخطا و. خبري ته مې پرې نه ښوده. پوه مې کړ چې له ما او زما له ماشوماتو ليرې اوسه، که نه زه به کوڅه کې به دې لوڅ لېړ وشړوم.

سوري يوازې رڼې سترګې راته نيولې وې.

غبرګ ايسکريمونه مې ماشوم ته ورکړل.

کورته راغلم، لوڼ مې تر وېښتو کش کړه، خو زوی مې منډه راته واخيسته.

کېناستم، زړه مې ډک و، خو ومې نه ژړل. لوڼ ته مې وويل چې که دې بيا له کوم چا څه اخيستي وي، تر ستوني دې نيسم. قسم، د چرګ غونډې کفا به دې راته خېژي. د نجلۍ سپينې تيکرۍ لړزېده.

بل سهار مې د کوڼ له مالکې سل افغانۍ پور کړې. بل کمال مې نه درلود، د بوټونو تور رنګ او برس مې واخيستل، تېغه نانوايي ته ورغلم، کېناستم، برس او رنګ مې پښو ته کېښودل.

اول مې تر ښنګ د ناستې خوانې سوالګرې خندا واورېده، بيا نانوای را غږ کړل، ويل يې چې د نانوايي مخه مه نيسه.

د نانوايي تر مخې يوازې زه نه وم ناسته، ګڼې سوالګرې وې، يوې ته يې هم څه نه ويل.

هيڅ خبره مې ونه کړه، د دوکان مخې ته کېناستم، خو دوکاندار په بېړه را ووت، ويل يې چې دلته ستا کېناستل شرم دی، دوکان ته مې مشتريان نه راځي.

حيرانه شوم، دې خلکو ته د ښځو سوال شرم نه ښکارېده، خو د هغوی له کاره يې بد ورل، غرور يې نه منله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې دوکان تر مخ دوه نور سړي هم ناست ول، یوه یې جوار نیني کول، بل ته یوه بوډا خپل لاس پورته نیولی و، تخرګ یې ور خرییه. ضد ونیولم، نه تلم.
دوکاندار په خواره خوله راته وویل چې عزت ته مې ګوره.
دې خلکو ته سوال کول عزت ښکارېده، خو کار کول یې بې عزتي ګڼله. لاړم، د کمپنۍ په بازار کې مې د څهل متره سړک د ګلدان په مینځ کې په سپېرو خاورو کې پلټۍ ووهلې. د چادري له وړو سوریو مې تر څنګ وکتل، په لنډو فاصلو کې کتار موچیان ناست ول.
تر څنګ خوان ځنېور موچي را وکتل، تنده یې تروه شوه، بېرته یې د بوټ تر تلي ستن وایسته، خو شېبه وروسته یې یودم وخندل، له سره رنګه ډک بوتل یې را بېرته کړ. ویې ویل چې خلک یوازې تور رنګ بوټونه نه په پښو کوي.
ویوهېدم چې دا مهرباني یې بې څه نه وه، ده زما پښو ته کتل، په زړو څپلکو کې زما د پښو سپین رنګ مهربانه کړی و.
ولاړه شوم، څو ګامه لیرې، د دوو سپین ږیرو موچیانو تر څنګ کېناستم. یو مصروف و، بوټونه یې رنګول، خو بل نصوار تو کړل، وار له واره یې د نصیحت ژبه را واخیسته، ویې ویل چې ښځې په کور درنې ښکاري.
ده اوږدې خبرې وکړې، مرګ یې تر بې حیایي ښه ګاڼه، خو ماته باک نه راته. مخکې لا مړه وم.
د هر سړي په پښو پسې به مې ورمېږ کوږ شو، سپېرو او په خاورو ککړو بوټونو به مې زړه ښه کړ، قسمت مې ورېورې غوټه و، خدای خدای به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې کول چې را وگرځي، خو سات ووت، يو هم رانه غی. اخير مې بخت
بيداري وکړه، يوې زړې ښځې بسته خلته راته کېښوده. د ماشومانو پو
اوه جوړه بوټونه او څپلی وې.
ومې رنگول، اسانه وه. د مېړه پوازې همدا يوه نېکي را پاتې وه، د بوټونو
رنگ يې سم غوښت. د ستنې د څوکې په اندازه سپېره ځای هم کنځلې
درلودې.
ښځې اويا اوغانۍ راکړې. بايد راکړې يې وای، رنگ يې ښه راغلی و،
تک تور، په همدې تور رنگ کې مې د خپلو اولادونو ژوند ليد.
له ښځې مې د سات پوښتنه وکړه، له مکتبه د کوچنيانو راتگ ته يوازې
دېرش دقيقې پاتې وې.
نانوايي ته ورغلم، درې تودې ډوډۍ مې واخيستې، په ژوند کې مې
اوله گټه وه، د غرور احساس مې وکړ. د چادرې پېڅکه مې کش شوه،
هغې خوانې ښځې چې په ما پورې يې خندلي و، د يوې وچې ډوډۍ
د اخيستلو خواست راته کاوه.
وار له واره اجيانی شوم " اجيانۍ، خدای ومنه، يوه وچه ډوډۍ خو راته
واخله! "
چادرې مې ترې کش کړه، ډوډۍ مې خپلې بزې ته ور وړې، خوند يې
کاوه، سرې مې د ډوډۍ له تاوده بويه ډک کړل.
په کوځه کې نېغ سر روانه وم. زړه مې هوا کوله. اه! وزرې نه وې، الوتم،
په ذهن کې مې سندرې راگرځېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې مې درې هګۍ واخیستې. کورته لاړم، غوړي نه ول، شبه وروسته مې په اوبو کې جوش کړې هګۍ او درې وچې ډوډۍ پر هوار کړي اخبار کېښودې. اولادونه مې راغلل، حیران ول، د هګیو پوستکي یې هم په ګوله کې ونغاړل.

له کوڅې د ایسکریم خرخونکي موزیک راغی. زوی مې ور ولېږه، خان او خور ته یې دوه ایسکریمه راوړل. دواړو ایسکریمونه په خوند څټل، ژبې یې تکې سپینې وې، تکې وینه یې نه درلوده.

ماسپښین مې دوی ویده کړل، پر لاسونو او پښو مې د بوټونو د رنګولو برس وسولاوه، بله چاره نه وه، تورو، خیرنو لاسونو او پښو د نارینه وو شهوت نه راپاراوه.

د سړک ګلدان ته ورغلم، خوان ځنیور موچی راغږ کړل، ور ومې کتل، ده تر ځنګ پلاستیکي بوجی راته هواره کړه. ترې تېره شوم، د دوو سپین ږیرو په مینځ کې کېناستم، خو خوان همالته راپسې راغی، خندل یې، له ما یې ځانته نږدې د ورتلو غوښتنه کوله.

سر مې پسې ونه ګرځاوه، خو دی تر اندازې ډېر سپی سپی کېده، سپک مې کړ. وار له واره یې فاحشه وګڼلم.

زړه مې اور واخیست، خو ځان مې کابو کړ. خوان یوه شېبه ولاړ و، بېرته لیرې پر خپل ځای کېناست. له هماغه ځایه یې را ناره کړه!

- ته فاحشه یې!

بودا راغږ کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښځه چې له کوره را ووځي، داسې ده لکه له شاتو ډک بې سرپوښه بوتل. له شاتو ډک خلاص بوتل ته خامخا مچ ورځي. زما خبره ومنه، په کور کې درنه کېنه، پته به یې، دلته ګذاره نه شي کولای.

ومې ویل:

ـ نه، ګذاره کولای شم.

یودم ودرېدم. پر ناست خوان مې منډه ور واخیسته، وار له واره مې تر خنو کش کړ، رنګ شو، سندان ته مې لاس ور وغځاوه، نه کېده، دروند و، د بوټونو د رنګ ډبې په ګوتو راغی، خوان اخ کړل، پر تندي یې د وینو نرۍ لیکه را وبهېده، زړو موچیانو منډه را واخیسته، دواړو تر ولیو ونیولم. خلک راټول شول، ماشومانو خندل، لویان غلي ولاړ ول.

بېرته خپل ځای ته راغلم، د چادري سپېرې پیځکې مې وخندلې، خوان ته مې وکتل، غلی ناست و، په دسمال یې د خپل تندي وینه پاکوله.

راټول شوي خلک لاړل. بیا ورغلم، د خوان تر مخ ایښې ستن مې را واخیسته، ومې ویل:

ـ که دې بیا فاحشه راته وویل نو په دې ډک بازار کې به دا ستن به ک...در ومندم.

د خوان سترګې زدې راختلې وې.

بېرته خپل ځای ته راغلم. زړو موچیانو سرونه ټیټ نیولي ول، خولې یې پټې وې، خو ګېډې یې کښته پورته کېدې، په ګېډو کې یې خندل.

ما ته هم د مکتب یوې ورځې نجلۍ خپلې خپلې را وایستې.

شپه وروسته مې د بوډا موچي خندا واورېده:

- یاره بلا یې بلا! سړی دې له دې ځایه ورک کړ.

ور ومې کتل، ځوان په دوړو کې پټ و، لیرې ځای ته یې جارو کاوه. شېبه وروسته یې د موچیتوب وسایل همالته یو وړل.

بوډا ته مې وویل:

- ګناه په شاتو کې نه ده، په مچانو کې ده. پاک شیان خدای پاک پیدا کړي دي، باید چټل شیان ترې لیرې کړو.

مازدیګر مې پیسې وګڼلې، پینځه جوړه بوټونه مې رنګولي وو. ژوند یو څه ښه شو، دومره څه مې موندل چې له لوږې مې ساتلو، وروسته مې دوه ورځې بېرته درې وخته کړه، خو په اول سهار مې د زوی ګېډه خرابه شوه، ولې به نه خرابېده! ګېډه یې له درې وخته خوراک سره نابلده وه.

زه به هر سهار سړک ته وتم، تر مازدیګره به مې بوټونه رنګول، ښه و، چا کار نه راباندې درلود، په چادرۍ کې پټه وم، عمر مې له ماتومېده، په رنګ رنګ کړیو تورو او خیرنو لاسونو ته هم چا نه کتل.

زه او خپل اولادونه مې ول، نه مې به چا کار درلود او نه چا کار راباندې درلود. له هېچا سره مې راشه درشه نه لرله، لېور مې هم نه پوهېده چې زه چېرته اوسم، څه کوم، له چا سره یم! زه ورکه وم، له ټولو، ان له ځول ځان او خپل ژونده هم ورکه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوا په سړېدو سره مې د ذغالو يوه زړه بخارۍ واخيسته. د منې په اخېره کې مکتبونه رخصت شول، لور مې په يوه مضمون کې مشروطه وه، زوی په دريو کې.

سپک مې نه کړل، نه ول ملامت، درس به يې خنګه زده کېده، نيم کال يې په اوبو کې لنده ډوډۍ خوړلې وه، خو د ژمې په اوله کې مې دواړه په کورسونو کې واچول.

يخنۍ ته مې نه کتل، ان د واورې د اورېدو په وخت کې به هم د دواړو سرکونو په مينځ کې ناسته وم، سپين بخرکي به راباندې تويېدل، خو باک نه راته، لا راته ښه وه، په اورښت کې به زياتره موچيان نه ول، ناروغه کېدل، خو زه به په ختو کې ناسته وم، پزه به مې بهيده، توخل به مې، د ځان غوندې، لندې، په ختو لړلې چرمې موزې به ماته راتلې، موزې به وخلبدې، تازه به شوې، خو زه به هماغسې په ختو ککړه ناسته وم.

ککړه دې وای، نو څه!

د ماشومانو په غومبرو کې مې سرخي پيدا شوه، له خندا سره روږدي شول، شونډې يې نه وتې.

يوه ورځ مې زوی له کورسه راغی، ژړل يې، جامې يې په ختو لړلې وې، وېې ويل چې د کورس تر مخې يوه هلک ووهلم، قلم يې په زور رانه واخيست.

پاکې جامې مې ورکړې، ورته ومې ويل چې خير دی، ته جنجال مه ورسره کوه، خو دوې ورځې وروسته بيا سرې سترګې راته ودرېد، پزه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينې وه. لور مې راته ووېل چې مور کرار راتلو، هماغه هلک يو وارې د
لندې واورې غونډوسکي راته ونيول.
زوی ته مې د هغه هلک کور مالوم و، دواړه ورغلو، پلار يې را ووت، په
نرمه مې ورته ووېل چې خپل زوی وپوهوه. سړي هېڅ ونه ويل، ولي به
بې ويل! له نرمي نو خدايکه دا خلک سترګه وکړي، لا يې تنده تروه
شوه، کور ته ننوت.
يوه شپېه ماتله شوو، بېرته رانه غی.
دوې ورځې وروسته مې زوی کورس ته نه ته. غوسه راغله، خو ده مرګ
تر کورس بنه ګاڼه. لور مې را وغږوله، اول يې څه نه ويل، خو وروسته
بې سترګې لندې شوې، سر يې وخړېد، په شرمبدلي غږ يې ووېل چې
تېره ورځ هغه هلک زما د ورور کوناټو ته لاس ور ووړ.
له خپل زوی سره د کورس په وره کې ودرېدم، زوی مې په وېره خپل يو
همزولی را وښود، هلک تک ژېړ و، خيرن غاښونه يې لرل.
وار له واره مې لاس ور واچاوه، ده چيغه کړه، زور يې وواهه، خو ما کله
په اسانه پرېښوده. زوی ته مې ووېل چې پتلون ترې وباسه. د زوی
سترګې مې رډې راختلې وې.
هلک کمر بند نه درلود، پتلون مې ترې کش کړ، ګروې (تکمه)
وشکېده.
زوی ته مې وکتل، هماغسې وارخطا ولاړ و، له خولې مې لاړې باد
شوې، ورته ومې ويل چې وژنم دې.

زوی مې د هلک پتلون کش کړ. هلک پر ځمکه کېناست. چیغې یې وهلې. زړل یې. خیال پتلون یې ټینګ نیولی و.

هلک ته مې وویل چې زما له اولادونو لیرې ګرځه، قسم! بیا وار به یې ګونه نه ناست یې.

بیه بنځه راغله. بوزې یې وهلم. فاحشه یې وګڼلم.

له خیال زوی سره کور ته راغلم. شیبه وروسته دروازه وټکېدله. ذهن مې مخکې له مخکې همدې شیبې ته تیار و. د پیازو چلچه مې را واخیسته د هلک پلار به دوه دوه کېده. سپکې سپورې یې ویلې. له خولې یې ځګونه بادبدل. ما سوکه دروازه بوزې کړه. خو ده د وره په لیخک کې پښه کېښوده. له چارې سره ور ووتم. ګاونډیان راغلل. ښه مې ورته وویل چې د ده زوی زما د زوی کوناټو ته لاس ور وړی و. ما پرتوګ ترې واېست.

بیه ګاونډې به راغلې سرې ور بوج وهل. وېې ویل چې زوی دې سه که، لوچک دی. د کوڅې ماشومانو ته په سپکه ګوري.

دوی بوبال ته کنځلې پیل کړې، ما کرار دروازه بندې کړه. کېږ ته راغلم.

په سبا مې بیا زوی کورس ته نه ته. ورېدم. خو ما ورياده کړه چې زه درسره یم. زړور اوسه.

غرمه راغي، ویل یې چې هغه هلک کورس ته نه و راغلی. خو بیا غرمه خوشاله و. هلک به خورند سر ترې تیر شوی و.

زوی او لور مې کېنول. وریاده مې کړه چې په دې وطن کې کمزورې ژوند نه شي کولای. دلته که دې نورو ته خوله جینګه ونیوله. دربلندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېژي، نه درته ګوري، پر ستوني دې پښه ږدي، له ګنبدو دې خوند اخلي، دلته په دوو پښو روان موجودات، ټول انسانان نه دي، لېوان هم شته، زړور به یاست.

دا مې هم ورته وویل چې له دې وروسته به له موره هېڅ هم نه پټوي.

اول ځرمنی (پسرلی) مې له بوډا موچي د بوټونو ګنډل هم زده کړل.

اوس مې پښې او لاسونه پر رنګ نه تورول، خدایې تور ول. د ژمي سوړ باد او د اوړي تود لمر رنګ ور اړولی و، ګوتې مې له شهوته وتلې وې، وینې ترې څڅېدلې.

خپلو چاودو، تکو تورو لاسونو ته خوشاله وم.

یوه ورځ یوه دنګه ښځه راغله، بوټونه مې ور ورنګول، دې د اوږې له بکسه وړه چرمي بټوه را وایسته، لسګون یې راته ونیو، لاړه.

ما یو بل بوټ را واخیست، په برس پسې مې وکتل، هماغه بټوه په خاورو کې پرته وه. ورو مې را واخیسته، د چادرې له وړو سوریو مې شاوخوا وکتل، خلک ګرځېدل. بټوه مې په چادرې کې وکته، سترګې مې ردې را وختې، څلور سوه ډالر او څه باندې یونیم زر اوغانۍ وې.

کراره ولاړه شوم، دا پیسې مې څو میاشتې بس وې، خو ډېر ژر مې زړه نا ارامه شو. په لاس کې نیولې بټوه درنه راته واېښېده، ډېره درنه.

پر زړه مې بوج راغی، ببرته کېناستم، له ځان سره مې وویل:

- طاهري! ته حرامو ته نه یې جوړه.

یو وار مې په ذهن کې د ملا صېب خبره را وګرځېده، ده هره جومه د جومات په لاوډسپیکر کې نصیحت کاوه، زیاتره خبرې یې لوڅې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زنا کيسې بې ډېرې په خپند يادولې. مشاېينه يې هم د ..... په اړه ول، ډېر کله به يې د ستې او تر مشال وامسه. ..... مياشتني ناروغى په اړه دومره لوڅ غږېدنه چې زه به په ..... اولادونو شرمېدم. خو کله کله به يې نورې خبرې هم کېدې. ..... چې که مو څه وموندل، نو دوې ډېر تلې کړې چې ..... يې صاحب پيدا نه شو نو نه ياست ملامت.

خو په ډک بازار کې به مې خنګه ناره کوله! ..... د بوټونو رنګونه او برسونه يې هم راته وړل.

بېرته مې زړه لږ کرار شو، له خان سره مې وويل:

- که راغله، نو ور به يې کم، که يې درک مالوم نه شو، نو نه به ..... ورځ ووته، خداى خداى مې کول چې بخښه را نه شي. په زړه کې مې همدا يوه دعا قبوله شوه، بښخه رانه غله. فکر مې وکړ چې ..... وبخښلې.

مازديګر خوشاله وم، خان او ماشومان مې تر يو څه وخته له ..... راوتلي ګڼل. پيسو ته مې په ذهن کې سم حساب وکړ، دالر مې ..... کړې. خلور سوه دالره څه کم ډېرش زره اوغانۍ راتلې. د ماشومانو د ..... مکتب جامې، بکسونه، بوټونه... مې نوې ليدل.

د کور په دروازه کې مې لا په اولادونو زيرى وکړ، زوى مې خوشاله و. خو لور مې تروه تنده نيولې وه. سپکه مې کړه، ورته ومې ويل چې نو څه وکم! زه به په ټول کابل کې د کوم کور دروازه ور ټکوم چې ..... اې خلکو، دا پيسې د چا دي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشاله وم، له زوی سره مې ژمنه وکړه چې تکه کباب به ورباندې خورم.
ده تکه کباب نه و خوړلی، د اخيستلو وس يې نه درلود، لور به مې ويل چې ورور يې ډېر وخت کورس ته نږدې د هوټل د کباب په لوګي کې ارته سپړمې ولاړ وي، د کباب په بوی نه مړېږي.
د بيندېو د پخولو په وخت کې مې نرمه سندره ويله، سندرې ته مې موزيک هم جوړ کړ، خمڅه مې له ډېګ سره لګوله، تنګا يې خدايي بنه راباندې لګېده. خو د لور غږ يودم غلې کړم. ويل يې چې په بټوه کې دوه کارتونه دي.
په بېړه مې ور وکتل، بټوې يو بل کوچينی جېب هم درلود.
کارتونه مې را واخيستل، يو د بانک کارت و، بل د دفتر.
د دفتر کارت مې واړاوه. شاته يې د تليفون شمېره ليکلې وه.
غلې ديوال ته ور وښوېدم، ولې مې ولګول، زړه مې نا ارامه و، کاشکې بټوې دا کوچينی جېب نه درلوداى، کاشکې کارتونه نه واى، کاشکې مې لور ړنده.
يودم غلې شوم، له ځان سره مې وويل:
- خدای دې يې نه ړندوي.
بېرته مې خپله خبره ترميم کړه، کاشکې مې د لور پر سترګو يوه شېبه تياره راغلې واى، يوازې يوه لنډه شېبه، دومره چې دا کوچينی جېب يې نه واى ليدلی.
لور ته مې غوسه راغله، دې بايد دا! کارتونه نه واى موندلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر په مخه کړم، د زوی شونډې مې همداسې وچې راته ښکارېدې، کباب یې خوب و.

د لور غږ مې واورېد:

- دېګ وسوځېد.

پزه مې کش کړه، د پیازو د سوځېدو بوی ته.

د ډوډۍ د خوړلو په وخت مې لور را یاده کړه چې ښځې ته باید تلیفون وکړم. خو زما زړه نه و، تلیفون مې بانه کړ، موږ تلیفون نه درلود. لور مې راته وویل چې د ښځې به اندېښنه وي، ورور به د ګاونډي له کوره مبایل راوړي.

بله بانه نه راته جوړېده. هېڅ مې ونه ویل، زوی مې ورغی، یو زوړ مبایل یې را ووړ.

شمېره مې ووهله، تلیفون مې غوږ ته ونیو، اه! که شبکې راته ویلي وای چې دا نومره په دستګاه کې نشته نو سوچې حلوا مې خیراتوله، خو زنګ تېر شو. یو سړی و، خان یې د یوې موسسې د اداري برخې مشر وښود، لنډې خبرې مې ورسره وکړې، د ورکې بېټوې خاونده یې کارمنده وه، مننې ته مې پرې نه ښود، ورته ومې ویل چې ښځه دې د بوټونو د رنګولو خای ته راشي.

سهار مې یو بوټ رنګاوه چې ښځه راغله، دعاوې یې کولې، ویل یې چې همدا یې د یوې میاشتې تنخواه ده.

تېښه شوه، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، په غبږ کې یې ونیولم، زما د چادرۍ پر خیرنه، سپېره خولۍ یې شونډې کښښودې. لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې ببکون ومووند، يوه شېبه داسې راته واېښېده لکه خداى چې زما پر سر لاس اېښى وي.

دوې ورځې وروسته بيا راغله، د ژوند پوښتنه يې رانه وکړه، هېڅ شکايت مې نه دراود، خو زما په ستن سوريو سوريو ګوتو او خيرنې زړې چادرې د غربت چغې وهلې.

ښځې رانه ووېل چې د تره زوى يې دوچو مېوو د پاکولو يو کوچينى شرکت لري، که هلته کار غواړې، خبرې به ورسره وکم.

نور مالومات مې ورنه وغوښتل، په شرکت کې يوازې ښځې وې.

خونه مې شوه، دوې ورځې وروسته نوي کار ته لاړم. په څلورو لوړو دېوالونو کې کوچينى خلاص ځاى و، د اهن چادر چت پر اوسپنيزو پايو ولاړ و.

په ببره مې پر پلاستيکي فرش ناستې ښځې تر سترګو تېرې کړې، اتو ښځو وچه مېوه پاکوله.

يوه بوډا وظيفه را وښودله، ما به يوازې له شنو مميزو سپېره ډکې ايستل. کېناستم، شاوخوا مې وکتل، دوو ښځو کوټه پراته بادام ماتول، يوې له ماتو کړېو چهارمغزو تور پوستکي جلا کول، بلې...

بوډا پر پلاستيکي څوکۍ ناست و، راډيو يې اورېده، کله کله به ولاړ شو، پر ښځو به راوګرځېد، بېرته به څوکۍ ته ورغى.

ښځو څرېدلې سرونه کار کاوه.

غرمه يې دودۍ راوړه، په غاب کې د لوبيا تر دانو خړې اوبه ډېرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولە ورځ مې يوه خبره ونه کړه. دا نه چې ما څه نه ويل، ډېرې خبرې وې، خو کاريګرو ښځو خوله نه چوله کوله.

ماښام کورته لاړم، د ډوډۍ پر وخت به مې کله کله د ښي لاس د دوو ګوتو نوکان بې اختياره سره وجنګېدل، له ممېزو د خلو د ايستلو عادت ورسره ته.

بل سهار په سالون کې خندې و، ښځو لاس راکړ، مينه تاکې راته وايسېدلې، دوی توکې سره درلودې، خو د بوډا په راتګ سره تولې غلې شوې.

سات وروسته بوډا ور وغوښتم، ورغلم، ويل يې چې د ممېزو په پاکولو کې سوکه يې.

دا خل مې ګوتې تيزې ښورولې، خو د بوډا د تندې ګونځې لا پسې ننوتې. وروسته راغی، په غوسه و، ويل يې چې درې ورځې دې امتحاني دوره ده، دومره ورو کار، نه کار. زړه ته مې نه لوېږي چې په درد وخورې. غرمه يوې ښځې راته وويل چې د کارخانې مالک ډېر وخت په دوبی کې وي، په هفتو يې نه وينو، تول واک يې همدې بوډا ته ور سپارلی دی.

ماسپښين مې د بوډا له غوسې ډکه ناره واورېده. ور ومې کتل، په جګو پښو د ماتو شويو بادامو کوټې ته ناست و، په ګوتو کې يې د مات شوي بادام سپينه توته نيولې وه. ده يوې کاريګرې ته غوسه کوله، ويل يې چې د ځتک له وارې سره پام کوه، بادام بايد له پوستکي روغ راووځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځې سر خوږند و، غلې ناسته وه، هېڅ یې هم نه ویل، خو دنګر لاس یې لړزېده.

بیا ماته راغی، په پاکو ممیزو کې یې توري ګوتې ننه ایستې، ډک رغوی ته یې ور پوه کړل، ممیز یې بېرته پر کوټه واچول، ودرېد، خو یودم بېرته کېناست، یو ممیز یې ور واخیست، خلکی یې پاتې و.

ممیز یې په دوو ګوټو کې راته ونیو. ما خلکی ترې وایست، ده خولې ته واچاوه، بې غاښونو ورې یې پرې تینګه کړه، له غروره ډکې ورې سترګې یې وځلېدې، دنیا یې فتح کړې وه، خو کور یې ودان، هېڅ یې ونه ویل، لاړ، پر خوکۍ کېناست.

په درېیمه ورځ له کار سره سمه بلده شوم، بلده له اوله وم، له ممیزو د ډکو ایستل جادو نه و، کوم خاص کمال یې نه درلود، خو اوس مې ګوتې تیزې خوځېدلې.

خوشاله وم، غم مې نه درلود، زموږ لوی ارمان وچه ډوډۍ وه. وچه ډوډۍ را رسېدله، خو کله کله به د بوډا رویې خوږلم. دی له ما سره سم و، پوهېدم چې د واسطې په خاطر سترګه رانه کوي، خو پر نورو ښځو تېز ورته، ډېر تېز. کله کله به یې له خولې سپکه خبره را ووته.

یوه ورځ د یوې ښځې پښه د اوبو له ډک جګ سره ولګېده، جګ پر کونه را تاو شو، ښځې چټک لاس ور وغځاوه، خو اوبه د شنو ممیزو تر کوټې لاندې وتې.

بوډا یودم پر ښځې منده ور واخیسته، پورې یې وهله، له خولې یې بې خونده خبره را ووته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سمه تکه شنه خره یې!

زړه مې اور واخیست، رنګه ښخه مې تر مټ ونیوله، ښخه کېناسته، ژړل یې.

یوه بله ښځه راغله، لانده ممیز یې لمر ته وایستل.

بل سهار مې زوی ناروغه و، کارته ناوخته ورغلم، بوډا راته وویل چې داسې کار، نه کار.

غلې ترې تېره شوم، خو په سبا یې بیا ناوخته شوم. په کوټه سنګې کې کوم چسپکې ماین الوتی و، یو ساعت لاره بنده وه.

بوډا ته مې د لارې د بندېدو وویل، خو دی په دوه دوه کېده، ویل یې چې هېڅوک مفته تنخوا نه درکوي.

اه! حوصله نه ده، خو هر چاته نه. څومره چې به غلې وم، د بوډا توهین ډېرېده.

لنډ مې وبوهاوه چې له تنخوا مې دوه ساعته پیسې وګرځوه.

ښځو حیرانې سترګې را واړولې، حیرانې یې پر ځای وه، پوهېدم چې دې سړي ته یوې ښځې هم داسې نیغه خبره نه وه کړې.

لاړم، د ممیزو کوټې ته کېناستم.

کفا راغله، بوډا ته مې وکتل، د راډیو چاینلونه یې اړول، یو وار به سندره راغله، بیا به یو چا خبرې کولې، وروسته به یوازې د شارټې غونډې کغ پورته شو.

پوهېدم چې دا د ډېرې غوسې نښه ده. دی به راته، ضرور به راته. د چاینلونو دا ډول اړول طبیعي نه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خره مې سمه وخته، بودا په جګو پښو راته کېناست، ويې ويل:
- هله نو! نور مې نه يې په کار، ورکه شه.
بيا مې هم حوصله وکړه. له ممېزو ډکې لپې ته مې ور پوه کړل.
بودا تر مټ ونيولم، چيغه يې کړه!
- ګونه ده که غوږونه؟! نه اورې! تاته وايم.
فکر ته وخت پاتې نه شو، د هغه پر مخ مې ور څپېړې کړې، غټه پزه يې په پنجه کې راغله، بودم يې چيغې کړې، شا پر تخته رنګ شو، پر تتر يې ور کېناستم، مخ ته مې يې سوکان ونيول. ښځې راغلې. په زور يې ترې ليرې کړم.
د بودا بخت ښه نه و، غټه پزه يې په سرو وينو کې پټه وه. موږ ناخونګير نه درلود.
بودا چټک له سالونه ووت. شېبه وروسته بېرته راغی، له وږو سترګو يې اور بادېده، خو څه يې ونه ويل، زوړ مبايل يې راته ونيو.
زما واسطه وه، وار له واره د کار د اخلاقو او اصولو په اړه راته وغږېده. هغه يې کوله چې ځان ارام وښيي، خو په غږ کې يې غوسه نه شوای پټولی.
لنډ مې ورته وويل چې خدای په امان.
ټليفون يې بند کړ. ما هم خپل بکس را واخيست، د بودا په سترګو کې غرور پروت و.
دروازې ته لا نه وم رسېدلې چې بودا بيا راپسې راغی. واسطه دا ځل نرمه غږېدله، نه پوهېږم، شايد پيدا شوي ځلور سوه ډالره به يې سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته درېدلي ول. له ما یې په کارخانه کې تر مازدیگره د پاتې کېدو غوښتنه کوله.

بېرته سالون ته ورغلم، د بوډا پر څوکۍ کېناستم. پښه مې پر پښه واړوله، یو رغوی پاک کړي ممیز مې خولې ته واچول. ښځو په حیرانۍ راته کتل.

بوډا راډیو ور واخیسته، کوټې ته ووت.

خبه نه وم. دا وار مې لوړه په زړه کې نه را گرځېده. اوس مې نو د بوټونو په گنډلو کې وړې وه. مازې دوه تغیره راتلل، اول، له سیورې بېرته لمر ته کېدم، دوهم، سپینو پښو او لاسونو له سره تورېدا رانه غوښته. مهمه نه وه. دا یې تور، ژوند یو رنگ نه و.

یو زوړ اخبار مې سترگو ته ونیو.

یو وخت کاریگرې ښځې یودم ودرېدې، شاته مې وکتل، واسطه له یوه درېشي کړې سړې سره راغله. سړې میانه ونه درلوده، غټې رنې سترگې یې وې، لنډه وېره یې گڼه وه، خو د ککرې سپین پوستکی یې، تر تورو کمزورو وېښتو روښانه ښکارېده.

ودرېدم. واسطې لاس راکړ.

سړې لاس وخوځاوه، ښځې کېناستې.

بوډا دوې پلاستیکي څوکۍ راوړې. پر یوې یې خپل زوړ څادر تېر کړ. سړې ماته د کېناستلو بلنه راکړه، زه هم پر خپل ځای کېناستم.

ما دا سړی تر دې دمه نه و لیدلی، خو د کاریگرو ښځو ولاړېدا راته ویل چې که وي، که نه وي، همدا د کارخانې مالک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي له کاريگرو سره په موسکا احوال واخيست. له دوی يې د جوړ ناجوړ پوښتنه وکړه، ويې ويل چې له کارونو يې خوشاله دی، وروسته يې خپلې ترلې ته وکتل، هغې د سترگو په اشارې زه ور وښودلم.

سړی ورو وغږېد، ده د کار قوانين او د خپلې کارخانې اصول تشريح کړل، ويې ويل چې په دې لسو کلونو کې يې چا په کارخانه کې کوم بل يوه ته لاس نه دی ور اچولی، په کار کې هر څه د زغم وړ دي، خو توهين او لاس اچول نه مني.

ده اوږدې خبرې وکړې، په ټيټ غږ غږېده، په هره خبره کې به يې اغلې راته ويل، خو دې احترام خوړلم، ما له دا ډول احترامه ښه خاطره نه دلوده.

په اخېر کې يې راته وويل چې يوې مهمې جلسې ته روان و، خو د خپلې ترلې له پاره يې لاره را کږه کړه، ويل يې چې دا موضوع به له نږدې وڅېړو.

وروستۍ خبره يې دا وه چې متاسفه يم، ماته د يوه سپين ږيري وهل او توهين د زغم وړ نه دي.

بوډا ته مې وکتل، وړې سترگې يې ځلېدلې.

سړی ولاړ شو، خبره خلاصه شوه، مانا نوره نو څه! مخ دې ورک که! خو ترلې يې مداخله وکړه، ويې ويل چې د دې خبرې هم بايد واورې.

سړي ساعت ته وکتل، بېرته کېناست. ماته يې وکتل، ويې وويل:

- څه ويل لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

- نه! مننه!

سرې خپلې ترلې ته وکتل، ماته یې مخ را واړاوه.

- دومره خو ویلی شې چې دا سپین ږیری دې ولې وواهه.؟! دی دې د پلار غوندې دی.

ومې ویل:

- خکه خو مې وواهه!

دواړو یو بل ته وکتل.

ومې ویل:

- سم وایې، دی هم زما د پلار غوندې گنده، مرداره او ناولې خوله لري، له سپکو سپورو پرته یې بل څه نه دي زده. پلار مې هم په ښځې لاس پورته کاوه، دی هم همداسې دی، خو پلار مې ښه و، خپله ښځه او لور یې وهله، دی خو پردی ښځې تر متو نیسي، پوزې وهي یې، شنې خرې یې بولي.

غلې شوم، ناستو کاریگرو ته مې مخ ور واړاوه. ومې ویل:

- بد وایم؟!

ټولې غلې وې، وارخطا ښکارېدې.

ومې ویل:

- د اولادونو تشې، تنوتې گېډې یې سترگو ته ولاړې دي، له ډاره څه نه شي ویلای، هره یوه د ورځې لس خله سپکېږي. توهینېږي او لاس ور اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړوره غم پېدم، څه مې له لاسه نه وتل.
ومې ويل:
ـ تا د کار قانون پوازې له بوې خوا حفظ کړی دی، خو د کار په قانون کې به دا هم ليکلي وي چې هېڅوک د کارېگرو د توهين او تحقير حق نه لري، هېڅوک دوی ته کنځلې نه شي کولای، هېڅوک لاس نه شي ور اچولای، هېڅوک خرې نه شي ورته ويلی....
دوی مې همداسې په حيرانۍ کې پرېښودل. کراره له کارخانې ووتم.
بايد حيران وای، دلته ځينې خبرې له فکر پرته وچې کلکې، هوايي منل شوې دي. که کوم ماشوم پر اوړو در سپور شو او ته يې سوکه له اوړو کښته کړې، نو له هرې خوا به دارې در ولوېږي چې دی خو ماشوم دی، نه به پوهېږي، ته خو پوهېږې. ها! سمه ده، دا يې ماشوم، نه به پوهېږي، يوه احمق به دومره نه وي ور ښودلې چې د بل کرکې په ډبرو مه وله، په کوڅه کې د ولاړ موټر رنګ ته مېخ مه نيسه. په سودا پسې له بل تلونکي ماشومه پيسې مه وړه، جنګ مه کوه، د لوېانو پښو ته پټاکي مه ور اچوه، په کاغذپران پسې پردو کورونو ته مه ور اوړه، د خلکو دروازې مه ور ټکوه، په کوڅه کې روانې نجونې په ډبرو مه وله. ...ښځو ته دا مه وايه چې خاله! کوم فلمونه دې خوښېږي، سيکس؟ خير، دا يې ماشوم، څه به نه ورته وايې.
که کوم مشر درباندې ګرم و، بيا هم ستا مخ تور دی. دی چې هر څه کوي، کوي به يې، حق نه لرې چې پورته ورته وګورې. که دې وکتل، بې ادبه يې. که دی په خلورو روان هم وي، يو فوقيت لري، مشر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاړ هم همداسې در واخله، که قتل زوی وکړ او په بدي کې یې د قاتل زوی د ژوند له پاره لور قرباني کړه، هېڅ خبره نه ده، که یې پیسې درباندې واخېستې او اوبا گلن ته یې کېنولې، بیا هم پلار نه دی ملامت، له خپل قسمته به یې گني. که یې په څوارلس کلنی کې په قمار کې وارولې، یوه قمارباز، پوډري او شرابي ته یې کېنولې، بیا هم پلار د خپل اولاد بد نه غواړي، خیر به دي په همدې کې وي. ان د ورې گیلې حق هم نه لري. ښکه چې پیدا کړې یې یې، دوډی یې درکړې.

اه! پېشکه هم خپل پېشونگوري لوري ته نه پرېږدي، تول ورځ گرځي، گرځي، گرځي، دومره څه ورته راوړي چې ویې ساتي او له احسان پرته یې لوی کړي.

خو دلته همدا یوه خبره هم بس ده چې پلار پیدا کړې یې، وه بابا، ولې یې پیدا کولم؟! ما خو نه و ورته ویلي چې پیدا مې که، بس، خپله لتې او سختې یې وه، د پېنځو روپو کاندم یې وانه خیست. له ښځې سره پربووت، یوه شپه کښته پورته شو، وسونگېد، سره ساه یې وایسته، احسان یې پر خپل اولاد واچاوه چې وگوره! په څومره زحمت مې پیدا کړې.

څه! انساني غریزه او حلاله نکاح ده، تول کال په کال بچي راوړي، یو یې بیا دی، وروسته خو خپل مسولیت وپېژنه، تر هغه پلار خان ښار که چې مینه درکړي، خوراک، جامو، صحت، تربیې او درس ته دې پام وکړي، له نورو دي وساتي او خپل مسولیت ومني. که احسان درباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچوي هم بده نه ده، دليل لري، نور پلرونه د خپلو اولادونو په کيسه کې نه دي، خو دی مسوليت پېژني، پيدا يې کړي، کوڅې ته يې ونه سپارلې، پام دربانديې کوي او په سخته کې درسره دی.
خو هغه پلرونه د احترام وړ نه دي چې پيدا دي کړي، خوراک، څښاک، صحت، جامې، تربيه او مکتب دي خدای ته حواله کړي او په ماشومتوب کې دي د قمار په يوه داو کې واروي.
نه هر ماشوم د ترحم وړ دی او نه هم هر مشر په احترام ارزي. نه د هرې مور تر پښو لاندې جنت پروت دی او نه هم هر پلار د دعا وړ.
مور ته همداسې ويل شوي دي، زما هغه ماشوم تر اوسه بد ايسي چې زما د زوی کوناټو ته يې لاس ور وړی و.
زه به د هغه مشر او ملا هيڅوخت احترام ونه کړم چې مامور قدوس يې ملايکه ګڼله او زه بې عزته ورته ښکاريدم.
زه به هغه پلار ونه بخښم چې د امتحان له پاره مې امادګي نيوله، غوښتل مې چې د پخوا غوندې اول نومره شم، خو دی راغی، کتاب او کتابچه يې په لغته ووهل، ويې ويل چې نور دا شيان در ټولوه، په درد دې نه خوري، په قمار کې مې وارولې، ځان تيار که، راتلونکې هفته دې واده دی.
ځينې قضاوتونه له اوله منل شوي دي، هېڅا ته غلط نه ښکاري، ان دومره زړه هم نه لري چې د سم او ناسم په اړه يې فکر وکړي، د کارخانې مشر هم همدا باور درلود، د بې حيثيته بوډا حيثيت تاواني شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته مې لاسونه تور کړل، لمر ته کېناستم. خو د موچيتوب په اوله ورځ لا واسطه ښځه راته ودرېده، خندل يې، ويل يې چې ستا له تګه وروسته مې د تره زوی د بودا په غياب کې له کارېګرو ښځو سره وغږېد، يوې هم له سرې ښه خوله نه وهله، د تره زوی مې زاره سړي ته خواب ورکړ.

زه غلې وم، دا زما په زړورتوب ميينه وه. اخبر يې وويل چې بېرته به خپل کارته ورځم. خو ما نه منله، په همدې موچيتوب مې اولادونه مړېدای شوای.

دا خفه راته لاړه، خو بله ورځ بيا راغله، دا ځل ډېره تينګه وه.

بل سهار ورغلم، کارېګرې ښځې راته خوشاله وې، دعاوې يې کولې، ويل يې چې د بودا له سپکې خولې دې وژغورلو.

ځرمې ته واسطه راغله، ويل يې چې د تره د زوی مې خوبنه شوې بې، د بودا پر ځای يې تاته د همدې اتو ښځو مشري در وسپارله.

تر مازدېګره نا ارامه وم، د (خوبنه شوې يې) تکې همدلته نه خلاصېده، لګی يې درلوده.

بل ماسپښين بودا راغی، خپله در په دره ورغ يې ياده کړه، په ژړا کې يې راته وويل چې خدای به کوي، ته به کوې.

بودا ته مې تمه ورنه کړه، دی نا امېده د باندې ووت.

له ښځو سره وغږېدم، زړونه يې د بودا د زره غوندې ډېرې نه وې، نرم وو، ويل يې چې بودا خپلو زامنو شړلی دی، نه کور لري نه اور.

واسطې ته مې تليفون وکړ، بودا بېرته کارخانې ته راغی. دا ځل کرار و، خوشکې يې نه کولې، خو له ډېر احترامه به يې سترې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيني کسان دي په ښو تر هغه نه پوهېږي چې ورته بد نه شي. اول به بدېږي، بيا به ښه ورته ښکاري، بوډا ته ښه ښکارېدم، ډېره ښه.
وخت ښه تېرېده، ژوند ښه و ، کور او کارخانه.

د اولادونو جامې مې نوې وې، دواړه مکتب او کورسونو ته تلل، زوی مې د مازديګر لخوا کلپ ته ته. په کمو مو قناعت کاوه، خوشاله وو. خو يوه شپه تېز باران ووريد؛ چت سوری شو، زه او اولادونه تر سهاره په جګو پښو ناست وو.

د کور خاوندې د کوټې چت جوړ کړ، خو نم ورک نه شو. ما او اولادونو ته مې د پښو دردونه پيدا شول.

بله چاره نه وه. کډه مو څو کوڅې لاندې يووړه. نوي کور دوې خامې کوټې درلودې، يوه يې لمر ته وه، پر بلې د څنګ د دوه منزله کور سيوری پروت و. خو يوه ښېګڼه يې درلوده، بېل کور و، په غټه حويلۍ کې لمر ته ازاده ګرځېدای شوای، خو لنډ وخت وروسته همدا ګرځېدا هم راباندې ودرېده، يوه ورځ د څنګ د کور د دوهم منزل پرده وخوځېده، فکر مې وکړ چې کوم ماشوم دی، خو بل مازيګر مې په نيمګښه پرده کې ډېل بريتونه ولېدل.
ان په خپله حويلۍ کې به مې هم د جامو د وېرولو پر وخت چادري اغوسته.

ما هېڅ نه و کړي، غلې به خپل کارته تلم، خو په يوه هفته کې ټوله کوڅه خبره وه، څوانه، جانه ښکلې کونډه يوازې اوسېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونډه نارینه وو ته تیاره گوله وه. لېدو ته به یې باڼې پیدا کولې، خو د کوڅې ښځو لمنې رانه ټولولې، دوی ته سمه چټلې ښکارېدم.

په دې تنګه اوږده کوڅه کې به د ملا له اذان سره دروازې خلاصې شوې، زیاترو یې اوږدې ږیرې درلودې، خینو ته د جومات فرش ناولی ښکارېده، جاینمازونه به یې پر اوږو ول، پایڅې به یې تر زنګنونو ور پورته کړې وې، په یوه او بل اندې به تلل، خو زما د کور تر مخې به ورو شول، لکه په سخوندر چې د غویمې غوا بوی ولګېږې، سپږمې به یې وېږې شوې، پزې به یې پورته ونیولې، بوی به یې وکیښ، رمبارې به یې کړې، بېرته به یې د خدای کور ته مخه کړه. دوی خدای یوازې په پورته کړیو پایڅو کې لید.

خبرېدم، رنګارنګ خبرې راتلې، زیاترو یې د امریکایانو په دفترونو کې لوڅه لېږه لیدم. دوی ته هغه ښځې له دین او حیثیته وتلې ښکارېدې چې له کوره به توله ورځ ورکې وې.

یوه ورځ یوه زړه ګاونډۍ راباندې مهربانه شوه، چټلې یې وزغمله، راغله، ما له چایو ډکه پیاله ورته کېښوده، دې د زنا ګناوې را یادې کړې، لوڅه یې د دوزخ په سرو لمبو کې ودرولم.

باک نه راته، دا یې د دوی په خبره په سرو لمبو کې ولاړه، نو څه؟! زه په دې دنیا کې لا سوځېدلې وم، ما باید د خپلو اولادونو له پاره دا خبرې منلې وای.

خو د دې تنګو او چټلو کوڅو اوسېدونکې د همدې کوڅو غوندې چټل ول. کار ته د تلو په وخت به مې سمې کنځلې اورېدلې، د دوکان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ناستو سپينږيرو او خوانانو فاحشه بللم، وروسته نبغ راته ودرېدل، ويل يې چې هله نو! بار او بستره دې تړه، ، ورکه شه، زموږ خوانان مه بې لارې کوه.

ولې به مې بې لارې کول؟! نه پوهېدم، ما خو چاته نه و ويلي چې راشه، راسره پرېوزه. دوی به سهار او مازديګر زما د کور تر مخې ولاړ ول.

سترګې به يې نه رانه اړولې، ان زما زړې، سپېرې چادرې ته به يې هم د مخې لمنې پورته راختلې وې.

زه په دې سپينو پاکو او سپېڅلو خلکو کې تور داغ وم.

بله ورځ د جومات ملا راغی، ده تر اخيره راته ونه کتل، سترګې يې ټيټې وې، زما پټ مخ ته کتلو هم ګناه درلوده، ده په ډېر احترام له ما د کور د پرېښودلو غوښتنه وکړه. ورته ومې ويل چې سمه ده، خو ما دلته د يوې مياشتې پېشکې کرايه ورکړې ده.

په سبا يې تر يوې مياشتې ډېره کرايه راته ټوله شوه، چټلې بايد دا مقدس ځای پرېښې وای.

يوه هفته به هر مازديګر د خوشال خان په کوڅو کې ګرځېدم. تمه مې وخته، دلته د کور کرايې ډالر غوښتل.

نه کېده، بېرته تنګو کوڅو ته ورغلم، کورونه ول، خو ګډ، اخير مې يو ارزانه کور وموند. کور نه و، د موټر له ګراجه يې يوه تنګه کوټه او تشناب جوړ کړي وو، خو ښېګنه يې دا وه چې سړک ته نږدې و، د مقدسو خلکو نه راپام کېدل. لنده به سړک ته ور وختم، موټر ته به مې لاس ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ درې کاله په همدې یوه کوټه کې تېر کړل. نه مو په چا کار درلود او نه چا کار راسره لاره. شناخت بنه و، پام مې غلطېده، زړه مې تښبده،، ستړیا مې ونه، خو ماته یې ستونزې پیدا کولې. ان په دې موده کې د ځنګ ګاوندی ته هم ور نه غلم، له خلکو سره په فاصله کې مې ځبل خیر لید.

یو ځل مې لبور له موټره ولید، د چادري وړو سوریو ته مې هم لاس ونیو.

زما تول ژوند زما اولادونه ول.

اولادونو ته مې یو مستعمل تلویزیون واخیست، لور به مې د ورځې یو ساعت درامه لیدله.

ماخستن به مو تر خبرو خندا دېره وه، خو وروسته مې لور یودم خوابدې شوه. ډېره خوابدې.

غلې وه، زما هرې پوښتنې ته به یې لنډ ځوابونه راکول (هو) یا (نه). کتاب به یې مخې ته پروت و، خو دې به دېوال ته کتل، له ډودۍ ژر ولاړېده.

په لنډه موده کې یې رنګ ژېړ شو، سترګې یې پکې را وختې، وچه کلکه شوه، کله کله به یې ژړل.

ډاکټر ته مې وروستله، اورده نسخه یې ورته ولیکله، ویل یې چې نجلۍ زور خفګان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لور سره کېناستم، خبرې مې ورسره وکړې، ورته ومې ويل چې څه غم لرې! وايه، څه غواړې؟ ځان به ګرو کم، تا ته به ستا د خوښې شی واخلم.

دې يوازې راته کتل.

اولادونو مې هېڅ خبره نه راته پټوله، همداسې مې عادت کړی ول. دوی هم کومه بله چاره نه درلوده، له ما پرته يې بل څوک نه درلودل، هم يې مور وم او هم پلار، زړونه به يې ماته تشول، خو دا ځل نجلۍ غلې وه، ډېره غلې. ورته تېنګه شوم، ويې ويل چې هېڅ خبره هم نه شته.

خبره وه، حتما وه، خفګان بې دليله نه وي، خامخا دليل لري، خو لور مې دليل نه وايه.

بومازديګر مې ورته ووېل چې خامخا به راته وايې، دا غلې وه، خو ما په ګراره نه پرېښوده، د دې خبرې مالومول مهم ول، بودم غوسه ورغله، ډېرې بې وهلم. تشناب ته ننوته، ور يې وتاړه.

اوا! ما تر دې دمه له اولادونو ترخه خبره هم نه وه اورېدلې.

چورت يووړم، دې کوم مشکل درلود؟ نه پوهېدم. په غربت کې مې د اولادونو جامې نوې وې، خوړه ورسره غړېدم، مکتب ته به دواړو يو يو لسګون وړل، زوی مې کلپ ته تلو، په دوو هفتو کې مې خامخا دواړو ته يو يو خوراک تکه کباب اخيست.

د لور خفګان تاثير راباندې وکړ، ګوتې مې ورو شوې، په بسته ورخ کې مې چارک مميز نه پاکول، خو د خوشکې څوک نه ول. بودا به يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه خندل. يوه ورخ يې سيبلني راته ودودول، ويل يې چې بدې سترګې به در واوړي، په کار کې ډېره تېزه يې.

نجلى مې بيا ډاکټر ته ور وسته، نسخه يې بدله کړه. خو ويې ويل چې دا د دوا کار نه دی، د خفګان علت به پيدا کوې، علت به له مينځ وړې.

کوم علت؟ نه را مالومېده.

يوه شپه مې د لور خندا واورېده. په خوب کې يې خبرې کولې:

- رامينه! مه! ايسکريم دې راباندې چپه کړ.

زړه مې اور واخيست، اول مې د نجلى اوږې وخوځولې، بيا مې ګرېو ولګاوه، نجلى په خاى کې ناسته وه، حيران يې راته کتل.

په ولاړو مې وويل:

- رامين څوک دی؟!

د نجلى سترګې ردې راوختې. سر يې وخوځېد.

مخامخ ورته کېناستم، ومې ويل:

- زما ځواب دې رانه کړ.

نجلى غلې وه.

ومې ويل:

- په خوب کې دې رامين ياداوه.

سر يې پورته نه کړ.

يودم مې تر څنو ونيوله، نجلى چيغې کړې. زوى مې په خپل خاى کې کېناست. په خوبولو سترګو کې يې حيراني راګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت مې پام شو، د لاس پر ورغوي مې وينه پرته وه.

دېوال ته ور وښوييدم، همالته کېناستم. پرتې نجلۍ ته مې وکتل، پزه يې وينې وه.

يودم مې وژړل.

زوی مې راغی، زما پر اوږه يې لاس کېښود.

ورو يې وويل:

- ادې! څه خبره ده؟

ګروپ مې مر کړ، په کمپله کې ننوتم، تر ډېره خوب نه راته. يو وخت مې سترګې رنې کړې، لمر د کوټې له کوچينۍ کړکۍ را لوېدلی و.

دېوال ته مې وکتل، د اولادونو د مکتب جامې نه وې.

توک توک وم، هومره هم نه. کار ته تلای شوای، خو ښځې مې نه تلې.

غرمه مې اولادونه راغلل. لور ته مې هېڅ ونه ويل، ښه نه و، زوی مې خبرېده، خبره مې مازديګر ته وساتله.

مازديګر مې زوی کلپ ته لاړ. له لور سره کېناستم، د رامين پوښتنه مې ترې وکړه، سر يې خوړند و، خوله يې په امبور نه خلاصېده.

د لور نسخه مې را واخيسته. سړک ته ووتم، ما مبايل نه درلود، د يوه دوکاندار له مبايله مې ډاکټر ته تليفون وکړ، د ډاکټر په ياد نه وم، سم يې وپېژندم. ورته ومې ويل. يوازې زما لور خو نه وه، د ورځې ډېر ناروغان ورتلل. ورته ومې ويل چې لور مې دوه ځله درسته، اوس يې د خفګان علت مالوم شو، نجلۍ مينه راته ښکاري. ډاکټر لنډ راته وويل چې مينه زور خفګان لري، له غوسې کار مه اخله. دا ستونزه په کراره حل که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببرته کور ته راغلم، تلویزیون لګېدلی و، خو نجلی دېوال ته کتل.

بیا مې خبرې ورسره وکړې، ومې ویل چې ته لا تر اوسه په لسم صنف کې یې، وړه یې، دا خبرې دي له درس او ژونده باسي.

دې یوازې را وکتل. غټې سترګې یې له اوښکو ډکې وې، بېرته یې سر وځړېد.

زړه مې اور واخیست، خو بله خبره مې ونه کړه، پوهېدم چې دا د کرارۍ کار دی.

ورځې تېرې شوې، نجلی ونه خندل. یو مازدیګر یې ژړل.

ما مینه نه پېژندله، د مینتوب وخت مې ونه موند، په کوچینیتوب کې واده شوم، خکه په مینه نه پوهېدم، درد یې نه و رامالوم، اوس مې دا درد په خپله لور کې لید.

تر څنګ یې کېناستم، کراره مې را رنګه کړه، نجلی زما پر اوږه سر ولګاوه. ژړا یې تېزه شوه، په ژړا کې یې وویل:

- ادې! زه یې هم خدایکه غواړم، خو نه کېږي، رامین له هېرېدو وتلی دی.

د هغې په ګنو وېښتو کې مې ګوتې تېرې کړې، ومې ویل:

- رامین څه کاره دی؟

غریو واخیسته:

- انجنیري وایي.

څنګه مو سره وپېژندل؟

نجلی غلې وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه مې تکرار کړه:

ـ ځنګه مو سره وپېژندل؟

نجلۍ وویل:

ـ یو سهار مکتب ته تلم، له شا يې راپسې غږ وکړل، وېل يې چې قلم درنه ولوېد.

سم يې وېل، بکس مې سوری و.

بل سهار مې بیا ولید، کتابونه يې په لاس کې وو. دواړه یوه ټونس ته ور وختو. زما کرایه يې ورکړه، خو تر اخیره يې راته ونه کتل.

بیا مې ونه لید، خو یو سهار مکتب ته تلم چې یو موټر راته ودرېد، ور ومې کتل، هماغه هلک و، ویل يې چې هسې مو هم لاره یوه ده، که دې زړه وي، شاته کېنه.

منته مې ترې وکړه، موټر ته ور ونه ختم. ده هېڅ ونه ویل، روان شو. څو واري مې بیا تر ځنګ تېر شو، راکتل به يې هم نه، خو بوه ورځ په خپله ورنه ودرېدم، خدای خبر چې ولې! نه پوهېدم، خو زړه مې درېدا غوښته، پښې مې نه راسره تلې. ودرېدم. یو وخت د موټر د شا په سیټ کې ناسته وم. ده یوه خبره هم ونه کړه، مکتب ته نږدې له موټره کښته شوم.

وروسته به په خپله ورته ماتله وم، په کوم سهار چې به رانه غی، تو له ورځ به مې پر سر درد و، خو ښه و، رامین دېره غیرحاضري نه کوله، موټر به راته ودرېد، د شا سیټ ته به ور پورته شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامبن به ډېر وخت غلی و. خو کنه که به یې د موټرو بېروبار زیات خو شکایت به یې کاوه. له ده مې هېڅوخت سې باکه خبره نه اورېده وروسته د غرمې له خوا هم ورسره راتلم. دواړه تقریبا به یوه وخت رخصتېدو، یا به دی زانه مانله ویا زه.

نجلی غلې شوه. ومې وېل:

- نور؟

- هیڅ! همدا!

- بل څای نه یې ورسره تللې؟

خدایزده د نجلی په ذهن کې سرخې له کومه شوه. ورو یې وېل:

- دوه ځله یې ایسکریم راباندې وخوړل.

ومې وېل:

- ملک هم درباندې میین دی؟

غلې وه.

فکر مې وکړ، دا خبره باید یو طرفه شوې وای. نجلی ته مې ووېل چې غواړم ملک ووینم.

دا وارخطا شوه. خو ما له دې خوان سره غړېدا غوښته.

دوې ورځې وروسته مې لور د ملک نومره راوړه. زنګ مې ورته وواهه، ملک زرور و. فاضل بېک ته مې را وغوښت. فاضل بېک د کمپنی او کونه سنګې به منځ کې دی. د غزنې د موټرو اډه ښه ادرس و. نه یې غلطوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لور سره ورغلم. لور مې بوه سپينه زړه کړولا را وښوده. تر لور مې ګامونه ګړندي کړل. د موټر بنده ښيښه مې وټکوله.

يوه ښکلي ځوان ښيښه ټيټه کړه، وروبې وويل:

- معاف که! ماتې پيسې نه شته.

نه و ملامت. ما لا خپله چادري نه وه نوې کړې. د چادرۍ د نوې کېدو وس مې درلود. خو زړه چادرۍ راته ښه وه. همدې خبرې، زړې ټوټې له مردارو سترګو ساتلم.

ځوان بوټم دروازه خلاصه کړه. بخښنه يې وغوښته. ده زما تر ځنګ زما واړه لور ليدلې وه.

ځوان اوږدې ښورې سترګې درلودې. د مخ سپين پوستکي يې صاف و. د تورو ويښتو څوکې يې پر وروځو پرتې وې. غاړه يې په برګ دسمال کې پټه وه.

له سلام وروسته يې په ډېر احترام له مور هيله وکړه چې دلته د سړک سر دی، موټر ډېر تېرېږي. د خبرو له پاره به کوم مناسب ځای ته لاړ شو. خو ما هماغه ځای ښه وګاڼه.

هماغه مې په واړه و د ده د کوزني په اړه معلومات ترې وغوښتل. ده وويل چې په کور کې دوه وړونه يو. کور يې خپل دی. مور يې دا ډېر وخت ناروغه ده. له ځايه نه شي پورته کېدای. پلار يې په ده افغانانو کې دوکان لري...

دوهمه خبره مې له لور سره د واده په اړه وه:

- زما له لور سره واده کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړور یې راته وویل:

ـ هو.

ـ خو زه شرطونه لرم.

نېغ یې راته وکتل.

ومې ویل:

ـ لور مې ښېل کور غواړي.

ویې خندل:

ـ اسانه دی.

ـ نو ته دومره پیسې لرې؟

ـ پیدا کوم یې.

ـ له کومه؟

ـ خدای لوی دی.

د خدای په لویي کې نو ما هم شک نه درلود، خو ځواب یې قانع نه کړم، خدای کور نه ورته جوړاوه.

بله پوښتنه مې وکړه:

ـ له خپلې کورنۍ به بېلېږي.

ـ پوهېږم، ښېل کور یانې له کورنۍ بېلېدا.

ومې ویل:

ـ زما لور دومره دربانديې گرانه ده؟

ـ د هغې له پاره مرگ منم.

ـ رښتیا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبې خندل:

ـ نو ته يې نه منې؟

ومې ويل:

ـ د غاړې دسمال دې راکوې شې؟!

هلک په حيرانۍ راته کتل.

ومې ويل:

ـ د غاړې دسمال!

هلک دسمال راته ونيو. شاته يې ودرېدم، سترګې مې ور وتړلې.

لور مې وازه خوله نيولې وه.

ومې ويل:

ـ که تر دې سړک په منډه واوښتې نو لور مې ستا شوه. اوس، همدا

ګړې. تر لاس بې نيسه، خه!

خوان ولاړ و.

ومې ويل:

ـ سل په سلو کې نه مرې، پنځوس فيصده د ژوندي پاتې کېدو چانس

لرې، لور مې په پنځوس فيصده چانس نه ارزي؟!

هلک يودم دسمال له سترګو لېرې کړ، له خولې بې لاړې باد شوې:

ـ ته لېونی يې، وژنې مې!

په موټر کې کېناست، تور ټايرونه وګرېدل. د راېږ سوځېدلې بوی مې

سږمو ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور مې يودم وژړل. همالته د سړک پر غاړه پر سيمټي جدول کېناسته

په ژړا کې يې وويل:

- تا د ملندو له پاره راغونښتی و!

ومې ويل:

- نه، خو ده ويل چې ستا له پاره تر ژوند تېر دي.

- دا ملندې نه وې، نو څه وې! کوم څوک به هم په دې تېزو موټرو کې پټې سترګې تر سړک تېر شي!

تر څنګ يې کېناستم، ومې ويل:

- دا هلک ماته په واک ښکاره نه شو.

لور مې راته و هم نه کتل.

ومې ويل:

- دا هلک دې بدبخته کوي، په اول ځل مې ليد، خو له يوې پردې ښځې سره زړور غړېده. داسې راته واېسېد لکه له ډېرو ښځو سره چې غړېدلی وي.

لور مې دا ځل نېغ راته وکتل، په سترګو کې يې له ما کرکه پرته وه.

ومې ويل:

- بله خبره! دی ستا له پاره تر ځېلې کوزنی او ناروغې، شلې مور تېر و، چا چې مور او کوزنی درته پرېښودې، يوه ورځ تا هم د کوم بل له پاره پرېږدي. په داسې خلکو له حده ډېر باور، له حده ډېر تاوان لري.

نجلۍ غلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

- نور به له دې هلک سره نه وینې.

څه یې ونه ویل.

چیغه مې کړه!

- پوه شوې؟!

نېغ یې را وکتل. په لندو سترګو کې یې بغاوت پروت و.

ومې ویل:

- سمه ده.

په چادري کې مې غبرګ لاسونه ننه ایستل، د چادري خولۍ مې تر سر پورته کړه، په هوا کې مې وګرځوله، د چادري واړه سوري مې شاته کړل. هېڅ مې هم نه لیدل. یودم مې پر سړک منډه ور واخیسته، کڼ شو، پرله پسې تېره هارنونه راغلل، نورې کڅاوې مې واورېدې، کڼخلې او هارنونه سره ګډ ول.

یو وخت یو چا تر مټ ونیولم، د لور ژړا مې واورېده، بېرته یې شاته بوتلم. چادري مې پورته کړه، د سړک په مینځ کې څو موټر کاږه ولاړ ول، د یوه مخه بېرته د کمپنۍ خواته تاو شوې وه.

موټروانان ډونګېدل. نارې یې وهلې، دیوه چیغې تر ټولو تیرې وې، ویل یې چې دې لېونۍ ته خنخیرونه واخلئ، کلکه یې تړئ.

لور مې ژړل.

ورو مې وویل:

- یو به غواړې! یا مور، یا رامین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور مې چيغې وهلې، له رامينه تېره وه.

ورځې ووتې، د رامين په اړه نه ما څه وويل او نه هم نجلۍ، خو دا د پښوا غونډې خفه وه. نه يې خوب درلود او نه خوراک، پوهېدم چې رامين يې له زړه نه وځي.

زه به کار ته تلم، تو له ورځ به ورکه وم، ماښام به مې له کوټې سنګې د ډېګ سودا راسره راوړه، دودۍ به مو وخوړه، تول به غلې پرېوتو.

لور مې په څلور نيم مياشتني امتحانونو کې په دوو مضمونونو کې پاتې وه.

ورباندې غوسه نه شوم، دومره مې ورته وويل چې عاقله او بالغه يې، تصميم دې خپل دی. که له رامين سره واده کوې، په مخه دې ښه.

دې وژړل، خو ما اوښکه هم تويه نه کړه. که انسان وای او زه يې خپل خان ګڼلای، نو زه به يې درک کړې وای، زما سختې، لوږې، تندې او له دوی سره خوارې به يې سترګو ته درېدلې وه، که نه وه، نو نه به وه.

څه مې کوله. د هغه چا دنيا اوسه چې ته يې دنيا يې. زه اوس د دې دنيا نه وم، خپل ژوند يې و، نور له دېرو نصيحتونو کانګې راتلې.

يوه ورځ د کارخانې بودا راته وويل چې رييس غوښتې يې!

اه! دا يې لا بل غم.

مجبوره وم، ادرس مې ترې واخيست.

دومره پوهېدم چې د کارخانې مالک يوه بله کارخانه هم لري، خو ما تر دې دمه نه وه ليدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلم. کارخانې په عمر بوخ خوکیدار درلود. خو دروازه یوې زړې ښځې راته خلاصه کړه.

د لوبې تکې شنې حوېلۍ په سر کې دوه منزله ښایسته تعمیر ولاړ و. ورننوتم. په یوه لوی سالون کې د یوه اوږده میز دواړو خواوو ته ښځې ناستې وې، ټولو سپینې جینې. لږ شنه ټیکرې او شنې دستکښې لرلې. دوی پاکه کړې وچه میوه په وړو پلاستیکونو کې اچوله.

زړه ښځه یورته وخته، زه هماغه مانله شوم. ښخو خپل کار کاوه، ټولې غلې وې. یوې بلې خواته یې نه کتل. بوازې د پلاستیکونو کړپا اوریدل کیدله.

په پلاستیکونو کې اچول شوې میوه یوه لوی ماشین ته ورتله. هلته کارتن کیدله.

زړې ښځې را غږ کړل. یورته ور وختم. یوه دروازه یې راته خلاصه کړه. ریس مې له یودا سره له دعوې را وروسته نه و لیدلی.

ده توره دریشي اغوستې وه، گوتې یې د کمپیوتر په کیبورډ چټکې خوځېدلې.

ماته یې وکتل، ودرېد.

زړې ښځې دروازه پورې کړه. په خپله مخه لاړه.

سرې وخندل، له مابې پر پسته خوکۍ د کیناستلو غوښتنه وکړه.

اه، دې خندا او دې پراخېتوب خوړلم.

چاره نه وه، خوکۍ ته ورغلم.

ده خپل ځای پرېښود، ماته مخامخ نږدې کیناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول يې د کورنۍ د جوړ ناجوړ پوښتنه رانه وکړه، لنډ ځواب مې ورکړ وروسته يې د کارخانې احوال رانه واخيست، بيا يې بوډا مينځ ته را واچاوه، څو ټوکې يې وکړې، ټکی خندا يې نه درلوده، خو په ټوکو ټوکو مې بوډا ته سپکاوي حس نه کړ. ده خندل، خو زه غلې وم. د ده بې دوله اوږدې خولې، خندا او ټوکو خوړلم.

اخير يې راته وويل چې په همدې شرکت کې يې يوې کاريگرې کار پرېښود، ته مې ښه وګڼلې، دا کار يو څه پام او چالاکۍ غواړي، که دې خوښه وي له دې وروسته به دلته راځې.

څه به مې ورته ويل، له مجبوريته مې هم خوښه وه.

ده چای را وغوښت، خو ما مننه ترې وکړه.

سبا نوي ځای ته ورغلم.

مشر له خپله دفتره راکښته شو، نورو کاريگرو ته يې ور معرفي کړم، يوې چاغې ښځې ته يې وويل چې ماته زما وظيفه را وښيي.

دی بېرته دفتر ته وخوت. دفتر يې غټه ښيښه درلوده، په ناستو مالومېده، ښيښه د سالون خواته پرې وه.

ښځې سينه چينه، دستکشې او شين لنډ ټيکری راکړ، دلته همدا لباس جبري و، وروسته يې کارتنونو ته وروستم. وې ويل چې دا مېوه دوبۍ او هندوستان ته ځي، هغه کارتنونه ترې ښل که چې لېبلونه يې کاږه لګېدلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار اسانه و، پېنځه، پېنځه نیم سوه کارتنه مې ولېدل، یوازې پېنځه کارتنه مې بېل کېښودل. چاغې ښځې ته ورغلم، ویې خندل، بېرته یې کارتنونو ته ور ولېږلم، ویل یې چې په دې کار کې دقت مهم دی.

تر غرمې مې دوه څله سره واړول، بل کارتن مې ونه موند. ما هم څه ونه ویل، پاتې ورځ بېکاره وم. سبا یې هم د تېرې ورځې تکرار و. له بنډلونو مې تر لسو کم کارتنونه بېل کړل.

بله ورځ مې زړه تنګ شو، چاغې سرګاریګرې ته ورغلم، هغې را یاده کړه چې دمګړۍ خو رییس همدا وظیفه درسپارلې ده.

بل سهار په خپله راغله، راته ویې ویل چې د بېکارۍ پر وخت به پر نورو ښځو راګرځې، د مېوې تلل او په پلاستیکي خلتو کې به یې اچول زده کوې.

هماغسې مې کول، تر غرمې به کارتنونو ته ناسته وم. پاتې ورځ به پر ښځو راګرځېدم.

له دې شرکته به د ورځې پېنځه سوه ډک کارتنه وتل.

مشر به هر سهار راغی، په سالون کې به یې له ټولو سره لنډه عمومي سترې مشې وکړه، پورته به وخوت.

په ده پسې مې پام و، هېڅوخت به یې له ښېښې لاندې نه راکتل. ټوله ورځ به یې کمپیوټر ته وچې سترګې نیولې وې.

ده په هېڅا کار نه درلود، خو کله کله به یې یوه کاریګره پورته ور وغوښته، غم دا و چې شعبې ته د کاریګرې له ورتګ سره به دی هم له ښېښې پورته شو، دواړه به نه ښکارېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یې زه هم ور وبللم. زړه مې پښنو ته راغی، د شعبې د وره له خلاصېدو سره له خپل ځایه را پورته شو، مخامخ راته کېناست.

وار له واره په تجارت کې د بهرنیانو د اصولو په اړه وغږېد، ویې ویل چې بهرنیان ډیرو وړو خبرو ته هم پام کوي، کوچیني غلطي نه مني. له ایمیلونو به یې پڼي ته راشي.

ده کابو پینځه دقیقې خبرې وکړې، بیا یې په ډېر احترام کمپیوټر ته ور وبللم، یو ایمېل یې خلاص کړ، په عکس کې د دوو کارتنونو لیبلونه کاږه راغلي ول.

مشر وویل چې دی په دوبي کې له یوه شرکت سره قرار داد لري، همدا مېوه له هغه ځایه اروپاه ته لېږي. همدا ایمېل د دوبي شرکت ورته رالېږلی، دوی ته وړه تېروتنه هم د منلو وړ نه ده.

زه وارخطا وم، خو بخښنه ده رانه وغوښته. خپل ځان یې ملامت باله. ویل یې چې موږ باید په اولو کې سمه پوه کړې وای.

دي انسانیت یې خوړلم.

ده سرکاریګره را وغوښته، له هغې سره لنډ وغږېد، له چاغې بنځې سره لاندې کښته شوم. یو ساعت یې د لیبلونو او کارتنونو په اړه خبرې راته وکړې.

له هغه وروسته به مې هغه کارتن هم ښېل اېښوده چې مازې تور خال به یې درلود.

یو سهار بیروبار و، کار ته ناوخته ورسېدم. وارخطا وم، خو هېچا هم څه ونه ویل. سرکاریګرې یوازې ساعت ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهېدم چې دلته ښغه خبره نه شته، هر څه په رمازه دي.

په لاره باور نه و، له هغه وروسته به له کوره نیم ساعت وخته وتم. په کارخانه کې به یوازې زړه ښخه وه.

له دې سره به په چمن کې کېناستم، ښځې ډېرې خبرې کولې. زړه یې شبن و، دې هېڅوک نه لرل. کلونه مخکې یې تولهٔ کوژنی د هلمند په گرمسیر کې واده ته تله، موټر پر بم ختلی و، هېڅوک نه ول ور پاتې.

دې کارېگرو ته ډېگ کاوه، د تعمیر صفایي هم ور په غاړه وه، په همدې شرکت کې اوسېدله.

بوډۍ له خبرو نه ستړې کېده، په ډېرشو دقیقو کې به یې ډېرش کیسې را واخیستې، خبرو یې تسلسل نه درلود، د یوې کیسې په مینځ کې به بلې کیسې ته لاړه، اصلي خبره به هېره شوه.

د دې ډېرې کیسې پخوانی وې، د ژوند کیسې، د لمسیانو د خندا کیسې، د نیکمرغی د ورځو کیسې.

کله کله به یې یودم وژړل.

بوه ورځ یوې کاریگرې راته وویل چې له بوډۍ سره ډېره مه کېنه، هغې ښه ورځ نه ده لیدلې، خوشاله خبره به ترې وانه ورې، خو ما له اوله خوشاله خبره نه وه اورېدلې، باک نه راته.

یو وخت مې احساس وکړ چې پر بوډۍ گرانه شوې یم. یا به ما همداسې فکر کاوه. دا به تیاره په چمن کې راته ناسته وه. د خپلو خبرو د اورېدو له پاره یې بل څوک نه لرل.

وروسته چې به ورغلم، چای به تیار دم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ ډېره په جزياتو غږېده، ان د دېګ پخولو ته به يې هم اوږده مقدمه جوړه کړه، خبره به د سودا اخيستو ته لاړه، ويل به يې چې د کچالو د اخيستلو په وخت يې څنګه خراب کچالو له تلې ليرې کړل. د دې ډيرې خبرې به تکراري وې، خو ما به غوږ ورته نيولی و. دا خپه زړه مې نور نه شوای خپه کولای.

دې به کله وخندل، کله به يې په خندا کې وژړل، کله کله به يې خندا او ژړا رانه غلطه شوه، په دوارو حالاتو کې به يې سترګې له اوښکو ډکې وې، نه را مالومېده چې اوس خاندې که ژاړې، خو نوره ورځ به غلې وه. په هېڅ يې کار نه درلود، خپل کار يې کاوه.

دې به د ټولې ورځې خبرې بل سهار ته ساتلې وې، له ټولو کاريګرو يې ښه خوله وهله، ورباندې ګرانې وې، خو چاغه سرکاريګره يې نه خوښېده، ويل يې چې ډېر وخت مې په غوږ وهي، کله د دېګ مالګه ډېره ورته ښکاره شي او کله لږ غوړ کتغ هم خوند نه ورکوي.

په دې خبره مې له سرکاريګرې ورټ وشو، غريبګۍ هېڅ هم نه و رانه ويلي، راسره ښه وه، خو د دې په لېدو به ماته خپل لېور سترګو ته ودرېد.

زړه مې په تنګ و، کور کار او په کور کې هم د لور تريو تندي.

زه په کارخانه کې هم غلې وم، د کار په وخت کې به نورو هم څه نه ويل، همدا اصول و، که اصول هم نه وای، خبرو ته وخت نه پيدا کېده، دلته به له وچې ميوې او کارتنونو سترګې نه اوښتې، خبرې به څنګه کېدې.

(c) kitabton.com: The Digital Library


خو غرمه مو د لمانځه او ډوډۍ له پاره يو ساعت وخت درلود، ډوډۍ ته به طعامخانې ته ورتلو، نورو ښځو به سره خندل، خبرې به يې کولې، خو زه به کونج ته غلې ناسته وم.

دوى به زياتره د نويو جامو په موډ، رنګونو او ډيزاين غږېدلې، يا به يې د ښه دېګ د رازونو کيسې کولې. په کومه شپه چې به کومه ښځه د هوټل واده ته تللې وه، نو بله غرمه به يې ناوې او زوم ټکي په ټکي تشريح کړل، ان د قد اندازې به يې هم اخيستې وې، يو کتاب خبرې به يې يوازې په دې اړه وکړې چې ناوې او زوم څه ډول ارايش کړی و، د اهسته برو سندرې ته څنګه راغلل او څنګه يې په نڅا کې د يو بل تر ملاوو لاسونه تاو کړي وو. ان د ناوې بانه به يې هم ګڼلي ول.

خو زه به غلې وم، دا نه چې خبرې مې نه وې زده، زده مې وې، خو ما د دوى غوندې ژوند نه درلود، نه مې د منتو د پخولو وس و، نه واده ته تللې وم او نه مې په موډ برابر نوى کميس درلود.

يوازې د غم خبرې وې، د غم خبرو ته نو چا غوږ نه نيو.

دوى هم ښې وې، زما له زړې چادرې او تريو تندې پوهېدلې وې چې خوشاله ورځ مې نه ده ليدلې، ولې يې ځانونه خفه کول، زه به تر ټولو ګوښه ځاى کېناستم.

په طعام خانه کې اته مېزه ول، هر مېز دوې څوکۍ درلودې، د راز او نياز ملګرې به مخامخ سره کيناستې، خبرې به يې کولې، په خندا کې به يې د کاچوغو ټکا نه اورېدل کېدله.

وروسته مې يوه ملګرې ومونده، ليلما نومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ليلما يوه ورځ خفه وه، ډيره خفه، نورو خندل، خو ما دې نه کتل سترګې يې له اوښکو ډکې وې، يودم ولاړه شوه، ډک قاب يې پرېښود د باندې ووته.

شپه وروسته تشناب ته لاړم، دلته په يوه لويه کوټه کې شپږ تشناب وو. ليلما اودس کاوه، ور ومې کتل، مخ يې وچ و، خو دې په خپلو اوبه تېرولې، وپوهېدم چې په حال نه ده، خو کار مې ورباندې ونه لاړ څه مې کوله، ته به يې اوداسه ته متوجه کوې، دوی به درته وايي چې ستا يې څه.

د دې خپله ورپام شول، اودس يې له سره وکړ.

موږ د لمانځه له پاره مشخص ځای نه درلود، ځينې به په طعامخانه کې درېدلې، ځينې به لمر ته وتې.

ما هم په چمن کې ليلما ته نږدې جاينماز را ته هوار کړ. يو وخت مې نری ژړا واورېده، ليلما لاسونه پورته نيولي و، په دعا کې يې د زوی صحت غوښت.

را ومې غږوله، زوی يې هره مياشت ډاکټر غوښت، وينه يې کموله، نا وار يې د زوی د تداوي له پاره يوه روپۍ نه درلوده.

دا په کار خانه کې له يوې خورلنې خفه وه، ويل يې چې پيسه داره ده، باور مې پرې درلود، پور مې ترې وغوښت، بانه يې راته وکړه.

د ښځې اوښکو ته مې خوا بده شوه، بل سهار مې اته زره افغانۍ ورته ونيولې، باور يې نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت وروسته بې بور بېرته راکړ، خو تر پخوا راسره خوږه وه. دودې
په مو بوځای خوړه، کیسې به مو کولې او بو سات به خوشاله وو. خو په
کور کې خندا نه وه. لور به مې نه راسره غږېده. ځان بې لیرې نسولی
و. ما هم کار نه ورباندې درلود، خو یو مازدیګر بې منده راباندې را
واخیسته، په غېږ کې بې ونیولم، وبې ژړل.
خره مالومه شوه. د رامین په موټر کې بې خپله بوه همصنفي لېدلې
وه.
نه شو، وخت کله کله خینې ستونزې په خپله حل کوي.
لور مې په اولو کې بیا هم غلې وه. خو وروسته به تر اخیره دسترخوان
نه راسره ناسته وه، ګولې بې ورې وې. خو ځان بې مراوه. ورځې ورتې،
ګونې ته بېرته پخوانۍ خندا را وګرځېده.
له خدایه مې دېر څه نه غوښتل، ساده دودۍ او په کور کې ساده خندا.
دواړه ول، موږ به پر دېوال، د بو بل په سورو کې هم خندا لنوله، زړې
پردې ته به مو کتل، تکره به هغه و چې د پردې په ګونځو کې د بو بل
څېرو ته ورته شکلونه وموندې، همدا ژوند و. نه ژوند.
یوه ورځ د کارېګرو دونګاه خته، وبل بې چې قیمتې دېره ده، په دې
تنخوا د کور ګذاره نه شي کولای.
تولې په یوه خوله وې چې دا موضوع به د شرکت له مالک سره
شریکوي، خو یوې هم پورته د ختلو زړه نه درلود.
اخیر سرکاریګره دفتر ته ورغله، مشر راغی، په ارامو انصافو بې خبرې
وکړې، له بحثه پرته بې قیمتې ومنله، وبې وبل چې له یوه شرکت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د دبرې مبوې د خرخلاو خبرې کړې. ګنه بې دبره ده. که نورې سره ورسېدل، تنخواوې به زياتې کړي.

بوې هم څه ونه ويل، د مشر خسرې هوايي ورته نسکاربدې، زړه نه يې نه لوبدې.

ما هم همدا فکر کاوه چې سرې بوه له اسمانه روښنه، بله له ځمکې د مياشتې به اخبر کې بې تنخوا راکړه. بند پاکټ و، ما به پاکټ هم وخت د اولادونو تر مخ خلاصاوه. په ګډه به مو د راتلونکې مياشتې مصارف سنجول، هر ضرورت ته به مو پيسې ببلولې.

اولادونه به مې قصدا د کور په حساب کې را شريکول، د ګډ ژوند او ګډ مسوليت احساس بې درک کاوه، خو څښنو کارېګرو به لا همالته پيسې وګنلې.

اول زبرى بوې خوانې نجلى وکړ، په پاکټ کې بې درې زره اضافه پيسې اېښودل شوې وې.

نور پاکټونه خلاص شول، د ټولو تنخواوې يو رنګه دبرې شوې وې. ټول خوشالې وې، يوازې د سرکارېګرې اوربوز خربدلى و، څه بې نه ويل، خو بوهېدم چې دې مساواتو خوند نه و ورکړى، دې تر نورو يو پاو ځان دروند ګاڼه، سرکارېګره وه، له نورو سره خو بې بابد فرق درلوداى، زه افغانى هم دبرې وې، خو چې واى. اوس نه وې، خفه وه، که د نورو تنخواوې دوه زره دبرې شوې واى، د دې دوه زره دوه، بيا به هم ځان لوى ورته ښکارېده، همدا دوې افغانى تفاوت هم بس و، غټوله بې، اوس خو بو شان وه، نفس بې نه مبله، سرکارېګره وره پاتې شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلک همداسي دي، له نورو سره فرق غواړي، کم دي وي، خو وي دي، غواړي چې تر نورو برتره او مهم ښکاره شي.
له سرکاریګرې پرته ټولو ښځو مشر ته دعاوې کولې.
په ژوند کې لومړنی نارینه ښه راته واېسېد، اقلا په خپله ژمنه خو ولاړ و.
اولادونه مې د تنخوا ډېرېدو ته خوشاله ول، خو یوه هم د ځان له پاره څه ونه غوښتل، په مسولیت پوهېدل، همداسي خوی یې اخیستی و، ګډ کور، مانا ګډ وجود.
لور او زوی مې اضافه مصرف نه غوښت، ویل یې چې له تېرې تنخوا سره عیار شوی ژوند یې خوښ دی، هره میاشت به اضافه پیسې په بانک کې ساتې.
بانک ته ورغلم، حساب مې پرانیست.
بله ورځ مې په لومړي ځل له بوډۍ د کارخانې د مالک نوم وپوښت.
اوس راته مهم و، د احسان کونکي نوم دې باید زده وي.
سړی محمود نومېده.
ما یې یوازې نوم غوښت، نوره علاقه مې نه ورسره درلوده، خو بوډۍ په خپله د خبرو ترې وه، محمود یوازې اوسېده، ښځې طلاق ترې اخیستی و، ده یوازې یو اتلس کلن زوی درلود. زوی یې په هند کې درس وایه.
د بوډۍ خبرې راته جالبې نه وې، ما کار کاوه، په مقابل کې مې معاش اخیست، نه د محمود ژوند راته مهم و، نه زوی او نه طلاقه شوې ښځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بودي په خوله کې ور ولوېدم، خبره مې د شرکت د حویلي ګلانو
یووړه.

بودی له ګلانو سره مینه درلوده، خو دا د حویلي له نږدې ګنو، ښکلو
مرسل او جریبند ګلانو تېره شوه. لاړه، لاړه، لاړه، په خیال کې یې د
هلمند په ګرمسیر کې د کوکنارو کروندې ته ودرولم. دا د کوکنارو د
ګل په ښکلا نه مړېده، خو ماته یې خوند نه راکاوه، اول مې د کوکنارو
ګل نه و لیدلی، بل په مردار شي کې هیڅ رنګ ښایست نه راته
ښکارېده.
په اوه رنګه مار کې هم ښایست نه شته، ځکه وېره ورنه لرې، وېره او
ښایست سره لیرې دي.
درېیمه میاشت شرکت تاواني شو، برالا خبره وه، د وچې میوې څنه
ګدام اور واخیست چې ما په اول ځل کار پکې کاوه. کیسه مالومه وه،
د برق د شارتي له لاسه اول ځلتو او اخبارونو اور اخیستی و، وروسته
لمبې وچې میوې ته ورغلې وې، خو محمود ( د شرکت مالک) تنخوا
کمه نه کړه، درې زره اضافه معاش همداسې اضافه پاتې شو.
محمود خفه و، کله کله به یې سترې مشې له یاده ووته، چټک به پورته
وخوت.
کاریګرو به د مازدیګر تر ځلورو بجو کار کاوه، خو دی به له رخصتی
وروسته هم کمپیوټر ته ناست و.
یوه ورځ یوې کاریګرې خپل ځان او نورې ښځې د محمود د احسان
پوروړې وګڼلې، ویل یې چې که مو نور خیر نه ور رسېږي، دومره خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شو چې له دې وروسته نیم ساعت نور هم کار وکړو. د یوې هم تنده تروه نه شوه، د شرکت په ګټه کې یې ګټه لیدلې وه، په تاوان کې یې باید اخلاص کړی وای. په سبا مازدیگر یې کاریګرو د کار جامې بدلې نه کړې.

محمود له دفتره را کښته شو، د کاریګرو پاتې کېدا ته حیران و. یوې وپوهاوه، خو ده وخندل، له ټولو یې مننه وکړه، ویې ویل چې په کاروبار کې ګټه او تاوان سره تړلي دي، هره یوه کورنۍ لري، ژوند د کار له پاره مه کوئ، کار د ژوند له پاره وکړئ، خئ، خپل اولادونه ښکل کړئ، ورسره وخاندئ، لوبې ورسره وکړئ او بېګاه ته د دوی په خوښه څه پاخه کړئ.

له دې سرې مې نور هم ښه راغلل، باریکیو ته یې پام ور اوښت، په ژوند او د ماشومانو د خندا په فلسفه پوهېده.

یوه ورځ مې سلا بلا چورت خته و. سلا بلا نه و، یوه نجلۍ دوه څله د محمود دفتر ته ور وخته.

پخوا به هم مشر ته ورتله، یوازې دا نه وه، ژوند او کارخانې سل خبرې درلودې، کله کله به نورې کاریګرې هم ورتلې، څه مې کولې! خپل کار یې و، هېڅ اهمیت یې نه راته درلود، په کتلو نه ارزېدې، خو اول وار مې زړه نا ارامي کوله. ښکلې نجلۍ به هلته څه کول؟!

د دودی په وخت مې خان ته قناعت ورکړ، طاهرې! سمه لېونۍ یې، په تا یې څه! خپل کار دې کوه! بسته قاب وریجې مې وخوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بله ورخ به مې بې اختیاره ورمېږ کوږ شو. په ټولو پسې مې پام و، څوک دفتر ته ورتلل او څه يې کول!

له ځان سره مې فکر وکړ، دفتر ته د نورو ښځو په ورتلو ولې خفه وم؟! دا خو به مینه نه وه؟!

وه، مینه وه، ان د شپې به هم د محمود ډېلې وروځې او غټې سترګې نيغې راته ولاړې وې.

فکر مې کاوه چې مینه به ورو ورو راځي، اول به دې مازې د زړه یو کونج نیسي، بیا به سوکه سوکه د زړه نورو برخو ته غزېږي، خو نه، زه یودم مېینه شوې وم. یودم.

ما اوریدلي و چې مینه وړه بانه غواړي، تل په ښکلا او عمر پوري نه ده تړلې. مازې به د یو چا خندا زړه درنه یوسي، یا به یې کوم خوی خوند درکړي، یا به یې په مهرباني مېینه شې، یا به یې اخلاق تاثیر دربانّدې وکړي. ان کله کله د یو چا غوسه هم خوند درکوي، دې به درته غوسه وي، ته به یې له خدایه نوره غوسه هم غواړې.

توبې مې وایستې. خدای ته مې پناه ور وړه، خو نه کېده، د خدای تر یادېدا مخکې به مې د محمود څېره سترګو ته ودرېده.

له ځان سره مې ووېل چې ښه! په دې سړي کې د مینتوب څه دي؟! ارته سپړمې که اوږده خوله؟ یو هم نه، خو زړه مې قناعت نه کاوه، همدا ارته سپږمې او بې ډوله خوله هم ښه راته ایسېدله.

په دې سړي کې یو بل څه و، غرور؟ نه، له غروره مې بد راتلل، پوهه؟ شاید. انسانیت؟ هو، همدا، انسانیت، د ژوند په زموزو پوهېدل او

(c) ketab... Digital Library



مهرباني، یا به دا هم نه وو، ما پښخه خبرې نه وې ورسره کړې، نه پوهېدم، خو له دې سرې مې ښه راتلل، پاک راته ښکارېده، په دومره ښکلو نجونو او ښځو کې مې د ده یوه بې باکي هم نه وه لیدلې.

بیا مې په زړه کې را تېره شوه، وي به، بې باکه به وي، هېڅ نارینه هم پاک نه دی، ټول په ښځو پسې ګرځي، خیني یې پیدا کړي، ورسره پرېوزي، خو نورو ته چې موقع نه شي مساعده، هیله یې وخېژي، له بې وسې ورځې په زور ځان متقي کړي، خدای ورباندې ګران کړي، خو دې خبرې هم قانع نه کړم، عیاش انسان که هر څومره ځان وساتي او د پاکي تمثیل وکړي، بیا به یې هم بې باکي ښکارېږي، خو دې سړي یوازې خپل کار کاوه، نه یې ښځو ته کتل او نه یې له کومې یوې د تلیفون شمېره غوښته. نه پوهېدم، خو ماته یې نه و کتلي. کتلي یې ول، خبرې یې راسره کړې وې، خو بدې سترګې له ورایه ښکاري، انسان ورباندې پوهېږي، ټول شهوت سترګو ته راختلی وي.

دې سړي د ماشوم غوندې معصومې سترګې درلودې.

داسې نارینه کم پیدا کېږي. په زړو کې یو، یا به نه وي، نه پوهېږم، ما خو چې له کوم نارینه سره خبرې کړې، نو سترګو یې هم ځټلم.

بل سهار مې له بودې د محمود په اړه مالومات وغوښتل، بودۍ وخندل، باید شکې شوې وای، هره خبره مقدمه غواړي، اول به د شنه چمن، رنګارنګ ګلانو او د حویلۍ پاکوالي یادوې، وروسته به همدا ښایست د محمود له ذوق سره تړې، بیا به ورته وایې چې دومره باذوقه، شتمن او مهربانه انسان ولې واده نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې څوک شک نه اخلي، خو ما وار له واره د محمود د واده خبره وکړه. بوډۍ خبره وژدويله، اول اشپزي ته لاړه، بيا يې خپل لاسونه را وښودل چې له بخاره ډک ول، ويل يې چې د دېګ د مصالې تاثير دی دې له مصالې سره حساسيت درلود.

څه مې کوله، دا ډنګر او له سرو دانو ډک لاسونه د کتلو وړ نه ول، مخکې به دا راته غړېده، خوا به مې ورته بدېده، د دې چټياتو ته به مې غوږ نيولی و، خو دا وار زه ورته احتياجه وم.

زياتره انسانان همداسې دي، ته به يې چټياتو ته حوصله کوې، دوی به ستا سمې خبرې هم نه اوري.

ځان مې ملامت کړ، بوډۍ مخکې څو وارې د محمود مهرباني ياده کړې وه، خو ما به خبره بلې خواته واړوله، دا وار ما خبرې غوښتې، دې نخرې کولې. ژوند همدا دی، که مېين يې، نو د مېين سپي ته به هم احيتاج يې، غواړې به چې ژبه ولري او خبرې درته وکړي. سپی دې وي، خو دومره دې درته ووايي چې مېين دې څه وخت له کوره راوځي، څه وخت کار ته ځي، کوم کتابونه لولي، له څه ډول فلمونو سره يې جوړه ده، کوم خواړه خوند ورکوي، کوم رنګ او کومې سندرې يې خوښېږي.

ان د مېين د اوسېدو ځای به هم درباندې ګران وي، محمود باغ بالا ته مخامخ د غره په ډډه کې اوسېده، ماته يې کور نه و را مالوم، خو د ده په خاطر ټول غر او د غره لوړ کورونه راباندې ګران ول.

په هماغه مازديګر مې له دواخانې د حساسيت ضد ملهم واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودې سهار لمر ته ځېل لاسونه غوړ کړل. له یوې او بلې خوا یې څو بې مانا خبرې وکړې. جارو یې ور واخیسته. لاړه.

د ورځې نا ارامه وم، تر کارتنونو مې لوېې ښيښې ته ډېر کتل، کاش د څوکۍ مخه سالون ته وای. اوس یوازې د محمود پکه ککرۍ ښکارېدله.

بانه مې پسې غوښته، نه وه. خنګه به ورتلم!

یو مارکر مې را واخیست. پر کارتن مې شنه لنډه لیکه وایسته. بېل مې کېښود. اوس مې له سرکاریګرې سترګې نه اړولې. نور کله به د ورځې څو وارې تشناب ته تله. خو دا وار کراره ناسته وه.

له ترموزه مې پیاله ورته ډکه کړه. ور مې وړه. دې حیراني سترګې راته نیولې وې. ما له خدایه د سرکاریګرې تشناب غوښت.

اخیر لاړه. ما هم کارتن را واخیست. پورته وختم. د شعبې دروازه مې وټکوله. ور ویې غوښتم. محمود پر کاغذ څه لیکل. څنګ ته یې ودرېدم. کارتن مې پر مېز ورته کېښود.

ورو مې وویل:

- صیب! اول وار په یوه کارتن د مارکر لیکه راغلې ده. سر کاریګره نه وه. تاسو ته مې زحمت درکړ. څه ورسره وکم؟

ده مانه ونه کتل. کارتن ته یې وکتل. کاشکې زه کارتن وای. بیا یې تلیفون ور واخیست. یوه شمېره یې ووهله. مقابل لوري ته یې وویل چې پر کارتن د مارکر لیکه ده. له هغې خوا غږ صاف راته. وېل یې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکر لیکه له کومه شوه! دا کارتنونه له ماشینه را وځي، مستقیم یې تاسو ته درلېږو.

خو محمود نه منله، اخیرې خبره یې دا وه چې که بل وار داسې کارتن راغی، نو د کارتن اخیستلو په قرار داد به له سره غور کوي.

خفه شوم، نه پوهېدم چې دا وړه لیکه به دومره جنجال جوړوي.

خان ته مې پام شو، ډیره ور نږدې وم، محمود خبرې کولې، ما د ده نفسونه تنفس کول، خواږه ول.

تلیفون یې کېښود، پرته له دې چې راته وګوري مننه یې وکړه، ویې ویل چې په کار کې تکړه یې، وړو باریکیو ته دې هم پام ور اوړي.

ده قلم ور واخیست. مانا ځه، خو زه لا ولاړه وم، ده باید یو وار راته کتلي واي، یوازې یو وار، یو وار کتل هم بنه و، تېوله ورځ خوشاله راباندې تېرېده، خو ده هېڅ راونه کتل، مات زړه له دفتره ووتم.

محمود په سبا دفتر ته رانه غی، ایله مې تر لسو بجو ګذاره وکړه، نا ارامه وم، دی نه و، نو کار نه و، اتلس کاریګرې نه وې، بسته کارخانه نه وه، ژوند نه و.

ناروغي مې بانه کړه، بانه نه وه، په رښتیا مې هم پر سر درد شو، کور ته لاړم.

کور هم ځای نه راکاوه، غلې وم، اولادونه هم راسره غلي ول. خبرې مې لنډې وې، د دوی خبرې هم لنډې وې، ما نه خندل، دوی هم نه خندل. یا به یې درس وایه یا به یې تلویزیون ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویدېدا مو وختي شوه، ما نه و ورته ویلي، خو زما وخته پرېوتا به دوی هم مجبوره کړل چې د ګروپ ساکټ ته لاس ور وغزوي.
یو خل مې لور راته کېناسته، ویې ویل چې څه خبره ده؟ غلې او خفه یې! ستړیا مې بانه کړه، دا خبره یې زړه ته نه لوېده، ما مخکې ورته ویلي و چې کارتنونو ته کتل به نو څه ستړیا ولري.
ډاډه وم، د مینتوب شک یې نه کاوه، مور به څنګه مینیده؟! اولاد هر څه مني، خو د مور مینېدل یې زړه ته نه لوېږي. ان په ذهن کې یې هم نه ورګرځي.
لور ته مې خوا بده شوه، وپوهېدم چې رامین یې ولې له زړه نه ووت، ولې خواشینې وه، ولې یې اشتها نه درلوده، ولې ژر غوسه کېده.
ما ټول هغه علایم درلودل چې دې د مینتوب په وخت کې لرل.
سلا بلا به خوشکه راتله، ګولې مې وږې شوې، تل به ګنګسه وم، دېوال ته به مې کتل، کله کله به مې په برستنه کې بې اختیاره وژړل.
په ژوند کې مې په لومړي ځل یو نارینه خوښ شوی و. څومره له درده ډکه خوښي.
یوه ورځ ایني ته ودرېدم، غټو سترګو مې توري حلقې نیولې وې.
زه به په څلرویشت ساعته کې یوازې نیمه دقیقه خوشاله وم، همدې نیمې دقیقې ته به مې سترګې وتې، ورته ماتله به وم. محمود به هر سهار راته، په سالون کې به یې له ټولو سره عمومي پوښتنه کوله، د جوړ ناجوړ احوال به یې اخیست، پورته به خوت. ما به تر وروستۍ زینې پسې کتل، همدا نیمه دقیقه مې ټول ژوند و.

(c) kitabton.com: The Digital Library



کاشکې زينې دومره لنډې نه وای، يا دی تېز نه ختلی. اوس خو سلام او پورته ختل نيمه دقيقه وو.

دنيا له خلکو ډکه وه، يو نه، دوه نه، درې نه، په همدې کابل ښار کې ميليونونه انسانان اوسېدل، خو زما يوه ته هم ور پام نه و، ټول ښار نشتراته ښکارېده، خپل اولادونه مې هم هېر ول، نه وم ملامته، خپل واک مې نه درلود، زړه مې له محمود سره و، دا سړی مې ټوله دنيا وه.

محمود به ټوله ورځ په دفتر کې و، ما به يې يوازې کورتی ليده، کاشکې يې کورتی وای.

ډوډۍ يې هم همالته خوړه، بوډۍ ور وړه. که مې واک درلودای، خپله وظيفه مې له بوډۍ سره بدلوله.

په بانې پسې ګرځېدم، نه پيدا کېده، کارتنونو خبرې نه درلودې، سل واري راته ويل شوي و چې مازې تور خال هم مه منه.

يوه ورځ يوه ښځه دفتر ته ورغله، ببرته راغله، پاکټ يې په بکس کې کېښود. د ډوډۍ په وخت مې را وغړوله، خوابښې يې ناروغه وه، يوه مياشت تنخوا يې پيشکې اخيستې وه.

ما پيسې درلودې، په بانک کې مې درې څلوېښت زره افغانۍ سپمولې وې، خو د سړي ليدل مې غوښتل.

بل سهار ورغلم، شکر مې وايست، محمود په مبايل کې خبرې کولې. ده انګليسي ويله، ما ورته کتل، خدای خدای مې کول چې خبرې اوږدې کړي. ډېرې خبرې، مانا ډېر وخت کتل.

ده به کله کله وخندل، خندا يې خوږه راباندې لګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شنبه ووته، تليفون بې پر مېز کېښود، له ما يې د ډېرې درېدا په خاطر بخښنه وغوښته، اه! بخښنه يې نو ولې غوښته! هېڅ ضرور نه وه، زه يو کال هم د ده ليدو ته درېدای شوای، هېڅ شکايت به مې نه کاوه، نه به مې خه خوړل، نه به په سترپا پوهېدم او نه به هم خوب راته، يوازې ده ته به مې کتل.

دې غلې شو، غتې سترگې يې زما د ورتگ علت ته ماتلې وې. نه کېده، لنډ مې وپوهاوه چې يوې مياشتې پيشکې تنخوا ته ضرورت لرم.

ده اول د مېز روک کش کړ، بيا يې د کورتي جېبونه ولټول، وروسته يې بخښنه وغوښته، ويې ويل چې پيسې به سبا درته راوړم.

غلې شو، خو ما غوښتل چې خبرې وکړې، بوډا ياد کړي، ټوکې وکړي، وخاندي.

ده دې مازې خوله چوله کړې وای، ساده خبرې ته مې هم خندل، ډېر مې خندل، له حده ډېر، خو ده هېڅ ونه ويل. مجبوره وم، دفتر مې پرېښود، خو بيا هم خوشالي نه وه خلاصه، سبا مې د پيسو د اخيستلو په وخت کې خبرې ورسره کولی شوای.

ما هېڅ ارايش نه کاوه، خدايي سپينه وم، خو په هماغه مازديگر مې په کوټه سنگې کې سرخي او سفيده واخيستل. د سترگو تورې ليکې مې بايد سپينې شوې وای او سپين بغور مې يو خه سره راغلي وای.

سهار مې لا په تشناب کې چادري پر سر کړه، سرو بغورو مې اولادونو ته پوښتنې پيدا کولې.

په سالون کې ټولو ښخو راته کتل، زما دا سور مخ بې خه نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارتنونو ته ورغلم، يو وار به مې کارتن ته کتل، بيا پر دېوال راځوړند غټې ساعت ته.

محمود راغی، په سالون کې يې پاکټ راته ونيو، راته ويې هم نه کتل، دفتر ته لاړ، خو ما لا يو بل چانس درلود، د تنخوا د اخيستلو امضاء مې پاتې وه، خامخا به يې دفتر ته ور غوښتم.

شېبه وروسته سرکاريګرې غټه کتابچه راوړه، د خپل نوم څنګ ته مې امضا وکړه.

تشناب ته لاړم، خپل مخ ته مې اوبه ور واچولې. اوله لپه سره وه، په اوبو کې د سرخي رنګ ګډ و.

همالته کښناستم، ومې ژړل، په ژړا کې غوسه راغله، محمود بايد ماته کتلي وای.

له دې سړي مې په زور په زړه کې کرکه پيدا کوله، د ده خاليګاوې مې موندلې، ويل مې چې مغروره دی، بدرنګه دی، پيسې د انسانيت مانا نه ورکوي، د ګرانښت له پاره هېڅ نه لري، ...خو په زړه کې مې کرکه نه پيدا کېده. څومره چې به مې کرکې ته بانې لټولې، په هماغه اندازه راباندې ګرانېده.

بله ورځ کار ته رانه غی. دېوالونو خبرې نه کولې، د پوښتنې زړه ما نه درلود. سرکاريګرې خپله وويل چې محمود د يوې هفتې له پاره هند ته د خپل زوی ليدو ته ورغلی دی.

يوه هفته! ډېر وخت و.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کارخانې اور راباندې لګاوه، ناروغي مې بانه کړه، دوې ورځې په کور کې وم، خو هلته مې هم زړه خوړل کېده، درېيم سهار کار ته ورغلم، ټوله ورځ مې زينو او تر ښيښې ور هاخوا کمپيوټر ته کتل. د کمپيوټر بو کونج ښکارېده، بيا هم ښه و، محمود به همدې کونج ته کتلي ول. کله کله به مې سا کش کړه، فکر مې کاوه چې د سالون په هوا کې د محمود د وجود بوی پاتې دی.

په څلورمه ورځ سمه لېونۍ وم. اول وار مې له سر کاريګري سره خوله ووهله، ناوخته ورغلې وم، دې يوازې ساعت ته وکتل، خو ما خبره لويه کړه، ساعت ته کتل مې د ځان توهين وګڼه.

د ورځې په نيمايي کې په خپل سر له کارخانې ووتم. په سبا مې په حاضري کې نيمه ورځ خانه قيد شوې وه.

د شرکت په اصولو کې همدا ليکل شوي ول، خو دوی دومره سر نه پسې ګرځاوه، په نيمه ورځ يې څه نه ويل، خو اجازه مهمه وه، ما سرکاريګري ته نه و ويلي.

ورغلم، سرکاريګره مې سپکه کړه.

دې هېڅ ونه ويل، ټولو ښځو په حيرانۍ راته کتل.

جومه په کور وم، شنبه او يکشنبه مې هم غيرحاضري وکړه. دوشنبه شرکت ته ورغلم، خو محمود نه و راغلی، ببرته په خپل سر کور ته لاړم.

نه کېده، نور مې په دې شرکت کې زړه سستې کوله.

په کور کې مې استعفا وليکله، نبغ دفتر ته ور وختم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود وار له واره وخندل، خو ماته خندا نه راتله، کاغذ مې پر میز و کېښود. ده یوه شېبه کاغذ ته وکتل، ویې ویل:

- کوم مشکل لرې؟

یو وارې مې په زړه کې راتېره شوه چې چیغه کړم، ورته ووایم چې هو، مشکل لرم، لوی مشکل، مشکل مې ته یې، له ژونده دې وایستم، له خوبه دې وایستم، له خوراکه دې وایستم، له خندا دې وایستم، اولادونو دې رانه پردي کړل، نږدې ده چې ستا له لاسه لېونی شم. بیا مې توبه وایسته، ومې ویل:

- نه.

- نو څه خبره ده؟

- هېڅ! ستړې یم.

ویې ویل:

- خو یو څو ورځې رخصتي واخله. استراحت وکه، د شرکت د اصولو له مخې ته په کال کې شل ورځې رخصتي لرې.

ومې ویل:

- نور دلته کارنه شم کولای.

حیران یې راته وکتل:

- چا څه درته ویلي دي؟

- نه، برعکس! ما له سرکاریګرې سره جنګ وکړ.

یودم یې وخندل:

- پوهېږم، په جنګ کې بده نه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلې شو، وبې ویل:

ـ خو سرکاریگري څه نه دي راته ویلي.

ـ اوس زه درته وایم. د ټولو په مخ کې مې سلا بلا سپکه کړه.

دی یوه شیبه غلی و، وروسته یې وویل:

ـ خو له تا هیڅ شکایت نه دی کړی. که شکایت نه وي، مانا هیڅ هم نه دي پېښ شوي.

کاغذ یې راته ونیو، وبې ویل:

ـ لاړه شه، فکر وکه، که دې له فکر کولو وروسته هم استعفا غوښته، کومه ستونزه نشته، دا پاڼه راوړه، امضاء به یې کم.

د شپې نا ارامه وم، کاشکې دا سړی غوسه شوی وای، سرکاریگره یې را غوښتې وای، له هغې او نورو ښځو یې پوښتنې کړې وای، بو وار یې بیا راته ویلي وای چې دلته له هر څه سره گذاره کېدای شي، خو بل ته توهین او سپکاوی نه منل کېږي. څه، په مخه دې ښه.

ماته د شرکت پرېښودل ښه و، محمود به مې نه لید، شاید بېرته عادي شوې وای، خو دا سړی له حده ډېر نرم و.

هره خوا مې وسنجوله، په شرکت کې کار زما زړه خوړ، خو نه کار د اولادونو ژوند خوړ، د اولادونو په خاطر له خپل زړه تېره شوم.

سهار کار ته ورغلم، وار له واره مې سر کاریگره ولیده، هیڅ یې هم ونه ویل، غلې رانه تېره شوه، وشرمېدم، دا باید دومره مهربانه نه وای.

له ځان سره مې وویل چې نور به لوبې ښیښې ته نه ور گورم، خو طاقت نه راته، کنټل به مې، ښه ډېر به مې ورته کتل. وروسته مې وخت وټاکه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم مې یاد کړ چې په ساعت کې به یوازې یو وار ورته گورم. سخت وه، وار په هماغه اوله دقیقه کې تېر شو، درې څله سلا بلا تشناب ته لاړم. له هاغه خوا ښیښه مخامخ وه، بېرته د راتگ په وخت به مې تر کارتنونو سترگې پټې نیولې وې. بیا مې پر ځان باور نه درلود، له دوهم څل قسمه تېره شوم.

اخ! مینه، مینه د وجود اېرې کېدل دي.

ما مینه نه غوښته، څه مې کوله، ژوند مې مینې ته نه و جوړ، خو څه چې نه غواړې، په خپله درته راځي. مینه خپله راغلې وه.

څومره چې به مې له محموده ځان لیرې نیو، په هماغه اندازه به ور نږدې کېدم. بې وسه وم، ډېره بې وسه. یوازې خپل زړه ته به مې نوکارۍ نیولې وې.

یوه ورځ یوې نجلۍ له بلې په عمر پخې ښځې سره خوله ووهله، دلیل یې نه و را مالوم، سرکاریگره ورغله، دواړه یې غلې کړې، ما هم کارتنونه پر بل مخ را واړول.

یودم چیغې شوې، نجلۍ د عمر پخې ښځې وېښته نه خوشې کول. دواړه پر ډکو کارتنونو ورغلې، کارتنونه رنگ شول.

بورته مې وکتل، محمود په ښیښه کې ولاړ و، سترگې یې ردې راختلې وې، د ښځو جنگ ته یې کتل.

نورې کاریگرې ورغلې، دواړه یې بېلې کړې، د نجلۍ له ترلي موته تور او سپین وېښته راوتلي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود اول سرکاریګره ور وغوښته، پاو ووت، سرکاریګره راغله، نجلی دفتر ته ور وخته، وروسته د عمر پخې ښخې وار شو. په اخیر کې یې جنګ ته نږدې درې ښځې ور وغوښتې.

ورځ تېره شوه. موږ جامې بدلې کړې، خو محمود په دفتر کې یوازې پاتې شو.

بل سهار سرکاریګره راغله، د ځوانې نجلی غوږ ته یې خوله ور نږدې کړه، نجلی دفتر ته ور وخته. ښیښې ته مې وکتل، یوازې د کمپیوټر ژی ښکارېدله.

دوې، یا درې دقیقې وروسته یودم چیغې شوې، نجلی په بېړه له شعبې راووته، ګرېوان یې څیرې و، د سینو چاکونه یې له ورایه ښکارېدل. دې په ژړا کې یوه خبره کوله:

ـ د خدای پار دی، ماته یې لاس را واچاوه.

د ټولو سترګې ردې راختلې وې، نجلی په منډه کې خپله چپنه وایسته، ټیکری ته ورغله، په ژړا له سالونه ووته.

له ځان سره مې وویل:

ـ اه! د انسان پېژندل څومره سخت کار دی.

یودم مې له محموده کرکه راغله، څومره چې ژر راباندې ګران شوی و، ژر مې له زړه ووت.

ورځ غلې تېره شوه، ان د دوو دی پر وخت هم هېچا څه ونه ویل، خو د ټولو په سترګو کې حیراني پرته وه. کور ته لاړم، په تشناب کې مې وژړل، په ټول ژوند کې مې پر یوه نارینه مینه راغلې وه، یو وار مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وم، د يو چا پاکي خوند راکړی و، تن او وجود مې ګانه، خوند هم پاک ونه خوت.

مخ مې پرېوی. اولادونو ته مې ډوډی تیاره کړه، کراره پرېوتم.

سهار مې کارتنونه کتل چې سالون ته په شخصي جامو کې دوه کسه راننوتل، نیغ محمود ته ورغلل، محمود يې لاس تړلی له شعبې را وایست.

دی خوړند سر د ښځو په مینځ کې تېر شو.

ماشین ودرېد، چوپه چوپیتا شوه، ښځې غلې ولاړې وې. زه هم بېرته کارتنونو کېناستم.

اول خبره لیلما وکړه:

- له دې ایسته موږ هم دلته ښې نه ښکارو.

بلې وویل:

- سم وایې، پرون يې دې نجلۍ ته لاس ور واچاوه، سبا زموږ وار دی.

لیلما چېنه وایسته. ويې ويل چې په داسې بې عزته ځای کې کار، نه کار، له لوږې به نه مرو.

د سرکاریګرې غږ راغی، ویل يې چې لنډه منډه مه اخلئ. موږ دلته کلونه کار کړی، تر اوسه چاته په سپکه نه دي کتل شوي، برعکس، په تنګسیا کې مرسته راسره شوې او د کور غړي يې ګڼلي یو. ښځې دوې ډلې شوې، یوې ډلې ته محمود ملايکه ښکارېدله. خو بلې خوا شیطان ګانه، ويل يې چې په هېڅ نارینه باور نه دی په کار. زه هم په دوهمه ډله کې ودرېدم، يو پاک راته ښکارېده، خو پاک نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکاريګرې خبرې کولې، ويل يې چې دې نجلۍ د کارخانې اصول مات کړي ول، محمود د دې له پاره ور وغوښته چې نور دلته ځای نه لري، نجلۍ د داسې رټ ځواب تمه نه درلوده، اخيري عقده يې د محمود په بدنامي سره کړه، خو د سرکاريګري خبرې مو زړه ته نه لوېدې، هېڅ نجلۍ د کار په خاطر په خپله ځان دومره نه بې عزته کاوه چې له دفتره لوڅې سينې را ووځي.

نورې ښځې هم له موږ سره ودرېدې، دوې ښځې سرکاريګرې ته ورغلې، ويل يې چې محمود که پاک وي که ناپاک، بېل قبر لري، موږ ته يې تر اوسه څه نه دي ويلي، مجبوره يو، کوم بل عايد نه لرو.

د محمود پاکي او ناپاکي لا نه وه مالومه شوې چې بېرته راغي، تنده يې تروه وه، خوږند سر دفتر ته وخوت.

ګنګوسې ډېرې شوې، څو ښځې په يوه خوله وې، ويل يې چې مردار حکومت دی، پيسې يې ورکړې، تر حوزې يې هم ونه رساوه.

طاقت نه راته، کار خوند نه راکاوه، له سرکاريګرې مې اجازه وغوښته، کور ته لاړم.

ټوله شپه ويښه وم، ذهني کشمکش مې درلود، کار که بېکاري؟ يو انتخاب مې درلود، د بوټونو رنګېدا راته ښه وه.

سهار مې د استعفا تياره ليکلې پخوانۍ پاڼه را واخيسته، کارخانې ته ورغلم، بوډۍ په چمن کې خوږند سر ناسته وه. ليرې ترې کېناستم، دې د محمود صفتونه راته کړې ول، ورټ مې ترې کېده.

په خپله راغله، تر څنګ مې کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې اور واخیست، ومې ویل:

- تا د همدې مردار خور صفت راته کاوه.

بوډۍ نبغ راته وکتل، په اول ځل مې یې ورې سترګې له غوسې ډکې ولیدې، وېې ویل:

- چټیاټ مه وایه.

خندا راغله، ومې ویل:

- بده ښکارې، ډېره بده.

بوډۍ یوازې راته کتل.

ومې ویل:

- هغې نجلۍ ته دې خوا نه شوه بده؟

وېې ویل:

- نه.

ولاړه شوم، ومې ویل:

- نن مې دلته اخیرې ورځ ده، ښه ده، نور به دې مخ نه وینم.

تر مټ یې ونیولم، وېې ویل:

- کښېنه، ساړه خوره.

کښیناستم.

بوډۍ سوړ اسویلی وایست:

- یو طرفه قضاوت مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چینه مې کړه:
- هر څه مې په خپله ولیدل، نو دومره پسټي! نجلۍ څیرې ګریوان له دفتره را کښته شوه.
بوډۍ وویل:
- محمود دا کار نه کوي.
- ولې یې نه کوي! ته ووایه، محمود ملایکه ده؟
وې ویل:
- ملایکه نه وه، خو دا شک مه پرې کوه چې ده به نجلۍ ته لاس ور اچولی وي.
- ولې؟
بوډۍ غلې وه.
ومې ویل:
- ولې؟
یودم یې راته وکتل، ویې ویل:
- محمود خصي شوی دی.
سترګې مې ردې راوختې.
بوډۍ وویل:
- زه دیارلس کاله په همدې شرکت کې یم، دلته یوې خوانې کاریګرې هم تر یوې هفتې ډېره ګذاره نه شوای کولای. ستا غوندې ښکلې خو سات هم نه ایست، رابه غله، ببرته به یې په ژړا کار پرېښود، ځکه نو دیرې کاریګرې به عمر پخې ښځې وې. محمود عیاش و، ډېر عیاش،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله به د شپې په شرکت کې پاتې کېده، خپل ملګري به ئ راغوښتل، په هفته کې يې خامخا يوه مېله کوله، مېله به بې ښځو وه.

ماته دې حالت خوند نه راکاوه، خو مجبوره وم، يوې اويا کلنې بې ک ښځې ته چا مُفته ډوډۍ او سرپناه نه ورکوله. زه به تر سهاره په خپ کوټه کې پاتې وم، د دوی له لوړ موزيکه او خندا به مې خوب نه شوای کولای.

يو وخت يوه ځوانه ښځه راغله، ښکلې وه، ډېره ښکلې. په دريم مازديګر محمود دفتر ته ور وغوښته، د رخصتي وخت و، نورې ښځې لاړې، همدا ښځه په دفتر کې يوازې پاتې شوه، زه پوهېدم، محمو پاک نيت نه درلود.

خبره مې سمه وخته، يودم چيغې شوې، په بېړه سالون ته ورغلم، ښځه په منډه پر زينو راکښته شوه، محمود لاس ور وغځاوه، د ښځې ګريوان ځيرې شو، دواړه په زينو کې را ورغړېدل، ښځه شکېدلی ګريوان له سالونه ووته.

محمود ماته وکتل، په سترګو کې يې تکی شرم نه و پروت.

په دوهم مابښام د شرکت دروازه وټکېده، ځوکېدار ورغی، خو بېرته په تېلو شاته راغی. ما د اشپزخانې له ښيښې ورته کتل، درې مخ پټې پياوړې کسان شرکت ته راننوتل، اول يې ځوکيدار وتاړه، بيا د سالون خواته ورغلل، يوه ته مې پام شو، په لاس کې يې د ﻫﺴﻮﻧﻮ د خصي ګېدا اله نيولې وه. ما دا اله په کلي کې ليدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خای پر خای کېناستم. نه مې چیغه واورېده، او نه هم کوم غږ. نیم ساعت وروسته لویه دروازه وچونګېده، راغلي کسان بېرته له شرکته ووتل.

سالون ته ورغلم، محمود بېسده لوڅ پروت و، له نامه لاندې یې یوازې وینې وې.

د څوکېدار لاسونه مې ور خلاص کړل، هغه شفاخانې ته زنګ وواهه. محمود مې کابو دوې میاشتې ونه لید. کله چې بېرته راغی، په لومړي خل څورېند سر رانه تېر شو.

سترګې یې شرمېدې، خصي و.

بودې ته تو‌خې ورغی، ماته یې وکتل، ویې ویل:

ـ څه وخت وروسته یې ښځې طلاق ترې واخیست، یو شپږ یا اوه کلن ګلالی زوی ورپاتې و، کله کله به یې شرکت ته ورسره راووست. دې تر یو څه وخته عصبي و، د شپې به تر ناوخته په دفتر کې پاتې کېده، ما یې خو ځله د ژړا غږ اورېدلی و، وروسته تشویش ور ولوېد. تولې پخوانی کاریګرې یې خواب کړې. نوې ښځې یې ونیولې.

بودې غلې شوه، ویې ویل:

ـ دا کیسه مې خکه درته وکړه چې ته یې کسه یې، ښه مې ایسې، خپل کار کوه، د اولادونو ژوند دې مه خرابوه. محمود که پاک نه و، خو اوس له دې کارو لوېدلی دی، دی څه نه لري، ځکه یې تر حوزې هم ونه رساوه.

بودې ولاړه شوه، ما کاغذ په بکس کې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سړی مې وليد، پاک راته ښکارېده، خو پاک نه و، ناپاکي ته يې له وسه نه کېده، څه يې نه لرل.

له هغه وروسته مې ښيښې ته نه کتل، د ناستي مخه مې بدله کړه. ښيښې ته به مې شا ور گرځوله.

ښځو هم کار پيل کړ، دوی نه وې خبرې، له محموده يې ورځ کېده، يوازې ليلما کار ته رانغله.

زما هم زړه تنگ و، نور مې په دې شرکت کې سا بنديده.

دوې هفتې مې سر په سر کلنۍ رخصتي واخيسته.

يوه ورځ سرکاريگري تليفون راته ونيو، ويې ويل چې ليلما درسره غږېږي.

ليلما راته تېنگه وه، ويل يې چې له ما سره به خامخا گورې.

ادرس مې ترې واخيست، مازديگر باغ زنانه ته ورغلم.

ليلما په باغ زنانه کې غرفه درلوده، د ارايش وسايل يې خرڅول. دلته دېرش، څلوېښت دوکانونه او څو غرفې وې، دې باغ لوی پارک درلود، يوازې ښځې راتلې، دوکاندارانې هم ښځې وې، پارک ته تر اوو کالو لوړ ماشوم د راتلو اجازه نه درلوده.

ليلما له چايو پياله را ډکه کړه، د خپل کار په اړه وغږېده، دا د دې ورځې غرفې له عايده خوشاله وه، راته ويې ويل چې د څنگ غرفه يې خالي شوې ده. ويې نيسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه نازړه وم، خو لیلما د غرفې په نیولو ټینګار کاوه، ویل یې چې تر څو به څوارلس زره تنخوا ته ناسته یې، هغه کار دې ورک شي چې روزي دې پکې مالومه وي.

د شپې مې تر ناوخته فکر وکړ، دې شرکت نور خولې راباندې لګولې، له خان سره مې وویل، راځه، خیر به دې په غرفه کې وي.

سهار مې غرفه ونیوله ، غرمه د محمود دفتر ته ور وختم.

محمود ټوکې کولې، ټوکې یې بې خونده راته و ایسېدلې، هېڅ خندا یې نه درلوده. استعفا مې ورکړه، بوډۍ ته ورغلم، په غېږ کې مې ونیوله، دواړو ژړل.

له هغه ځایه نېغه باغ زنانه ته لاړم. له لیلما او د هغې له یوې ملګرې سره مې مشوره وکړه. د لیلما ملګرې راته وویل چې غرفې ته هغه څه راوړه چې ځینې ښځې یې په ښار کې په ازاده توګه نه شي اخیستلې. په ګډه مو لیست جوړ کړ، موی بر، سینه بندونه، نیکرونه...هغه څه وو چې ښځو هر ځای نه شوای اخیستلی.

په سودا پسې ونه وتم، د لیلما ملګرې بلده وه، دې په تلیفون کې هر څه را وغوښتل، بله ورځ پینځه ډک کارتنونه راغلل، پیسې مې ور وګنلې.

اوله ورځ مې یوازې یو سل او دېرش اوغانۍ سودا وکړه، دېرش ګټه وه، خو لیلما راته وویل چې حوصله به کوې، کاروبار د یوې ورځې خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت ووته، د کارخانې د تنخوا نیمایي هم نه وه پوره شوې. پښیمانه وم، شرکت مې باید نه وای پرېښی.

په ژمي کې کاروبار په ټپه ودرېد، په واورو کې پارک مانا نه درلوده، ښځې نه راتلې.

اول وار مې په نوروز کې بخت بیداري وکړه، په دوو ورځو کې غرفه تش شوه، نوی مال مې را وغوښت. د هوا په تودېدو سره مې یو یخچال واخیست، رنګارنګ انرژیانې مې پکې کېښودې، باغ ته کورنۍ راتلې، ډېګونه یې کول، سړو اوبو او انرژیانو ته ضرورت و.

ما به د میاشتې په اخیر کې حساب کاوه، ګټه یو رنګ نه وه، یوه میاشت به مې تر شلو زرو ډېرې ګټلې وې، بله میاشت به ګټه لس، یوولس زره ته راټیټه شوې وه، روزي نه وه مالومه، خو له ژونده خوشاله وم، لور مې د کانکور امتحان ورکړ، د کابل پوهنتون حقوقو ته کامیابه شوه.

یوه ورځ د درېیم دوکان، دوکانداره راغله، دا یاسمین نومېده، له دې سره مې شناخت درلود، خوږه ښځه وه، د ورځې به یې خامخا یو، دوې پیالې شین چای رالېږه. ښځې د لاسي ګنډنو لوی دوکان درلود. دې مرسته غوښته، ویل یې چې راتلونکې هفته د لاسي ګنډنو یو ننداراتون پرانستل کېږي، یوازې یم، درې ورځې مرسته راسره وکړه، درې زره افغانۍ رانه واخله.

خونبه مې شوه، یو سهار مو د زرتارو ګن کمیسونه په موټر کې واچول، ننداراتون ته ورغلو. ننداراتون ته یې د میدان هوايي پر سړک د ودونو په یوه ښکلي هال کې ځای ټاکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا غرفه مالومه وه، په ګډه مو ګڼ کوچیاني کمیسونه، ټیکري او زریني خولی را وخړولې.

په سبا یې ننداړتون پرانستل شو، ګڼ خلک رامات شول، یاسمین به د هر جنس په اړه تشریحات ورکول، ما به پیسې ګټلې. ماښام مو دخل راټول کړ، څه باندې یو نیم لک افغانۍ وې. په دوهمه ورځ څو خارجیان راغلل، ترجمان یې درلود، له یاسمین سره یې خبرې وکړې، یوې سرې ښځې خپل کارت ورکړ.

درېیمه ورځې ووتې، درې نیم لکه سودا شوې وه، خو یاسمین تر پیسو شناخت ته ډېره خوشاله وه، دې ډېرو کسانو ته خپل کارتونه ورکړي ول، له ډېرو کسانو یې اخیستي وو، ویل یې چې په تجارت کې شناخت مهمه دي، دا رنګه ننداړتونونه دې ډېرو کاروباري خلکو ته ور پېژني.

سم یې ویل، یوه هفته وروسته یوه ښځه راغله، دا ښځه مې په ننداړتون کې لیدلې وه. له یاسمین یې ګڼ کمیسونه واخیستل.

یودم مې قناعت خوښ نه شو، قناعت یانې همدا اوسنی حال، لوی فکر را ولوېد، ما باید اوسنی غرفه پرېښې وای، خو د کار بدلېدا پیسې غوښتې، ما په بانک کې یوازې پنځوس زره اوغانۍ درلودې.

یو سهار یاسمین را غږ کړل، دا بدخشان ته تله، همکار ته یې ضرورت درلود، بل څوک نه ورته پیدا کېدل، د پینځو ورځو یې پینځلس زره راکولې.

خواب مې منفي و. اول مې خپل اولادونه یوازې نه شوای پرېښودلای، بل ښځه وم، بل ولایت ته سفر ښه نه راته ښکارېده. همدا خبره مې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولادونو سره شریکه کړه، د زوی مې خوښه نه وه، غیرت یې نه منله. خو لور مې راته ویل چې موږ څوک نه خوري، بلده به شي، په کاروبار به وپوهېږي، پرمختګ زړورتیا غواړي.

زوی مې په سخته قانع کړ، خو لا یې هم وربوز زړېدلی و. سهار مې یاسمین ته وویل چې تګ ته تیاره یم. دې د طیارې ټکټونه واخیستل، بله ورځ په بدخشان کې وو.

یاسمین شناخته درلود، خو ما هوټل غوښت، پردي کور ته مې زړه نه کېده. خبره یې ومنله. په لومړي ځل پر پاک کټ او پاکه بستره کې پرېوتم.

بله ورځ دواړو چادري پر سر کړې، د باندې ووتو، فیض اباد کوچنی ښار و، په نیم ساعت پلې تګ کې ترې ووتو. نږدې کلي ته ورغلو، یاسمین د یوه کور دروازه وټکوله، یوه زړه ښځه را ووته، له تودې ستړې مشې یې پوه شوم چې د یاسمین شناخته ده.

کور ته ورغلو، کور نه و، د غالیو اوبدلو کوچینی کارخانه وه. ګڼې نجونې کتار ناستې وې، زیاترو یې سرې خولۍ او اوږدې تکې توري چوټۍ درلودې، غالۍ یې اوبدلې. بوډۍ یوه دروازه خلاصه کړه، کوټه له رنګارنګ ګنډ جامو، بدخشاني خولیو او سدریو ډکه وه.

د بوډۍ له خبرو پوه شوم چې دوی دا لاسي ګنډنې له کلیو را ټولوي. خو پتوګان ان له اشکاشمه هم ورته راوړل شوي ول.

یاسمین ځینې لاسي ګنډنې خنډې ته کړې، په ځینو نورو کې یې خپل فرمایش ور کډ کړ، وېې ویل چې په راتلونکو کمیسونو کې باید کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ زرتار او خامک ډېر وي، څه ډول ډیزاین ولري او له کوم ډول ټوکرو استفاده وکړي.

بوډۍ پوښتنه نه کوله، سر يې ژر خلاصېده، پوهېدم چې همدا يې کاروبار دی.

دوی د قيمتونو په اړه هم خبرې وکړې، بوډۍ وويل چې اوس د پخوا غوندې ارزانه جنس نه شي موندلی، دې کار ته د ډېرو خلکو ور پام شوی، ان د پامير غرونو ته هم ورپسې ځي او له پامیربانو لاسي ګنډنې اخلي.

ياسمين چنې ورسره ووهلې، بوډۍ په سخته يو څه را ټيټه شوه. ياسمين د جلا کړيو جامو پيسې ور وګڼلې. اخيري خبره يې وکړه، اخيستي وسايل به ژر کابل ته ور لېږي.

بېرته ښار ته ورغلو، په يوه کوڅه کې د لاسي ګنډنو درې دوکانونه ول، ياسمين له ټولو سره بلده وه، په مبايل کې يې ښې عکسونه ور وښودل، دې په لاسي ګنډنو کې تغيرات غوښتل. دوکاندارانو سرونه ورته خوځول، ګنه يې وه، په ګټه کې بحث نه وي.

په دوهمه ورځ يوه لوی سالون ته ورغلو، ليمڅی او ګيلمان جوړېدل، تر څو غټو تورو دېګونو لاندې لمبې بلې وې، ښځو ورۍ رنګولې. يوې نجلۍ يوه لوی ګدام ته ور وستو. ګدام له ليمڅيو، غاليو او ګليمانو ډک وو. ياسمين خپل تليفون راته ونيو، ما بايد هغه ډيزاين ليمڅي ترې بېل کړي واى چې ليکې او ډېزاينونه يې په عکسونو کې ښکارېدل. زه کېناستم، ياسمين له کارخانې ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما توله ورځ ګډوډ لیمڅي او ګیلمونه سره واړول. سترې شوم، پر ګنډل، نولس لیمڅي او ګلیمونه مې رانبودل شویو عکسونه ته نږدې موندلي ول.

موږ څلور ورځې په فیض اباد کې تیرې کړې، بېرته کابل ته راغلو. یاسمین نغدې پینځلس زره اوغانۍ را وګنلې، خو زه نه پوهېدم چې د نولسو لیمڅیو او ګیلیمونو انتخاب په دومره پیسو او د طیارې په دوه طرفه ټکټ ارزېدل که نه!

نه وه راته مهمه، ما خپلې پیسې اخیستې وې.

ښه و، په باغ زنانه کې مې نورې شناخته هم پیدا کړې، کله کله به په دوکانونو ګرځېدم. د نورو دوکانونو او غرفو په نسبت د لاسي ګنډنو کاروبار ښه چلېده.

یوه ورځ څو دوکاندارانې د یاسمین دوکان ته راغلې، زه هم ورغلم، دوی د یوه ټیکري په اړه سره غږېدلې، ګلانو او ظرافت ته یې حیرانې وې. ماته هم وار را ورسېد، ټیکرۍ مې وکوت، چکن و.

چکن د ماشومتوب دورې ته بوتلم، یو وخت له خپلې مور سره د غزني قره باغ ته د ماما ښلو کره تللې وم، چکن یوازې هلته جوړېده، خاص په قره باغ کې رواج و، هلته یې هم د جوړېدو ساحه ډېره محدوده وه، اندړو او تره کو ښځو نه پر سر کاوه، یوازې د خروټو او دفتانو رواج و.

چکن ته ټولې دوکاندارانې خوشاله وې، نوی ورته ښکارېده. چکن په هماغه ورځ خرڅ شو، یاسمین په همدې یوه ټکري کې دوولس سوه ګټه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر را ولوېد، په باغ زنانه کې يوازې د شمالي ولاياتو او هزاره جاتو لاسي گندنې وې. د غزني هېڅ هم نه ول. نه جولی کميسونه او نه هم چکن نيکرې.

بله ورځ مې همدا خبره ياسمين ته وکړه، علت يې نا امني وگڼله، ويل بې چې دوی شمالي ولاياتو او هزاره جاتو ته له ويرې پرته سفرونه کوي، خو له ميدان ښاره هاخوا نه شي تلای.

خبره يې سمه وه، د جگړو په سيمو کې يوازې وينې خرڅېدې، لاسي گنډنو ته به څنگه د چا پام ور اوښت.

فکر مې وکړ، په کاروبار کې نوی جنس نوی بازار لري، د قره باغ غريبو نجونو له غريبي ورځې را ايستم، خو مشکل دا و چې زه قره باغ ته نه شوای تلای. چا څه کولم، خو ماما خپلو ته به ورتلم، د کلونو کلونو ورکه طاهره موندل کېدله، لېور مې خبرېده، بيا راته کېناسته، ويل يې چې د پلار نيکه شمله مې په تا پورې تړلې ده، عزت ته به مې گورې، واده به راسره کوې.

يوه ورځ د غزني اډې ته ورغلم، گڼ موټروانان راباندې راټول شول، هر يوه ويل چې تر غزني به دې سالمه رسوو. خو ما خروټی موټروان پسې غوښت. يو خوانکی مې وموند، د يوه کلي نوم يې واخيست. زړه ته مې ولوېده، دا کلی به قره باغ کې و.

ده ته مې د چکنو، خولو (لستونو) او نورو خبره وکړه، اول يې تندی تريو شو، خو کله چې يې له چادري زما راوتلي سپين لاس ته وکتل، يو وارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په غږ کې پوستوالی راغی، په خپله راته غږېده، ویل یې چې ...
دوې خویندې هم چکنونه جوړوي.
قیمتونه مې ترې وپوښتل، ویل یې چې هلته یې هره ښځه یا نجلۍ
خپل ځان له پاره جوړوي، کله کله یې پلوري، خو له کلي نه وځي
یوازې هغه څوک یې ترې اخلي چې د واده مراسم ولري. ښه چکن ...
تر زرو اوغانیو لوړ نه دی.
له موټروانه مې دوه چکنونه وغوښتل، باني ته مې پرې نه ښود، ورېنه
مې کړه چې هر یو په څوارلس سوه درنه اخلم، خو شرط مې کېښود
تر ټولو ښه چکنونه به یې راته راوړل.
ما تلیفون نه درلود، موټروان راته وویل چې دریمه ورځ مې همدله
غواړه.
بیانیه مې ورنه کړه، پوهېدم، په دوو ټیکریو موټر نه درنېده، ګڼه یې
لیده، ضرور یې راوړل.
په دریمه ورځ ورغلم، یو چکن مې خوښ شو، بل هم ښه و، خو ګلان
یې ډک نه ول راغلي. همدا یو مې ترې واخیست، خو موټروان شله وه،
دوهم مې نه اخیست. اخیر اتو سوو ته راغی، پوهېدم چې په اتو سوو
کې به یې هم ګټه کړې وي، د دواړو پیسې مې ورکړې.
په هماغه ورځ مې ټیکري یاسمین ته ور وړل، نورې دوکاندارانې راغلې،
ان د هغه چکن په صفت هم نه مړېدې چې ګلان یې تش ول.
ټولو یوه پوښتنه کوله "دا ټیکري دې له کومه کړل؟"
صافه خبره مې ورته وکړه چې د لاین دربور راته راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه چکنونه يوې دوکانداري ور واخيستل، په دواړو کې يې اته سوه ګڼه راکوله، خو بلې مداخله وکړه، زر يې کړې. تيکري مې ورکړل.
ماسپښين ياسمين ور وغوښتم، تندي يې سم نه و نيولی. ويل يې چې په کاروبار کې به ځينې رازونه نه رسوا کوې، پټ به يې ساتې، دې ته د موټروان خبرې خوند نه و ورکړی.
وروسته راسره وغړېده، ويل يې چې ماماخېلو ته ورشه، همدا لاسي ګنډنې را بار کړه، له خرڅېدو يې بې غمه يې، ګټه نيمايي، خو زه قره باغ ته نه شوای تلای.
د ورځې به خامخا څو ښځو د چکنونو پوښتنه کوله.
يو وار بيا ادې ته ورغلم، هماغه موټروان مې وموند، ما چکنونه غوښتل، خو ده د موټر د مخې ښيښه را ښوده، مرمۍ ترې وتلې وه، ويل يې چې دوې ورځې مخکې په جنګ کې ګير شوم، لاره خطرناکه ده، د ټره زوی مې د دوبۍ ويزه رالېږي.
ترې روانه شوم، خو ده را پسې غږ کړل، د تليفون يوه نومره يې راکړه، ويل يې چې دې سړي ته زنګ ووهه. ده په قره باغ کې پنډه ګرځوله. له ښاره به يې کليو ته زنانه توټې او د چکن د ټيکريو د جوړولو نري سانونه وړل، ډېر رواجونه ور مالوم دي.
په هماغه ورځ مې يو ساده تليفون واخيست، ماخستن مې نومره ووهله، غږ زوړ و، سړی توخېده، په سختنه يې خبرې کولې.
په تليفون کې نه سره پوهېدو، د کور ادرس مې ترې واخيست، خو ده د دوکان نښه راکړه، قلعه حيدر ته يې ور وغوښتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلعه حیدر تر کمپنی ډېره پورته وه. سهار ورغلم، یوازې خو دوکانې
ول. تلیفون مې ورته وکړ، نږدې غږ مې واورېد، یوه سپین ږیرې مېږه
هوا ورکوله، له زړې سدرۍ یې مبایل را وایست، غږ د ده له خولې؛
تلیفونه په یوه وخت را ووت.

ورغلم، سپین ږیري د موټرو د پنچري دوکان درلود، له تازه زخمي کړې
گوتې یې وینې څڅېدلې، مخ یې په خاورو کې د پراته ټایر غوندې تک
تور او سپېره و.

مخامخ اسانه وپوهېد، خو ټنده یې تروه وه، ویل یې چې اوس بوډا شوی
دی، په کلیو نه شي گرځېدای، خو ما د گټې خبرې یادې کړې، زړه
ومې ویل چې په هر ټیکري کې ښې پیسې درکوم.

ده یوه ماشوم ته ورناره کړه، ورته ویې ویل چې پر دوکان پام کوه.

په ده پسې روانه شوم، کور یې د نږدې تنگې کوڅې په پای کې؛
ورغلو، کور یوازې دوې خامې کوټې درلودې. یوه زړه ښځه په جونې
کې ودرېده، نور کوچنیان را ووتل، پږې یې بهېدې، پرتگونه یې نه ول.
زړې ښځې په حیرانۍ لاس راکړ، بوډا ورسره وغږېد، ورته ویې ویل چې
موږ واله ده.

کوټې ته ننوتو، دوو خوانو ښځو چکنونه پر سر کړي ول، د زرتارو کار
یې کاوه.

کېناستم، چای او کلکې شیرینې یې راته کېښودې.

د زړې ښځې زړه ډک و، داسې راته وابښېده لکه ډېره پخوانۍ شناخته
چې یې موندلې وي، وار له واره یې د کلي کیسې را واخیستې، یو زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې طالب و، بل اربکی. دواړه په یوه جګړه کې په یوه وخت وژل شوي ول.

دې اوږدې خبرې وکړې، تر خبرو یې ژړا او د پزې کشول دېر ول.

دوې ناستې ښځې یې د زامنو کونډې ورپاتې وې، هرې یوې یې په خوانه خواني کې ګڼ پرله پسې اولادونه لرل، په دې کور کې تر ټولو مشر کوچیني لس کلن و، هغه هم ټوله ورځ له بوډا نیکه سره د موټرو پنچري نیوله.

نور کوچنیان راغلل، د چا پزې بهېدې، چا ټوخل، خینو پرتګونه نه وو اغوستي.

پښتون په ژوند کې بې حسابه دی، خو یو غوا وچه نه پرېږدي، یو ښځه، زیاتره ښځې یو کال هم وچې نه پاتې کېږي، کال په کال اولاد راوړي.
د غم خبرې مې بدلې کړې، زرتارو او لاسي ګنډنو ته لاړم، خو دلته له زرتارو سره هم غم ګډ و، بوډۍ له زاړه صندوقه یوه سپینه ټوټه را وایسته، لیکنه یې په زرتارو ډکه شوې وه، تر غټې زرینې کلیمې لاندې فارسي خط و ، محمد الله ولد عید محمد به عمر ۲۸ سالګي شهید ګردید...
دوهمه ټوټه یې راته کېښوده، دې ټوټې هم له زرتارو ډکه لیکنه درلوده، یوازې نوم او عمر فرق درلود، دوهم زوی یې شپږویشت کلن لیکلی و.
په دواړو ټوټو کې د شهید تکی راغلی و.
دا کورنۍ یو کال مخکې له قره باغه کابل ته راغلې وه، بوډۍ راته وویل چې د زامنو د مرګ یې کال نه دی پوره، دا ټوټې یې نږندو د قبرونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شناختو لپاره جوړې کړې دي. په اختر کې ورځم، همدا توتې يې پر لګنو دروم.

اخير د خوشالي خبره پيدا شوه. له صندوقه درې چکنه را ووتل، ښخو راته وويل چې دا چکنونه يې د خپلو ځانونو له پاره جوړ کړي دي.
هر چکن ته مې يونيم زر اوغانۍ قيمت وټاکه، د ټولو خولې وازې وې، پوهېدم چې دومره پيسې يې د بسته مياشتې خرڅه ده.
وروسته له سپين ږيري سره وغږېدم، ده ته د قره باغ ټول کلي مالوم ول، ده‌بر شناخت يې درلود، ده‌رش کاله يې سوداګري کړې وه، کال مخکې لا په کليو ګرځېده، زياتره ښځې يې پېژندلې، نومونه يې ور مالوم ول، پوهېده چې په کوم کلي کې کومې ښځې او کومې نجلۍ د چکنونه په جوړولو کې وړې ده.
بوډا راته وويل چې په ځينو کليو کې تيار کميسونه هم پيدا کېږي، خولې (لستونې) سينې او لمنې يې په زرتارو جوړوي، په لمنو کې يې ګردې اينې نيول شوې دي.
زړه ښځه هم په دې خبرو ښه پوهېده، دې کوچياني کميسونه ښکلي ګڼل، ويل يې چې شالمي، زوی او لور هم لري.
له ښځې مې مالومات وغوښتل، شالمي له مريو جوړېدل، درې کونجه شکل يې درلود، د کميس پر دواړو اوږو ابښودل کېدل. زوی او لور بيا له مريو جوړ واړه څلورکونجه شکلونه ول چې د ناوې پر لستونو د دې له پاره ګنډل کېدل چې ناوې ته خدای زوی او لور ورکړي.
زړه مې ښه شو، اقلا لور يې نه وه هېره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا ته مې په ګټه کې فیصدي وټاکله، ورته ومې ویل چې دا شیان راته راوړه، دېرش فیصده ګټه یې ستا. دی په فیصدي نه پوهېده، لنډ مې ورته ووېل چې په هرو سلو اوغانیو ګټه کې یې اویا زما، دېرش یې ستا. دی خوشاله و، خو خریداري پیسې غوښتې. فکر مې وکړ، دا خلک له زړه صاف راته ښکارېدل، که صاف هم نه وای، بله لار مې نه درلوده، خطر به مې مانه.

بله ورځ مې دوکان ته اته څلوېښت زره اوغانۍ ور وړې.

درېیم ماخستن مې تیلیفون ورته وکړ، تیلیفون یې بند و.

څلورمه او پینځمه ورځ هم ووته، د بوډا تیلیفون کار نه کاوه. طاقت نه راته، سهار وخته کورته ورغلم، بوډۍ راته وویل چې اندېښنه مه کوه، هلته تیلیفون کار نه کوي، پایې یې ویشتلې دي.

دې د چایو ست وکړ، خو زما غرفې ته ور بیړه وه.

بوډا شپږمه ورځ په خپله تیلیفون راته وکړ، زړه مې بېرته خپل ځای ته ورغی، بوډا راغلی و. سهار وخته ورغلم، غټه غوټه یې راته کېښوده، ټیکري، ګڼ کمیسونه او څو خولۍ وې. ټیکري او کمیسونه ښکلي ول، خو خولۍ مې خوښې نه شوې، نه مې وې ترې راغوښتې، له ورایه یې تاواني چیغې وهلې، هزارګۍ خولۍ یو په سلو ترې ښې وې.

بوډا د یوه یوه کمیس او ټیکري قیمتونه راته وویل، یاده یې کړه چې کوم کمیس یې چیرې اخیستی، له چا یې اخیستی، اول یې په څو بیه کړی و، ده خومره چنې ورسره وهلې دي... په اخیر کې یې څو ... لوټونه راته ونیول. له اته څلوېښتو زرو یوازې همدا پاتې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې نه ګڼل، خو لوی لوټ یې پېنځوسي و، تر دريو سوو نه ډېرېدې.
ور ومې بخښلې، زړې ښځې دعاوې راته کولې.
ټيکسي مې ونيوله، ياسمين ته ورغلم. ياسمين ښه، ميانه او کمزورې
ټيکرې او کميسونه بېل کېښودل، هر يوه ته يې بيه وټاکله، خو خولې
يې ښېرته راکړې، ويل يې چې نه خرڅېږي.
خولې مې په غرفه کې را وځړولې. چا ورکتل هم نه. مياشت ووته،
ياسمين پېنځلس زره ګټه راته ونيوله، ښه وه، خوشاله وم، خو يوې بلې
دوکاندارۍ راته وويل چې يوازې ستا برخه ګټه تر پېنځه ويشت زرو ډېره
راتله.
سر مې پسې ونه ګرځاوه، په ياسمين مې شک نه کاوه. په هماغه ماښام
مې بوډا ته خپله برخه پيسې ور وړې، ورو زړو دعاوې راته کولې.
له بوډا سره مې دايمي خبره وکړه، تاوان يې نه ورته کاوه، مازې په
مياشت کې درې يا څلور ورځې د پنجرې کار ترې پاتې کېده، دومره
کمې ورځې په پېنځو، شپږو زرو ګټه ارزېدې، خو پوه مې کړ چې څه
غواړم او څه نه غواړم.
يو ځل مې د يو لکو سودا ترې را وغوښته، ډېره وه، يو څو ټيکرې مې
نورو ښځو ته هم ور کړل.
ياسمين خبره شوه، د دې په دوکان کې زما پخواني خوړند ټيکرې او
کميسونه يې هم کوځې ته را وغورځول.
دا په غوسه وه، له خولې يې لاړې بادېدې، ويل يې چې دا شراکت نه
شراکت، تا بايد نورو دوکاندارانو ته جنس نه واى ورکړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښځه مهربانه راته ښکاري، ډېره مهربانه. خو لیلما راته وویل چې پېسې بدې دي، ګرانښت له مینځه وړي.

بوخو کمیسونه مې په غرفه کې را وځړول. نور مې کور ته راوړل. خو په غرفه کې هېڅ کمیسونو او ټیکریو ته نه کتل. په ټوله هفته کې مې یو هم خرڅ نه کړ. د لیلما خبره سمه وه، په لوکسه مغازه کې د وطن پلاستیکي ځیلکې کېږدې، ارزښت پیدا کوي. خلکو ته ښې ښکاري. ته هېڅ مه وایه. دوی یې په ځېله خارجي بولي.

له نورو ښځو سره وغږېدم. دوی هم د لاسي ګنډنو کاروبار کاوه. خو یاسمین بې نه شواې خفه کولی. له هغې سره یې د کلونو کلونو کاروبار درلود. پور به یې سره کاوه. یو کمیس بې هم نه راته اخیست.

زړه مې مات و. د کلونو سمپولې پیسې مې خاورې کړې وې.

سبین ږیري خو واري تلیفون راته وکړ. ویل یې چې ژمی را راوان دی. په واورو کې په کلیو نه شم ګرځېدای. که هر څه غواړې، همدا یې وخت دی. خو ما نبغه خبره نه شوای ورته کولی. پوازې ماتله کېدا مې غوښته.

یوه ورځ لیلما راته وویل چې هلته ځای یو لوکس دوکان ونیسه.

دوې خبرې وې. یو خو لوکسو دوکانونو ډېره کرایه غوښته. بل مې په نارینه وو کې دوکان نه شوای خلاصولی.

لیلما پور ته تیاره وه. راته ویې وویل چې په دې خبرو پسې مه ګرځه. اوس ځینې ښځې هم دوکانونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره مې شراکت وغوښت، ومې ویل چې کرایه په ګډه پرې کولی شو، زه به مال راوړم، ته په دوکان کې کېنه، خو دې له ډېره درده وخندل، مېړه یې په ښځو کې هم کار ته په سخته پرهیښې وه.

یو وار بیا چورتي شوم، خندا او اشتها رانه لاړه، په کور کې اېښې کمیسونه مې پر زړه پراته ول.

لور مې یو ځل څو نمونې پوهنتون ته ورسره یوړې، یوازې توکې بې اوربدلې وې، نجونو ورته ویلي ول چې اول مېړونه راته پیدا که، بیا به د واده کمیسونه درنه اخلو.

نه پوهېږم، په ښار کې به پردي ګلپوش موټر ته هم خوشاله وم.

یو وار مې څو نمونې راسره واخیستې ، په کوټه سنګي کې د لاسي ګنډنو څو لوکسو مغازو ته ورغلم، څو کمیسونه مې بیه کړل، بیې بې اسمان ته ختلې، خپلې ور وړې نمونې مې ور وښودې، د دوی تر را خړبدلو کمیسونو ډېر ښکلي ول، خو نخرې یې کولې، خپله بیه یې هم نه راته جوړوله.

همالته مې د دوکانونو د کرایې پوښتنه وکړه، تر ټولو کوچیني دوکان تر درې سوه ډالره کم نه و.

د شپې مې بالښت په اوښکو لوند شو.

سهار مې غرفه خلاصه کړه، لاسي ګنډنې مې په بوجۍ کې واچولې، لیلما ته ودرېدم، ومې ویل:

ـ دا غرفه له دې ټولو شیانو سره په څو اخلې؟

دې حیرانې سترګې راته نیولې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليلما ته مې کيلي ونيوله، هيله مې ترې وکړه چې خرخه يې که.
دې په راوتلو ړدو سترګو راته کتل.
برجي مې کورته راوړه.
ماخستن زنګ راغی، ليلما وه، ويل يې چې غرفې ته يې خريداره پيدا
کړې ده.
تعجب مې ونه کړ، موقعيت يې ښه و، همداسې نه پاتې کېده.
سهار ورغلم، له خريدارې سره مې چنې ووهلې، د اجناسو اخيستې
ليستونه مې ور وښودل، هر څه مې د خريد په بيه وګڼل. غرمه کوټه
سنګې ته ورغلم، په يوه مارکېټ کې هم خالي دوکان نه و.
په اول ځل مې خپنو نارينه وو ته خپله د تليفون شمېره ورکړه، پوهېدم
چې مزاحمت نه راته کوي، چادرې مې نه وه پوړنه کړې.
هفته ووته، چا زنګ ونه واهه.
ورځې ووتې، له کوره ونه وتم. تل به په چورتونو کې ډوبه وم، خو يوه ښه
خبره راغله، زوی مې انګليسي ادبياتو ته کامياب شوی و.
يوه شېبه مې غم هېر کړ، درې خوراکه کباب مې راوغوښت. له اولادونو
سره مې وخندل، ډېر مې وخندل، يو وخت مې اولادونو ته وکتل، دوی
حيرانې سترګې راته نيولې وې، ځان ته مه پام شو، ژړل مې.
اول ځل مې تر لور مخکې زوی په غېږ کې ونيولم، دواړه راته کېناستل،
يوه خبره يې کوله، دوی باور درلود چې زوند اسانه کېږي.
سهار تليفون راغی، ورغلم، په يوه مارکېټ کې يو نسبتاً ګلالی دوکان
خالي شوی و، ښېګنه يې دا وه چې په دې دوکان کې مخکې هم جامې



(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅېدلې، مصرف يې نه غوښت، ان د جامو د خرڅېدلو څنګکونه يې هم لرل.

کميسونه مې ور وړل، ډاډه وم، چا نه راته کتل، په اول منزل کې مې دوې ښکلې نجونې ليدلې وې، دوکانداري يې کوله.

هيڅ کار نه راباندې ولاړه، د څنګ دوکاندار خاله وګڼلم، ده د ماشومانو جامې خرڅولې، راپام يې کړل چې ډکه بوجۍ له هغې نانځکې سره ونه لګېږي چې کميس يې ور اغوستی و او د دوکان تر مخ يې دروله وه، خو کله چې مې چادري پورته کړه، خانم شوم، وار له واره چای راغی، له دواړو لوريو مې د مرستې غړونه واورېدل.

"خانم، څه امر او خدمت."

سر مې پسې ونه ګرځاوه، اول مې دوکان پاک کړ، بيا مې جامې را وځړولې. زده مې وې، د ياسمين ښځګنه مې نه هېروله، په دې يې بوه کړې وم چې څنګه د اخيستونکو پام را واړوم.

په هماغه مازديګر مې يو کميس خرڅ کړ.

سهار د څنګ دوکاندار ته ورغلم، ده وار له واره ترموز ور واخيست، خو ما پوه کړ چې نه خاله يم نه خانم، نه به سره په عذابوو.

تر غرمې مې يو کميس او دوه ټيکري خرڅ کړل. خوشاله وم، راتلونکې ښه راته ښکارېده، خو ماسپښين يو له عمره پوخ سړی راغی، په غوسه و، ويل يې چې زموږ بازار به نه را خرابوې، د دوو زرو وربښمين ټيکری دې په ديارلس سوه ورکړی و.

څه مې ونه ويل، حوصله مې وکړه، اوله ورځ مې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې په خرابو اعصابو پورته وخوت.

ښه وروسته مې بيا د دوکان تر مخ تير شو، لستونې يې تر څنګلو ور پورته کړې ول، له لنډې ږيرې يې اوبه څڅېدلې. پوه شوم چې تشنابونه پورته دي، سړي اودس کړی و.

د څنګ ګاونډي راته وويل چې دا حاجي صيب په اول منزل کې د لاسي ګنډنو دوکان لري.

حيرانه شوم، په دې تيکري کې ماته يونيم سل اوغاني پاتې شوې وې، حاجي صېب نهه نيم سوه ګټلې.

ماخستن مې پيسې وګڼلې، د يوې ورځې ګټه مې ديارلس سوه وه.

سلا بلا مې خندل، چا چې يو کال په اوبو کې لنده دوډۍ خوړلې وي، په يو وار دومره ډېره ګټه خندا ور ولي.

کار ښه و، له هيڅ سره مې مشکل نه درلود، دوکان ته يوازې ښځې راتلې، دوی هم له ما سره خانونه راحته ګڼل، کله کله به د سودا خونده نه وه، خو يوه ورځ به دومره کميسونه خرڅ شول چې د څو ورځو غم به يې واخيست.

بوډا مې په سره زمي کې په نوي مال پسې ولېږه. دا وار مې سر سم خلاصېده، پوهېدم چې کوم ډيزاين، کوم رنګ او کوم جنس ښه بازار لري. بوډا ته مې د ښېنو کميسونو او تيکريو عکسونه ورکړل، ورته ومې ويل چې ښځې وبوهوه، دوهم ځل همدا تغيرات تري غواړم.

پوهېدم چې زما فرمايشونه منل کېږي، د کلي ښځې مظلومې وې، په لومړي ځل يو چا لاسي ګنډنې ورنه اخيستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوهم جنس کې ټول تغیرات په پام کې نیول شوي ول.

یوه ورځ مې په اول منزل کې د حاجي صاحب په دوکان کې هم ښه خه وموندل چې ما له غزني را غوښتل.

لا ښه و، د کلیوالو ښځو خواري بې ځایه نه تله، خو بیا به هم ډېرې ښځې ماته راتلې، کله کله به په خپلو مینځونو کې سره وغږېدې، ویل به یې چې همدا کمیس یې په لاندې منزل کې په پینځه زره بیه و.

سودا مې ښه وه، هغوی چې ډېره ګټه کوله، کم جنس یې خرڅاوه، ما کمې اخیستې، ډېر جنس ووت.

د اوړي په اوله کې بوډا ډوډی وکړه، د جومې ورځ وه، زه او اولادونه مې ورغلو. خامې کوټې رنګ شوې وې، د پلاستیکي فرش پر ځای مستعمله غالۍ ویړه وه.

زړې ښځې په غېږ کې ونیولم، ژړل یې، ویل یې چې له تا سره مو ژوند ښه شو.

بوډا د پنچري دوکان پرېښی و، ده به ډېر وخت په غزني کې تېراوه، اوس له قره باغه پرته مقر او اندړو ته هم ته.

زړې ښځې دا وار د غم کیسې نه کولې، له اسراته غږېده، اول یې نوې کاسې را وښودې، بیا یې د ګولیو پاکټونو ته ودرولم، ویل یې چې اول وار ډاکټر ته ورغلم، د پښو د کلونو کلونو درد مې ښه شو، دوی پخوا د موټر زاړه ټایرونه سوځول، اوس د ګازو نوې درې کیلوبې دبه پوره دنیا ورته ښکارېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان هم دا وار يو څه پاک ښکارېدل، پزې يې نه بهېدې، پرتګونه بې اغوستي ول.

له دې انا او نيکه مې يوه ژمنه واخيسته. راسره وېې منله چې اول خزمنې به خپل لميسان مکتب کې اچوي. ما نجوني هم يادې کړې، نا امېده بې نه کړم.

ځينې خلک پيسې لري، ژوند نه لري، ځيني خلک پيسې نه لري، خو به ژوند پوهېږي. بودا پيسې پيدا کړې وې، ژوند ور مالوم و.

زه هم د ژوند په رموزو پوهېدم، خپله مې ښه ژوند نه و تېر کړی، په نس نه وم مړه، خو د نورو ژوند پوهولې وم، وار له واره مې په خوشال خان کې يو، يو منزله پاک کور کرايه کړ. کور غټه شنه حويلی درلوده، مازديګر به له خپلو اولادونو سره لمر ته کېناستم، پام مې و، دلته ښځې کار ته تلې، د ځنګ د کورونو پردې نه کش کېدې.

اول وار مې زوی او لور ته مبايلونه واخيستل، تو‌له ورځ به مو نه سره ليدل، د احوال اخيستلو له پاره ښه ول.

په يوه کال کې مې دوه وارې په نمايشګاوو کې ګډون وکړ، ډېرو خارجي دفترونو غوښتل چې ښځې له اقتصادي اړخه په پښو ودرېږي. پروژې وې، د ګنډو لاسي ګنډنو فرمايشونه راتلل.

په اول ځل مې بانکي حساب ته ډالر ورغلل.

اوس مې عمده سودا هم خرڅوله، کله کله به مې په يوه جنس کې تاوان وکړ، خو به دوهم جنس کې به دومره ګټه راته پاتې شوه چې تاوان به يې ژوندی وخوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غریب اسانه نه شي پورته کېدای، شتمن په سخته خوارېږي. زه اوس شتمنه وم. له هرې خوا پيسې راتلې.
اول پسرلی مې په خوشال خان کې یو، یو منزله کور واخيست.
لور مې يو ځل بیا خفه شوه، دا وار ډاکترانو ته حاجت نه و، ما مینه تجربه کړې وه، علامې یې نه رانه غلطېدې، نه مې ډاکتر ته ور وسته او نه مې تر وېښتو کش کړه، وار له واره مې ورته وويل چې څوک دي؟
چېرته اوسي او څه کاروبار لري؟
دا وار دې هم ډېرې نخرې ونه کړې. پر یوه همصنفي مېينه وه، دواړه سره ګران ول.
بده نه راباندې ولګېده، لور مې خوانه شوې وه، واده یې حق و، هلک مې په تلیفون کې سهار چای ته را وغوښت.
غنمرنګی ډنګر ځوان راغی، په ښله کوټه کې سره کښناستو. ځوان په اولو کې وارخطا و، خو وروسته یې د تندي خولې په خپله وچې شوې.
عمومي مالومات مې ترې وغوښتل، دوی پينځه ورونه ول، په کرايي کور کې اوسېدل، مور او پلار يې ژوندي وو.
له عمومياتو را ووتم، اوله خبره مې وکړه:
- لور مې ښځ کور غواړي.
خواب یې مفني و. ویې ویل چې دومره پیسې نه لرو، که وای هم ښځ کور نه شم ورته نیولی، زه به هغه کسان ځنګه پرېږدم چي درويشت کاله يې مينه راکړه، ويې روزلم. که به ناروغ وم. دوی به هم راسره ناروغه ول، که به روغ وم، راسره خندل به یې. په خپله به ورې ګرځېدل، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به يې په نس موړ ساتلم، لمر ته يې ورنه کړم، درس به يې راباندې ووايه او زما له پاره به يې سختې وګاللې. کورنۍ مې ژوند دی، نجلۍ به په همدې کور کې را سره اوسي.

ده ته يې کورنۍ ارزښت درلود، لور ته مې يې هم ارزښت ورکاوه.

ومې ويل:

ـ زما لور درباندې ګرانه ده؟

سر يې وخوځېد:

ـ هو.

ـ څومره؟

ـ ډېره.

ـ څومره؟

نبغ يې راته وکتل.

ومې ويل:

ـ د لور له پاره مې تر ځان تېر يې؟ مرګ منې؟

يو واري يې وخندل:

ـ نه. زه يې د ژوند له پاره غواړم.

کافي وه، ده زما لور د ژوند له پاره غوښته. بله خبره مې ونه کړه. له خوانه مې د هغه د کور ادرس واخيست، مازديګر له مغازې علاوالدين ته ورغلم، بې نخښې کورونه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور مې وموند. هلک خوار ژوند درلود، مور یې یوې کوټې ته ور ننه‌
بو تنکی ځوان او دوه ماشومان کتابونو ته پراته ول، تنکي ځوان په بېړه
پښې ور ټولې کړې، بخښنه یې وغوښته. له کوټې ووت.
دوی په نزاکت پوهېدل. بخښنه مانا نیمایي انسان.
نیمایي نورې خبرې یې مور راته وکړې، دلته په دریو کوټو کې لس
کسان اوسېدل، یوازې مشر ورور یې واده درلود. نور ټول واړه ول، مکتب
ته تلل.

غټه غټه نه غږېده، په غریبي نه شرمېده. د کور ټول عاید شل زره
اوغانۍ وې، وچه یې خوړله، زاړه یې اغوستل خو خپل اولادونو یې
کورسونو ته لېږل.

ورور یې چای راوړ، ټیکري یې ډېر لنډ و، پوښتنه مې ترې وکړه، جامې
یې په خپله اخیستې، د رنګ او انتخاب واک یې هم خپل و، هېڅا نه
و ورته ویلي چې لمنه دې لنډه یا اوږده ده.
همدا یو مثال بس و، دې کور ته تان نه راته، ښځو ته دا نه ویل کېدل
چې له همدې یوه تانه د کرکیو پردې او خپلې جامې جوړې کړي. دلته
ښځو دومره ازادي درلوده چې د خپلو جامو رنګ په خپله وټاکي.
نورې کوټې مې ولیدې، مستعملې ایرانی غالۍ پاکې وې.
ماخستن له لور سره کېناستم، د خلکو غریبي مې یاده کړه، خو هغه
نجونې چې نبستمن ژوند یې تېر کړی وي، ډېر توقعات نه لري، دې د
مورک له خولې وج اتام (د دودی ټوټه) را ایستلی و، له غربته نه
وېرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې منله، خو شرط مې کېښود، د کوژدې مراسم به ژر نيول کېدل، خو واده به کال ته کېده. دوی کال وروسته له پوهنتونه فارغېدل.
مراسم ساده ول، خپلوان نه وو، لبور او يو دوه ليري ترېرونه مې ول، خو ما نه خبرول. بوړا، سرکاريګري او ليلما ته مې تليفون وکړ، تولې نه، خو څو ښځې راغلې، له سر کاريګرې مې د شرکت د زړې صفاکارې پوښتنه وکړه، ويل يې چې هغه پخوانۍ سبکه نه ده ورپاتې، ډېر وخت ناروغه وي.
خلور زره اوغانۍ مې د علاج له پاره ور ولېږلې.
يوه ورځ ليلما راغله، ژړل يې، ميړه يې د بډودو (پښتورګو) تکليف درلود، تداوي يې پيسې غوښتې، ور مې کړې.
مياشت وروسته مې زنګ ورته وواهه، راغله، وريادده مې کړه چې په شريکه به يو دوکان ونيسو، کار ته کوه، پيسې يې زما.
غربت پر اجازه زورور دی، وبې منله.
ليلما پاکه او زړه سواندې ښځه وه، په سخت وخت کې يې لاس راکړ، غرفه يې راته ونيوله، اوس بايد ما له خاورو را پورته کړې وای.
په نوي ښار کې مې دوکان ونيو، کمې لاسې ګنډنې مې ور بار کړې.
ليلما په کار پوه ښځه وه، تاوان يې نه راووړ.
کارونه ډېر شول. له وسه مې وتلي ول، د ليلما په مرسته مې خپل دوکان ته يوه کاريګره ونيوله، ماغزه يې وح نه ول، له کار سره ژر بلده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته دوکان ته ډېره نه ورتلم، يوازې خريدارې به مې کوله، خود دواړو دوکانونو مديريت ته مې پام و، ان د يوې اوغانی حساب به مې هم کاوه.

يوه ورځ په ټيکسي کې کېناستم، له کلونو وروسته شوربازار ته ورغلم. نه ورتلم، ټبرې ترخې خاطرې يې را يادولې، خو يو چا د يوه ترکمن د کور ادرس راکړی و، ويل يې چې د کور ښځې يې ښکلې غالی اوبدې. په شور بازار کې ډېر تغير نه و راغلی، هماغه پخواني خام کورونه، تنګې کوڅې، او چټلې ويالې وې.
غالی مې وليدې، په ناز اوبدل شوې وې، ګلالی ښکارېدې، خو له سرې سره په بيه جوړه نه شوم، د ده په قيمتونو کې ګټه نه راته پاتې کېدله.

يوازې مې زړه راته وويل چې پخواني کوڅې ته ورشه.
ورغلم، د پخواني خام کور پر خای پخې کوټې جوړېدې.
ودرېدم، د حويلی دېوالونه پر خای پاتې و، يوه ته ورغلم، په دېوال کې زوړ مېخ لا نه و ايستل شوی. ښه مې په زړه و، دا مېخ مې د جامو د تناو له پاره ټکوهلی و، پر مېخ مې لاس تېر کړ، ګوتې مې وسولولوې، د مېخ زنګو سرې کړې وې. يو غږ مې واورېد:
- له چا سره مو کار و؟

ور ومې کتل، يوه سړي د سيمينټو بوجۍ ګنډلې. بل څوک نه و، نو پوښتنه په همدې سړي کړې وه. له هغه مې د کور مالک وغوښت.
نېغ يې راته وکتل، په سترګو کې يې حېراني پرته وه.

له ده سره مې خبرې وکړې، دا کور يې درې مياشتې مخکې اخيستی و.

يو ځل مې بيا حويلۍ ته وکتل، د پخواني کور هيڅ نښه نه وه پاتې، بوازې د بډرف پر ځاه لا هماغه پخوانۍ دبله تخته پرته وه.

تېنه شوم، له خاورو مې د يوې ماتې کاشۍ يوه وړه ټوټه را پورته کړه، د نشناب سپينه کاشي مې وپېژندله، ټيکرۍ مې پرې تېر کړ، وځلېده، په دې ځلا کې مې خپلې چيغې، ساندې او له بزې را ځځبدلې ځاځکې وينې ولېدې.

لاسونه مې مړه شول، کاشۍ ولويده، خو په پښو کې مې دومره زور و چې پرې وخېژم، کاشۍ مې د بوټ لوړې تېرې پوندې ته سيخه کړه، د ماتېدو له ټکا سره مې په مغزو کې پخوانۍ چيغې ورکې شوې.

له سړي مې د مامور قدوس پوښتنه وکړه، خو ده په دې نوم څوک نه پېژندل، دومره يې وويل چې دا کور يې له يوه ازبکه واخيست.

يوه شوم، کور څو وارې خرڅ شوی و.

څو گامه شاته راغلم، په زړه کې راتېره شوه چې د حويلۍ دروازه همدلته وه. مامور قدوس به همدې ځای کې په زور مجې رانه اخيستې وې.

د مامور قدوس له تصوارو ډکې

يودم مې ايق کړل،په خوله کې مې واخيسته، د کوڅې تر سره په يوه ترخې لاړې را وگرځېدې، منده مې واخيسته، د کوڅې تر سره په يوه سا لاړم، بېرته ودرېدم، مامور قدوس مې بايد موندلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات ته ورغلم، ملا مې وار له واره وپېژاند، خو ده ونه پېژندلم، نه و ملامت، اوس د کلونو مخکې هغه خره پره طاهره نه وه ورته ولاړه چې تیکري یې درې پینې درلودې.

ملا اودس کاوه. ډېر فرق نه و پکې راغلی. هماغسې تک سپین مخ او سپین پاسته لاسونه یې ول، طبیعي وه، پوستکی هغه وخت بدلېږي چې توله ورځ سره لمر او سړې هوا ته موجیتوب وکړې، په کولبه پسې روان شې، درېیم منزل ته خښتې پورته کړې، خو ده هېڅ کار نه کاوه، ژمی به ترکي بخارۍ ته ناست و، اوړی به د جومات د چت اته پکې به یو وار ورته تاوېدلې، ډوډۍ یې هم چربه وه، نوبت و، خلکو ورته راوړه، لمونځ یې خپل کاوه، خو قیمت یې له نورو اخیست. پر هر کور د میاشتې دوه نیم سوه اوغانۍ حواله وې.

له ملا مې د مامور قدوس د کور پوښتنه وکړه، حیرانې سترګې یې را واړولې، ادرس یې نه راکاوه، ذهن یې په اسانه لوستل کېده، پاک او حیاناکه مامور قدوس به دې سپین سترګې بې چادري پردۍ ښځې څه کاوه!

ورته ومې ویل چې پوروړې یې یم.

نرم شو، ادرس یې راکړ.

د ده په خبره کور یوازې دوې کوڅې مزل غوښت.

کور مې په اسانۍ وموند، نانوایي یې ښه ښه وه.

یوې وړې نجلۍ د لرګي خیرنه دروازه راته خلاصه کړه. له اجازې پرته حویلۍ ته ورغلم. څاه ته نږدې بوه په عمر پخه ښځه په ختو کې خیرن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښت ته ناسته وه، لاسونه یې تر څنګلو لوڅ ول، جامې یې مینځلې.
یوه ځوانه نجلۍ را ووته، جارو کړې خاورې یې تر چوترې لاندې
واچولې، بېرته د کوټې وره ته ور وګرځېده، خو یودم ودرېده، مخ یې را
واړاوه، له هماغه ځایه یې را غږ کړل:
- موږ تر پینځو کلونو کم ماشومان نه لرو.
پوه شوم، دې د واکسیناتورې ګمان راباندې کړی و. خو زه چوترې ته
ور وختم. په عمر پخه ښځه هم حیرانه ودرېده.
وار له واره مې ورته ووېل چې مامور قدوس غواړم.
داواړو یو بل ته وکتل.
حیرانې مې ور لنډه کړه، ومې ویل چې یو وخت مو په پخوانې کور کې
اوسېدم.
دواړو هیڅ حرکت نه درلود، د ډېرو غوندې وچې ولاړې وې، په پخوانې
کور کې ډېر خلک اوسیدلې ول، دې ښکلې ښځې په مامور قدوس څه
کاوه؟!
اول له عمره پخه ښځه ژوندۍ شوه، لاس یې راوغځاوه، بیا ځوانې نجلۍ
په چوتره کې یو زوړ لیمڅی راته وېړ کړ، تولې کېناستو، خو لا هم د
دواړو سترګې له حیرانۍ ډکې وې.
ومې خندل، چای مې وغوښت، خو د دوی شونډې ویرې نه شوې، یوه
شیبه غلې وې، ښځې، نجلۍ ته د چایو د راوړلو اشاره وکړه، کور ته د
بوی... ښځې د ورتګ علت مالومول په یوه پیاله چای ارزېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یودم له کوټې چیغې راغلې، اول یوه کوچنۍ نجلۍ راووته، وروسته د وښتو د ړمنخولو زوړ برس پسې راغی، برس په تشت کې ولوېد، د صابون ځګنې اوبه باد شوې.

ښځه ورغله، له کوټې د ښځې پوچې خبرې را ووتې، درب شو، په کوټه کې یوې بلې نجلۍ وژړل.

اوله ماشومه د حویلۍ په دروازه کې ودرېده، جږ، خیرن وښته یې لرل، په مخ کې یې د خیرو تورې لیکې ښکارېدلې.

دوی باید دا وخت جنګ نه وای کړای. پوهېدم چې دا ځل زما وار دی، له لاسه به مې نیسي، تر دروازې به مې باسي.

ښځه راغله، تنده یې تروه وه، ویې نه شرلم، خو د شړلو له پاره یې مقدمه جوړه کړه، ویې ویل چې زما مېړه څه کوې؟

لنډ مې ورته وویل چې یو وخت د تاسو په زاړه کور کې اوسېدم.

په خوله کې را ولوېده:

- له هغه وخت سره کومه علاقه نه لرم، د اوس خبرې کوه، اوس څه غواړې؟

ومې خندل:

- تاسې له مېلمنو سره داسې رویه کوئ!

غلې شوه، خو لا یې هم تندې ننوتې ګونځې درلودې.

ویې ویل:

- خو مېلمنه باید وپېژنو، ته څوک یې، ولې یودم کور ته راغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلی یو زوړ پتنوس پر غولي کېښود، په پتنوس کې توره لوګي وهلې شنه زړه چاینکه، یو ګیلاس او څو کلکې شیریني وې.

ښځې ته مې وکتل:

ـ دا دې څه ده؟

ښځې ته غوسه ورغله، په خوشکه یې وویل:

ـ هله نو، زه کار لرم، ګیلاس در اخله.

نجلی وویل:

ـ ابی، بده ده.

ښځه له چوترې کښته شوه، د جامو مینځلو تشت ته کېناسته.

نجلی پیاله راته ډکه کړه، ویې ویل:

ـ خوا مه بدوه، وخت خراب دی، تېره میاشت څو کوځې لاندې یوه کور ته دوې ښځې ورغلې وې، ویل یې چې د واکسین والې یو، په کور کې نارینه نه ول، یوازې یوه ښځه وه، ټرلې یې وه، د کار شیان یې ترې وړی ول.

ومې ویل:

ـ ته د مامور قدوس لور یې؟

ـ هو.

ـ مکتب وایې که پوهنتون؟

یودم یې غټې تکې تورې سترګې له اوښکو ډکې شوې، مخ یې واړاوه.

په غریو کې یې وویل:

ـ یو هم نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځې له غوسې ډکه ناره راغله.

ـ نجلۍ مه بې لارې کوه، هله نو، مخ دې ورک که.

ګیلاس مې را پورته کړ.

ښځه نېغه راته ودرېده، ویې ویل:

ـ پوهېدم چې بې څه نه یې راغلې، له اوله پساتي (فساتي) راته ښکاره شوې، که عزت درباندې ګران وي نو په پټه خوله له کوره ووځه.

نه تلم، په ما باندې عزت ګران و، د عزت له پاره راغلې وم، ما باید هغه ځوک لیدلی وای چې زما عزت ته یې په سپکه کتلي ول.

ومې ویل:

ـ یو وخت د تاسو په زاړه کور کې اوسېدم.

یودم یې تر مټ ونیولم، چیغه یې کړه:

ـ بس ده، کانګې مه راوله، دا درېیم وار دی چې همدا یوه خبره رانه کوې.

په ولاړېدو کې مې وویل:

ـ د دوو میاشتو کرایه راباندې پاتې ده.

د ښځې ګوتې مړې شوې.

کېناستم.

ومې ویل:

ـ هغه وخت نیستي راباندې راغله، وتښتېدم، کرایه همداسې پاتې شوه.

ښځه د چوترې پر ژۍ کېناسته. سر یې وخوځېد، یودم یې وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي ويل:
ملامته، ما باید په اول کې درته ویلي وای.
په بې
بنځې په زړا کې خپلې لور ته اشاره وکړه، نجلی لاړه، په یوه واړه قاب
کې یې په حساب درې چاکلیټ راوړل. چاکلیټ د ډېر وخت راته
بکاریدل، د کاغذونو زر ورق یې تللي ول.
ما ګیلاس را واخیست، خو ښځې زما بکس ته وچې سترګې نیولې وې،
په بکس کې به خامخا د دوو میاشتو د کرایې پیسې وې. نه وه غلطه،
سم فکر یې کړی و، ما ترکمن غالی خرخونکي ته بیانیه را اخیستې وه،
سودا ونه شوه، پیسې پر خای پاتې شوې، خو کرایه مې چیرې ورکوله،
مامور قدوس مې لید، یوازې یو خل، لاړې مې ور تو کولې، تلم.
ښځه په خپله راته ګډه شوه. دوه زامن او یوه لور یې ول، زامنو یې د
بایسکلونو د ترمیم ورکشاپ درلود، یوه ته یې واده کړی و، خلور لونې
یې درلودې، د نیستي له لاسه یې ګذاره سخته وه.
وروسته د خبل مېړه په اړه راته وغږېده، ناروغ و، بله لاره یې نه درلوده،
کور یې د علاج له پاره ورته خرڅ کړی و.
دې بدې ورځې کولې، وچه ډودۍ یې په سخته موندله.
ښځو او ماشومانو ته مې خوا بده شوه، خو مامور قدوس لا د لاړو په تو
کېدو ارزېده.
ګیلاس مې کېښود. حوصله ختمه وه، داسې مې باید لیدلی وای.
تیټ وره ته مې سر تیټ کړ، د تیاره کوچیني دهلیز سوړ بوی کڼونه
منځکې د کونډې نمجنه کوټه را په زړه کړه. نجلی یوې دروازې ته لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور وغخاوه، دې کوټې غټه کړکۍ درلوده، رڼا وه، کونج ته یو څوکۍ په ټادر کې پروت و، یوازې یو غوږ یې ښکارېده.

په زړه کې را تېره شوه چې منډه ورباندې ور واخله، پر غوږ یې غاښونه ور ټینګ که، پر خپلو ژامو اخیري زور راوله، غوږ په غاښونو کې تري پورته که، څه.

خو حوصله مې وکړه، یو وار مې باید د مامور قدوس مخ لیدلی وای.

نجلۍ خپل پلار ته ودرېده، په خواره خوله یې وویل:

- شېراغا!

سړی غلی و.

نجلۍ وویل:

- یوه ښځه دې لیدو ته راغلې ده.

سړی وچونګېد.

خامخا به چونګېده، یوه ښځه یې لیدو ته راغلې وه.

نجلۍ خپلې مور ته وکتل، مور یې اشاره ورته وکړه، نجلۍ کېناسته، د خپل پلار له مخه یې ټادر لیرې کړ.

یوه شېبه مې په حیرانۍ ورته کتل، د سړي د غومبرو هډوکې پورته راختلي ول، سپینه اوږده ږیره یې درلوده، زړه مې نه منله چې دا دې هاغه پخوانی ښوی مامور قدوس وي.

نږدې ورغلم، ده په راوتلو زړو سترګو راته کتل. خولې ته مې یې پام شو، کړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځې غږ راغی:

- کال مخکې یې د وینې فشار پورته شو، حمله ورباندې راغله، په څو ډاکترانو مو وگرځاوه، ټول یوه خبره کوي، وايي چې په اعصابو کې یې کوم رگ بند دی، د بدن یوه خوا یې هېڅ حرکت نه لري. ژامه یې هم کږه ده، له خبرو لوېدلی، خو سترگې او غوږونه یې سم دي، پوهېږي. ښځې خبرې کولې، ما سړي ته کتل، ده له ما سترگې نه اړولې. پېژندلې یې وم؟ نه پوهېدم.

ده یوازې راته کتل.

ور مخته شوم، ومې ویل:

- زه ستاسو په زاړه کور کې اوسېدم، کونده یم، په یاد دې دي؟! د دوو میاشتو کرایه مې نه شوای درکولای!

له وارخطا سترگو یې پوه شوم چې زما له شوندو اخستې تودې مچې یې په یاد وې.

وخوځېد، وچونگېد، لور یې مرسته ورسره وکړه، تر اوږو یې بالښت ور لاندې کړ، سر یې یو څه پورته شو.

ومې ویل:

- یو وخت دې یوه بوشکه غوړي، بوره، چاکلېټ او شیریني راته راوړې وو. په زړه دې دي؟

ده یوازې راته کتل.

ومې ویل:

- یل وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



چونګېدا يې ډېره شوه، خبره مې ونه کړه.

ښخې وويل:

- مامور صیب همداسې زړه سوانده او مهربانه انسان دی، کوم وخت چې جوړ و او تنخوا به يې درلوده، له ډېرو کونډو سره يې مرسته کوله، خو بې ورته بدېده، کله کله به ماخستن يودم له ډودۍ ولاړ شو، ګوله به يې نه تېرېده، ويل به يې چې دا څنګه مسلماني ده، زه به د پسه ښوروا خورم، د کونډو او بې سر پرسته ښځو ماشومان به وږي ناست وي، هېڅ امکان نه لري، څو وارې به يې له دسترخوانه ډکه کاسه ور واخيسته، بوې ګاونډۍ بې سرپرسته ښځې ته يې ور وړه.

د سړي سترګو ته مې وکتل، ومې ويل:

- مامور صیب پېژنم، ښه يې پېژنم، يو وخت يې له ما سره هم ډېره نيکي کړې وه.

د سړي سترګې ړندې راختلې وې.

ومې ويل:

- په ياد دې دي؟

په سترګو کې يې وارخطايي ډېره شوه.

دا فتح سړی مې څه کاوه، دې مردار خور ته خدای جزا ورکړې وه، پوهېدم چې دا څلور هدوکي وچ، له پښو او لاسونو لوېدلی، کړه خوله مامور قدوس تر څلورو مياشتو نه اوړي، په تېره اخبره مې نه شرماوه، خو د ده راوتلې سترګې ډېرې وارخطا وې، دې خبرې ته مې زړه نه خوږ چې دا وارخطا سترګې به ښځه او لور شکي کړي، ډاډه وم، زياترو ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدوس غونډې نارینه هم ملایکې ښکاري، په زړه کې یې هم
ته د مامور
ته ورګرځي چې مېړه به یې په نیمو شپو د بې وسه ښځو دروازې
ورخلاصوي، په غېږ کې به یې نیسي، مچې به ترې اخلي، خو ډېر نارینه
داسې نه دي، د خپلې ښځې پر غاړه خدایي سور بخار به هم د یو چا
د غاښ نښه ګڼي، وهي به یې، ټکوي به یې، حتی وژني به یې.
له دستکوله مې پیسې را وایستې، په یاد مې وې، د ده د دوو میاشتو
کرایه شپږ زره کېږي، خو ما لس زره ورته کېښودې. ولاړه شوم.
پړانه سړي ته مې وکتل، ومې ویل:
ـ له خدایه نه یم خبره، خو ما بخښلې یې.
موږ او لوړ نېغ راته وکتل، خو بیا یې هم کوم شک وانه خیست. مامور
قدوس اسماني موجود و، اول به یې کونډې او یتیمان مړول، بیا به یې
خپله ګوله ور اخیسته، خدای به ولې نه بخښه!
د سړي په سترګو کې یو وار اوښکې ورغړېدې. څه یې وویل، پوه نه
شوم، یوازې غریو پکې ګډ و، خبرې یې داسې وې لکه کوم ماشوم چې
نوې خو تکې زده کړي وي، مانا نه ترې اخیستل کېږي، ګډوډ یې وایي.
خو لوړ یې پوهېده. ویل یې چې پلار مې بخښینه درنه غواړي.
ښځه ورغله، د سړي پر ډنګرو، لندو غومړو یې د خپل ټېکري پېڅکه
تېره کړه، مانه یې وکتل، د غمرګو سترګو بانه یې سره ور وستل، مانا مې
ترې واخیسته، د سترګو پېټولو یې پوه کړم چې یو څه وایم، خو ته مه
خفه کېږه، خبره مې یوازې ناروغ سړي ته د زړه ورکولو له پاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببرته یې سرې ته وکتل، ورو یې وخندل:

ـ ته نېک انسان یې، بخښنه باید دا درنه وغواړي چې کرایه بې نه ور درکړې.

سرې یودم وژړل، ژړا خبرې نه دي، روغې یا کړې خولې ته ضرورت نه لري، ژړا له زړه راوځي، د دې سرې زړه ژړل.

هماغسې را ووتم، د حویلۍ په دروازه کې له شا ناره راپسې راغله:

ـ ته ملایکه یې!

ونه درېدم، په تنګه کوڅه کې چټکه روانه وم، یوه زړه ښځه راته ودرېده، یو بغله ترې تېره شوم، ښځې راپسې غږ کړل:

ـ لورې! خیریت دی؟!

خان ته مې پام شو، ټیکرۍ مې په غاړه کې پروت و، ژړل مې.

د مامور قدوس له پاره مې نه ژړل، د خان له پاره مې ژړل، د خپلو پخوانیو سختیو له پاره مې ژړل، د تېرو بې وسیو له پاره مې ژړل، د دې له پاره مې ژړل چې په دې ټولنه کې به څومره مامور قدوس دوی د څومره کونډو او بې وسه ښځو له بې کسی او مسکینی استفاده کوي، په زور به یې په غېږ کې نیسي، مجې به ترې اخلي، عزت ته به بې قیمت ټاکي "یو ساعت راسره تېر که، د یوه کال له کرایې بې غمه بې" دلته ډېر کم کسان له نیستمنو او بې سرپرسته ښځو سره د خدای له پاره مرسته کوي، ډېر خلک یې په چادري کې پټ، اندام هم لوڅ لېږ تصور کوي، په ذهن کې یې د خیاط غونډې ناف اخلي، ان د جزارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډې په اوو تږتو کې پټې ملا ته یې هم اندازه تاکي، څومره به وي؟ نرۍ که پنډه؟ !

عمر یې هم استانه مالومولی شي، که په تېر کې چادري نبغه ولاړه وه، خوانه ده، خریدار لري، که خړېدلې وه، نه ارزي. پښې یې د عمر بله نښه ده، که یې سپینې او صافي پښې درلودې، یودم یې پیریان ورته ونیسي، وربانديې مهربانه شي، اول یې واړه زوی یا لور ته لسګون ورکړي، بیا ایسکریم ورته واخلي، وروسته یې په خپله له اجازې پرته، د کوز بام ته ور وخېژي، واورې یې واچوي، له بامه ببرته کوڅې ته توپ کړي.

بیا کور ته یو څه خوراکي مواد ور ولېږي، مخکې نه ورځي، وار له واره سپین سترګي تاوان لري، په اول کې باید حیاناکه ښکاره شي، اعتبار پوخ کړي، خوراکي مواد په حویلۍ کې ورته ږدي، ان ور ګوري هم نه، ببرته یې تیت سر له کوره وځي.

بل خل ماخستن ناوخته دروازه ور وټکوي، نرم عطر یې وهلي وي، خپل ګروېونه به یې بل وي، خو په ټوله کوڅه کې به له یې کسه ښځې د برق پوښتنه کوي.

"برق لرئ که نه؟ زموږ خو نشته."

ښځه به لنډ ځواب ورکړي، خو دی به یې په اسانه نه پرېږدي، اول به ووایې چې د برق له لاسه یې په کور کې یو غوړپ اوبه نشته، بیا به خپل قیمتي مبایل راوباسي، چارج به یې بوره وي، خو دی به د ښځې سترګو ته مړ کړي تلیفون ونیسي، ورته وبه وایي چې تلیفون یې تکی چارج

(c) Ketabton.com: The Digital Library



نه لري، وروسته به تليفون له خپل خيالي کاروبار او تجارت سره وتړي،
وبه وايي چې د موټرو په شورم کې شريک دی، دوی موټر له دوبی
راغواړي، خو کله کله دلته هم کومه واره ناکه سودا وکړي، نن مې يو
موټر وليد، گرانه و، خو يوازې رنگ يې په دې ارزېده چې زر ډالره اضافه
ورکړم. خو بيا مې هم چنې ورسره ووهلې، اخير په دوولس زره ډالره
ورسره جوړ شوم، بيانيه مې ورکړه، خو کارونه ډېر دي، د ورځې د څو
موټرو سودا کوم، شبېه مخکې نوي اخيستي موټر شک را واچاوه،
تليفون مې يو فيصد چارج هم نه لري، هېر مې شول چې د موټر د
اسنادو پوښتنه ترې وکم، پاک دي که باقيداري لري.

دی به چتيات وايي، خان به غت غټ ښيي، خيالي سرمايې به يادوي،
د نظافت مراعاتول به ښه گڼي، له خولې به يې د چناسو او ورستې
غوښې بوی خيږي، خو د خولې له بويه به بد وړي، د غاښونو مينځل
به يې خوښېږي، خو فکر به يې گنده وي. ددوزې به ترې خېژي.

غوېږې به، د خپلې مهرباني او خان ښودلو له پاره به چتيات غږوي،
خو مسکينه، بې کسه ښځه به يې د مجبوری له مخې خبرې اوري، دا
به په وېره کې وي، خدای خدای به کوي چې کوم گاونډي يې په کوڅه
کې تېر نه شي، خو ده ته به هېڅ هم نه شي ويلای، خان به يې د
احسان پوروړې گڼي، سړی به سوکه سوکه اصلي خبرې ته زمينه سازي
جوړه کړي، وبه وايي چې خير، که غربه يې، خو خدای ښايسته پيدا
کړې يې، بل څوک دومره غټې سترگې، اوږده بانه او سپين، نوراني مخ
نه لري...جذابه يې، ډېره جذابه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې نه به دا خبرې خوند نه ورکوي، همدا ګړی به یې وړي، په خولو کې ډوب، ناروغ کوچیني ته ور ښېره وي، خو بیا به هم څه نه وایي.
دې به جېب ته لاس کړي، کوچیني کاغذ به را وباسي، په کاغذ کې به د تلیفون تیاره شمېره لیکل شوې وي، ښه به پوهېږي چې ښځه به وچه پوډۍ پورې حیرانه ده، مبایل نه لري، خو سړی به شېبې ته خبره جوړه کړي، وبه وایي چې په دې ورځو کې غله ډېر شوي دي، د شپې کورونو ته ور اوړي، خو هېڅ خوا مه بدوه، مه وېرېږه، په دنیا کې ړی مه وهه، زه خو یم، د شپې یوه بجه مازي مسکال راوکه، پر دېوال در اوړم.
که ښځه د ده په حماقت پورې هم وخاندي، سړي به کار جوړ ګڼي، ورځې، خامخا پر دېوال ور اوړي.
ښځه به په زړه کې بېداره وي، د ده په ناولي نیت به پوهېږي، خو بیا به هم ورته وایي چې ډېره مننه، که کومه خبره وه، حتما درته وایم، بخښنه به ترې وغواړي، دروازه به پورې کړي، خو دی به د وره په لیخک کې پښه کېږدي، که زړور و، حمله به پرې وکړي، په غېږ کې به یې ونیسي، مچې به ترې واخلي، رنګه به یې کړي، که بې زړه و، بیا به هم اعتبار نه خرابوي، وبه وایي چې خیر، ښه او بده پېښېږي، د ورځې هم غېږ کولای شي. خو په جنسي فقر اخته زیاتره کسان به کوندو او بې کسه ښځو زړور ورځي، پوهېږي چې د پوښتنې څوک نه لري، شرم خو هسې هم نه ترې کوي، خپل مصرف او مهرباني بې نتیجې نه پرېږدي.
په زوره یې په غېږ کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتره دا ډول بې کسه، مجبورې او بې وسه ښځې د غولو ځاه نه لري، یوازې ژاړي، له نمجن کوره وځي، لیري ځي، د ښار په بله څنډه کې یوه زړه کوټه په کرایه نیسي، خو دلته هم مامور قدوس دوی ته سپړمې یې پورته نیولې وي، بوی کاږي، رمباړې وهي، ژر پوهېږي چې کوځې ته نوې کډه راغلې ده. اه! ځومره بختوره کډه! کونډه له خدای پرته هېڅ هم نه لري. ښه ده، د پوښتنې یې ځوک نشته، مېړه نه لري، ځوانه جانه ده، که یې شهوت قانع نه کړي، نو د اولادونو تشې ګېډې یې ژر قانع کوي.

دوی خدای هېر کړی، هېر نه، هسې یې هم هېر وي، ښځه به په کمیس، تیکرۍ، بنیان او چادرۍ کې پټه وي، خو دوی ته به له شاتو ډک بې سرپوښه مرتبان ښکاري. په دې اړه به فکر کوي چې ځان ځنګه ور نږدې کړم.

نږدې کېدا هم ډېر فکر نه غواړي، مازې یې اولادونه په اوښو کې له وچې لندې شوې ډوډۍ را پورته کړه. خو نبغ نه شي ورتلای، اول په کوڅه کې د کونډې یا بې کسه ښځې د ماشومانو پر سرونو د مهربانۍ لاس ور تېر کړه، پاپړ یا ایسکریم ورته واخله، بله ورځ یو لسګون ورکړه. بېړه مه کوه، اول به باور پیدا کوې، کونډې ته باید مهربانه ښکاره شې، یوه هفته وروسته یوه پینځه لیتره بوشکه غوړي، چارک بوره، پاو چای او یوه خلطه ارزان بیه چاکلیټ ور وړه، خدای مهربانه دی، کار جوړېږي.

دا خلک په ګنده توب کې هم له خدایه مهرباني غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ يې که، په چټلي کې چې څومره خلی وهې، بوی يې ډېرېږي.
زړغونې کور ته راغلم. ټوله شپه مې د مامور قدوس د بښخې په اړه فکر
کاوه، مظلومه وه، هر څه يې منل، خو په خپل مېړه يې د مردار خوري
شک نه راته. که سجده روا وای، پزه او تندی يې پر خاورو ورته اېښودل.
ډېر کارونه ډېره ګرځېدا غواړي، کله کله به مابنام ناوخته کور ته راتلم،
چاره نه وه، يوه لوکسه ټوډي مې واخيسته، سپين ږيری موټروان مې
ورته ونيو. موټروان به ډېر وخت په خپل کور کې و، يوازې د ګرځېدا په
وخت به مې راغوښت.
يو ماخستن مې د کاروبار شريک بوډا ټليفون راته وکړ، اوله خبره يې
زيری و، ويل يې چې په قلعه حيدر کې يې په اته لکه يو کوچينی کور
واخيست.
خوشاله شوم، مبارکي مې ورکړه، ده راتلونکې جومه د غرمې ډوډۍ ته
ور وبللو.
سهار مې موټروان نه را وغوښت، زحمت مې نه ورکاوه، موږ د بوډا په
کور کې څو ساعته پاتې کېدا غوښته، د ده دومره ماتلي نه نه وه.
زوی مې له خپلو همصنفيانو سره پغمان ته ته، مېله يې درلوده، موږ ته
يې ټيکسي راوسته، زه او لور مې موټر نه وختو. بوډا په ټليفون کې
ادرس راکړ، نوی کور مو ونه موند، دا وار په خپله سړک ته راغی، هغه
پخواني تور، زېږه لاسونه يې نه لرل، مخ يې تک سپين و، سپينه ږيره
يې خلېدله، پاکې اوتو کړې جامې، توره نوې سدرۍ او وړينېمينه
لونګی يې درلوده.

(c) Ketabton.com: The Digital Library



نوی کور له سرکه لړ لیرې و، ورغلو، خام دېوالونه یې لرل، خو کله چې مې دروازه خلاصه کړه، په وړې ګلالۍ حویلۍ کې درې رنګ شوې پخې کوټې ولاړې وې.

زړه ښځه له خپلو نږندو سره مخې ته راغله، د ټولو خولې له خندا نه سره ورتلې، تر ما او لور غېرې را تاو شوې، دوی زموږ ورتګ ته خوشاله وې.

کوټې ته ورغلو، ډله پاک او اسراتمن ماشومان، نجوني او هلکان اوږده غزېدلي ول، چا تلویزیون ته کتل، ځینو کتاب وایه، نورو رسمونه لیکل. په عمر یو څه لویو ماشومانو بخښنه وغوښته، پښې یې ورټولې کړې، خو وړو ماشومانو کارتون ته کتل.

نجوني او هلکان په نسونو ماړه ول، پزې یې پاکې وې، په غومبرو کې یې سرخي ښکارېده.

پاک چای راغی، نوی ترموز و، د غټې مېوه دانۍ ټولې شپږ خانې له مختلفو وچو مېوو ډکې وې.

له چایو وروسته یې په کوټو وګرځولم، سرې غالۍ وېړې وې، د کمرنګه ګلابي پردو لمنو ښکلي زرتار درلودل، بودۍ راته وویل چې دا یې د نږندو کمال دی.

غرمې ته هم پر دسترخوان اول څو رنګه لنده مېوه، سلاته او د کاغذي دستمالونو کوټې کېښودل شوې، وروسته قورمه او کابلي پلو راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا اوس ها پخوانی بوډا نه و چې وچې تودې ډوډۍ او شنه چای ته
بې سترګې ختې، ده ته بېله پرهېزانه باندې وه، د چرګ ښوروا وه، ویل
بې چې له وریجو سره یې نه ده جوړه.
د غم خبرې نه وې، کوچنیانو او لویانو خندل، ګیلې یې هم اسراتمنې
وې، بوډۍ ویل چې سږې مې د حج قول راسره کړی و، خو ده کور
واخیست.
بوډا خپل لاس پر تټر کېښود، ویې ویل چې یو حج دې پر ما پور دی،
بیایم دې، خو تر حج مخکې به اول ځانته واده کوم.
دوی له ورو خبرو خوند اخیست، خندل یې، ولې به یې نه خندل، له
کرابې خیرن کوره را وتلې ول، په نس ماړه ول، لمسیان او لمسی یې
مکتب ته تلل، خوارې پخوانی ورځې یې په زړونو کې هم نه ور تېرېدې،
د ډاکتر او دوا پیسې یې درلودې.
عزت یې کېده، بوډا حج نه و کړی، یوازې د حج نیت یې درلود، خو
ګاونډیانو مخکې له مخکې حاجي صاحب باله، د جومات په اول صف
کې به ځای ورته پرېښودل کېده.
خوک وایې چې خوشالي به پیسو کې نه ده. ده. حتما ده. پیسې به
سلا بلا خندا درولې.
دا بوډا او دا کورنی مې مخکې هم لیدلې وو، د بوډا تور، چاودې،
زخمي لاسونه، لمر سوځولې سپېره مخ او غوړ- پر خیرن کالي مې نه
هېرېدل. د بوډۍ ذګیروي او اوښکې مې په یاد وې، د نرندو لوګي
وهلي تور غومبرې مې سترګو ته ولاړ ول، خو دوی اوس تایرونه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځول، په زېرزمیني کې یې غوړې کړې ترکي بخارۍ ایښې دي، اشپزخانې یې ښکلې الماري درلودې، د ګاز چلې ته پینځه لس کیلویي ډبه تړلې وه.

بس! مور ته ویل شوي دي چې خوشالي په پیسو کې نه ده. دا خبره دوه رنګه خلک کوي. یو ډېر شتمن او بل هغه څوک چې په اوبو کې لنده ډوډۍ خوري.

شتمن د وړي له حاله نه وي خبر، دوی خاندي، فکر کوي چې دنیا خوشاله ده.

ډېر غریبان بیا د ناچارۍ له مخې خپلو ځانونو ته تسلیت ورکوي. اول، دوهم ته وواېي چې هاغه حاجي صاحب دې په یاد دی؟ دوهم حیران پاتې شي، ده ډېر حاجیان لیدلي وي، ډېرو حاجیانو ته د یو وخت ډوډۍ، یوې خورما او تسبو له پاره ورغلي وي. اول سړي ته وواېي چې کوم یو؟ خو اول به نوی مثال نه لري، دی به د لسو کالونو مخکې خبره وکړي، ولي! هاغه پلانی حاجي صبب یادوم، هاغه چې به لاهور او کراچۍ کې یې دوکانونه ول، نیم کابل یې اخیستی و. په یاد دې شول. دوهم به د هو په ښښه سر ورته وخوځوي. د اول سړي سترګې به وځلېږي، وبه واېي چې خوشالي په پیسو کې نه ده، هماغه حاجي کروړپتي و، خو خدای داسې ناروغي ورته پیدا کړې وه چې په اوبو کې یې له لندې ډوډۍ پرته بل څه نه شوای خوړلی. بس! په دومره جایداد، دومره کلدارو، اوغانیو او ډالرو کې د خدای له نعمتونو بې برخې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لی کاله مخکې به په زرو شتمنو کې یوه عمر خوړلي شتمن سړي د معدې تکلیف درلود، اوس به مړ و، خو دوی به یې اوس هم یادوي، ورته خوشاله به وي، وایې به چې په دومره پیسو کې د دنیا له نعمتونو محرومه گرځېده، خو اوسني نهه سوه نهه نوي نور روغ، جوړ، خوشاله او اسراتمن شتمن به نه ویني.

زه خو په غربت کې نه وم خوشاله، اوس مې هم له بدنه د کونډې د لنډې کوټې نمجن بوی ته، د اولادونو سپینې ژبې او راوتلې پښتۍ مې له ذهنه نه وتې، د گاونډي ایسکریم مې نه هېرېدل، د مامور قدوس کرایه او په حویلۍ کې اینبې پینځه لیټره غوړي، بوره او ازران بیه چاکلیټ مې پر زړه ولاړ ول. په ختو کې ناسته طاهره مې له یاده نه وته...

دا دروغجن تلقین دی، دوی خپلو خانونو ته دوکه ورکوي، هغه ښوک به ښنگه خاندي چې د موړک له خولې چناسنه دوډۍ را وباسي او خپلو اولادونو ته یې لنده کړي، هغه چاته به ښنگه خندا ورځي چې ناروغ ماشوم یې مرگي حال پروت وي، خو دی د یوه پاکټ گولیو د اخیستلو وس نه لري او په راوتلو زړو سترگو د خپل زړه نیکمنو، مړو سترگو ته گوري او وروستۍ ساوې یې شماري.

یوه خبره ده، دېر غریب به یا له ډېره دردره خاندي او یا به رواني ناروغي لري.

له لاسه مرگ حاله اولاد یوازې به زړه کې تشې گېډې او د بې وسۍ پیجلې چونډۍ لري. خندا نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کورنۍ اوس خندل، په نس ماړه ول، خندا يې طبيعي وه.

يوه ورځ مې له يوې موسسې سره قرارداد وکړ، دوی دوه هدفه لرل. د بې وزله ښځو لاسي ګنډنو ته بازار موندنه او د افغانستان د لاسي صنايعو بيا را ژوندي کول.

په پروژه کې يوه بله ماده هم ليکل شوې وه، موږ به دوه ويشت داسې خوانې ښځې او پېغلې نجونې موندلې چې د لاسي صنايعو په ورکشاپ کې يې ګډون کړی وای.

ورکشاپ دوې هفتې و، نجونو او مېرمنو ته به څو چنده ډېله کرايه، په مربوطه برخه کې د لاسي صنايعو وسايل، پينځه نيم سوه ډالره او د غرمې ډوډۍ ورکول کېدله.

پروژه لويه وه، د غاليو د اوبدلو برخه يوې ترکمنې يووړه، د هزارګي ګليمانو قرار داد بې يوې باميانۍ ته ورکړ، ليمڅي يوې ښاري کوچۍ ته ور ورسېدل، دا په مکرويانو کې اوسېده، تخلص يې کوچۍ وه، خو د اوښ له عکسه هم ډارېدله.

د کميسونو او ټيکريو برخه ما يووړه، پيسې يې ښې وې، خو منډې يې هم ډېرې درلودې.

موږ ته يې درې ورځنۍ ورکشاپ ونيو، يوې تکې سرې انګرېزې درس راکاوه، ترجمانې بې هم تنګ پتلون درلود، خو دوی دواړه د کوچيانې جامو ، اقچه بې غاليو او ازبکې خوليو په اړه راته غږېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې انګرېزه د انګلستان د جامو او ډیزاین په باره کې راته غږېدلې وای، خبرو یې خای درلود، خو دې زما د وطن د لاسي صنایعو په اړه خبرې نه کولې، چټیات یې ویل. ورنږدې هم نه وې.

فکر مې وکړ، مور ته یوه انګرېزه د کوچیاني کمیسونو د لمنو په اړه غږېده. دې به زرګونه ډالره تنخوا درلوده، په انټرکانټیننټال کې به اوسېده، درېور او باډیګارډ به یې درلودل.

دا وطن همداسې دی، د زهنیتونو د جوړولو له پاره ملیاردونه ډالره مصرف شول، خینو لګښتونو تر یوه حده خای ونیو، خو ډېرې پیسې هوایي راغلې، هوایي لاړې، ذهنیتونه یې لا ولړل.

ما په اوله کې ورته ویلي و چې امنیت خراب دی، تر میدان ښاره ها خوا نه شم تلای، ویې منله، ویې ویل چې کابل ښار له کلیوالو ډک دی، خوک چې په پغمان کې هم اوسېدل، د نا امنۍ په خاطر ښار ته راغلل.

سم یې ویل. د رغوي په اندازه ښار کې کابو اوه میلیونه خلک اوسېدل. بو وار بیا له کلونو وروسته کمپنۍ ته ورغلم. د دواړو سړکونو مینځ له کنار موچیانو ډک وو.

موټروان ته مې وویل چې موټر ودروه، ده موټر څنډې ته کړ، ترې کښته شوم. په سپین ږیرو موچیانوپسې وګرځېدم، یو مې هم ونه موند، خو څنیور موچې مې له ورایه وپېژاند. په همانغه خړو خاورو کې ناست و. ورغلم، خبره یې د پخوا غوندې تکه توره وه، د مخ ګونځې یې ډېرې شوې وې، په اوږدو څنو کې یې سپین ډکې له ورایه ښکارېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگ شوي پاک بوټونه مې وایستل، ده په بېړه په زړو سپیرو څپلیو څپله لمن تېره کړه، مخې ته یې راته کېښودې، پام مې و، زما سپینو پښو ته یې نه کتل.

دا نه چې د زم زم په اوبو لمبېدلی و، هماغسې مردار مخ یې درلود، خو دا وار یوه شتمنه عصري ښځه ورته ولاړه وه، یوازې بوټونو یې دوه نیم زره افغانۍ ارزښت درلود، قیمتي مبایل یې په لاس کې و.

اه غربته، که غریبه یې، د هېچا سترګې به نه درنه شرمېږي، زړور به پرې درځي، بوجۍ به درته هواروي، که لیرې ترې کېناستې، ناري به درو هي، مرداره به ورته ښکارې، فاحشه به دې بولي.

شل اوغانۍ مې ورکړې، ده لسګون راته ونیو، ور ومې بخښلې. په جینګه خوله یې مننه رانه وکړه.

یوازې یو لسګون هم بې ادبه خلک با ادبه کوي، خوله یې د (فاحشې) پر ځای (مننې)ته جوړوي، خلک تل له شتمنو سره په ادب غږېږي. ادب یې زده نه وي، خدایې یې زده شي.

نانوایي ته ورغلم، سوالګري ښځې کتار ناستې وې، ټولو ته مې یوه یوه دوډۍ واخیسته، جینګې خولې یې ببرته خپلو ځایونو ته ورغلې، دعاوې یې کولې.

پوهېدم چې په درد نه خوري، لاسي ګنډنې به یې چیرې زده وې، خولې یې یوازې خواست ته جوړې وې، که یې کار کولای، دلته به نه وې ناستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان ته مې زنګ وواهه، راغی، یوه دقیقه وروسته د کوندې وره ته ودریدم. دا کور مې نه هېرېده، له شوربازاره په تیاره کې له یوه زاړه پلاستیکي فرش سره ورته راغلو، تیاره وخت مې پکې تېر کړ.
د کوندې نږور را ووته، ویې نه پېژندلم. یو وار به یې لوکس موټر ته غاړه کړه کړه، بیا به یې زما مخ ته وکتل، وروسته به یې زما په کین لاس کې د سرو زرو شپږو بنګړیو ته سترګې تیتې شوې.
د کوندې پوښتنه مې ترې وکړه، پلار یې مړ و، وردګو ته تللې وه.
بې اجازې حویلۍ ته ورغلم، ښځې هېڅ ونه ویل، غریبې ښځې به له دروازې خوابېدې "نه شته! خدای دې یې درکړي" خو قیمتي موټر او زما د سرو زرو شپږو بنګړیو اجازه نه غوښته.
ښخه راپسې وه، نیغه خپلې کوټې ته ورغلم، د پخوانی نمجنې کوټې سوړ بوی لا دېر شوی و، یوي خواته خو مات لرګي، زوړ صندوق او یوه زنګ وهلې بخاری ایښې ول.
دېوالونو ته مې وکتل، هماغه پخوانی به خاوروسېره رنګ یې پاتې و، په دې رنګ مې ما او ورو اولادونو دېرې خواری ایستلې وې، تېلو لندو ختو رنګ نه اخیست.
کرپا راغله، یو موړک له لرګیو را ووت، چټکه منډه یې واخسته، په کونج کې واره غار ته ننوت.
له موږ سره د دې موږک نیکونه عادي ول، دوی هم له غریبو شرم نه درلود، سم به کور را ګډ ول، په رڼا ورځ به رانه ګرځېدل، په سخته پیدا کړې وچه ډوډۍ کې حق درلود. یو وار یې زما د کړې وچه ډوډۍ کې حو یې سم دم نمامې حق درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويده وړې لور په پزه خوله ور ولگوله، بل وار په نيمه شپه د زوی په چيغو را ويښه شوم، موږک يې په تتر کې ننوتی و.

يوه شېبه ودرېدم، يو واري خندا راغله، په همدې زړه کوټه کې مې څلورو سوو پيدا کړيو ډالرو ته ويلې سندرې را په زړه شوې.

ښځې په حيرانی راته کتل.

هېڅ مې ونه ويل، کراره له کوره ووتم. د کوڅې تر سره لاړم، شانه مې وکتل، ښځه په وره کې ولاړه وه. راکتل يې.

د برق د ميترونو بکسې ته ودرېدم، همدلته يوه ږيرور سړي لوڅ مخ ليدلې وم، تمه يې راته پيدا شوې وه، تمه نه، نغده چغده يې گڼلې وم.

يوازې گډې پرېوتا ته زمينه سازي پاتې وه، خپلو ډنگرو ماشومانو يې په ژوند ايسکريم ته ژبې نه وې را ايستلې. خوند يې نه و ورمالوم، دومره نه پوهېدل چې ايسکريم تريخ دی که خوږ، خو ده وار له واره زما وړو اولادونو ته ايسکريم اخستي ول.

موټروان راغی، مخکې ورسره کېناستم، څو کوڅې لاندې لاړو.

زما د پخواني کور کوڅه ډېره تنگه وه، يو موټر هم په سختنه تېرېده، خو خلکو په خېله لار راکوله، اول وار يو سپين ږيری د چتل لښتي خوانه ورغی، يوه پښه يې د لښتي پر يوه څنډه کېښوده، بله پر بله، بيا يو خوان ډېوال ته جوخت ودرېد.

په دې کوڅه کې هېڅ تغير نه و راغلی، د پخوا غوندې له بوبه ډکه وه، هماغه چتل لښتي يې لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخواني کور تر مخ تېره شوم، خپلې کوټې ته راښکارېدې، تر دېوال نېنې وې، خو د څنګ دوه منزله کور سم مالومېده، پردو ته مې وکتل، کش نه شوې، ډېل برېتونه نه ول.

دوکان ته ورغلم، د پخوا غوندې سپین رېرې او ځوانان ناست ول.

همالته له موټره کښته شوم، لوڅ مخ وم، په سترګو مې هم خوارې کړې وه، خو هېڅ هم نه راته کتل. راته کتل یې، خو بې شهوته سترګې وې. یوه بوډا یو ځوانکی سپک کړ، پلاستیکي څوکۍ یې کوڅې ته را مخته کړې وه، د اجیانی لاره باید ازاده وای.

خو زه ترې تېره نه شوم. نېغه دوی ته ودرېدم، دا وار مې په ګڼو ځوانو او زړو سترګو کې حیراني ولیده، خبره مې ونه غځوله. د کار خبره مې را واخیسته، اول مې په تلکه کې د کورت ټوټه کېښوده، پینځه نیم سوه ډالر مې یاد کړل، بیا د لارې کرایې ته ورغلم، په اخبر کې مې ورته وویل چې د ورکشاپ له پاره پېغلې نجونې او ځوانې ښځې غواړم.

دوی غلي ول. پوهېدم، په ذهنونو کې یې پینځه نیم سوه ډالره ور ګرځېدل. په اوغانیو یې حساب ورته کاوه، ډېرې پیسې وې. وچ خواب نه وو، دومره پیسې په فکر کولو ارزېدې.

اخیر یوه په عمر پاخه سړي چوپتیا ماته کړه. مخالفت یې ونه کړ، خو له ده سره د محرم اندېښنه وه.

ورته ومې ویل چې محرم ته ضرورت نشته، ټولې ښځې دي، سره کاېېږه انګرېزه درس ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه پوښتنه يې د کرايې او د غرمې د ډوډۍ په اړه وه، ويل يې چې تر دفتره به نارينه ورسره ځي، خو د لارې کرايه او ډوډۍ به ورکوي. وچ خواب مې ورکړ، د نارينه وو له پاره نه کرايه وه، نه ډوډۍ. ان د موسسې د دروازې په پنځوس ميتري کې يې هم نه پرېښودل.

له لارې څو نور کسان هم را وگرځېدل، ما هېڅ نه ويل، دوی په خپلو کې خبرې سره کولې، نور هر څه سم ول، يوازې د محرم په اړه خبرې کېدې، ځينو ته سخته وه، خو نورو د ښار د مختلفو سيمو مثالونه ورکول، ويل يې چې هېڅ خبره نه ده، څوک يې څه کوي! د خدای زور ښځې کارونو ته ځي، نجوني به په چادريو کې پټې وي، ان استاده يې هم ښځه ده.

د کوپر خبره يې نه کوله، سره انگرېزه استاده شوه، " ان استاده يې هم ښځه ده." شک يې نه کاوه، په زړه کې ووړ شک هم تاواني کول، شيطان کاپير ډېرې پيسې له گوتو ترې ايستې.

د دوی خبرې اوږدې شوې، فيصله يې وکړه چې دا خبره به د ماسپښين له لمانځه وروسته په جومات کې يادوي او په گډه به سلا سره کوي چې سياسرې ولېږي که نه.

حوصله مې کولای شوای، لمانځه ته کم وخت پاتې و.

زه له يوه کوچيني سره د کوڅې د وکيل کور ته ورغلم.

دله ښځې او پېغلې را ووتې، نه پوهېږم، خو سترې مشې يې توده وه. پينځه نيمو سوو ډالرو وزرې درلودې، تولې خبرې وې.

په حويلۍ کې تر غټ توت لاندې سره غالۍ راته ويړه شوه، توشکې پلورېدې، په لسو ثانيو کې مې شاته اينبې بالښت دوه واري بدل شو " نا پوست دی، دا لږ کلک."

چای يې راووړ، دوه رقمه چاکليټ او بادامي نقل ول. په نږدې اشپزخانه کې د لوښو کړنګا ډېره شوه.

حويلۍ ته ګاونډيانې را ماتې شوې. وړه خبره نه وه، دالر راتلل. په ښځو او ځوانو نجونو کې پټه وم، له هرې خوا پوښتنې کېدې، د پرکشاپ د وخت، ځای، او د لاسي صنايعو د نوعيت په اړه يې مالومات غوښتل.

بېروبار ډېر شو، د وکيل ښځې دروازه وتړله.

ناستې نجونې او ښځې خوشاله وې، زما د نوراني مخ صفتونه کېدل، د ملا صيب زړې ښځې وار له واره د شاتو، شيدو او شرابو پيالو ته ور وستم، ما شات او شيدې ښه ياد کړل، خوښ مې ول، شرابو خوند نه راکاوه، خپل شرابخور مېړه يې را ياداوه، خو د ملا ښځې په خندا راته وويل چې د هغې دنيا شراب پاک نه لري، نښه پرې ورځه، زړور به يې څښې.

د دې له قوله به د چرګ کباب شوی ورون په خپله زما خولې ته راته، جنتي خوندور مرچ او مصاله به يې هم درلوده، ما به نور زحمت نه ايست. مازې غاښونه به مې پرې لګول، تشناب يې هم نه غوښت، هر څه له خولو سره وتل، خولو هم د مشکو بوی درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملا ښځې د خپل مېړه له قوله ویل چې که څوک بل مسلمان نه خیر ور ورسوي، ځای یې جنت دی. دې سر له اوسه په جنت کې لیدم. د ماسپښین له اذان سره ډوډۍ راغله، لوبیا او ښوروا وه، خو غوښه خامه وه، پوه شوم چې غوښه خاص زما په خاطر ناوخته دېگ ته لوېدلې ده.
څه باندې دوې بجې څو کلیوال راغلل، ښځې نه ترې شرمېدې، مازې چوترې ته وختې، سپین ږیري ول، دوی د جومات له پرېکړې خبره کړم، ویې ویل چې هېڅ خبره نه ده، د دوی ښځې او نجونې نارینه نه ویني، مشکل نشته، خو زما دوهمې خبرې یو دم احساساتي کړل، دوی فکر کاوه چې کم له کمه به شلو نجونو او ښځو ته کار ورکوم، خو ما ټولې نجونې له همدې یوه ځایه نه شوای انتخابولای، د موسسې اصول همداسې ول، ما باید له مختلفو سیمو ښځې نیولې وای.
د موسسې له اصولو مې خبر کړل، ورته ومې ویل چې له پینځو کسانو ډېرې نه شم نیولی، خو دوی نه منله، ویل یې چې په جومات کې به اتفاقي مه راجوړوه، ډېرې غواړو.
چنې شروع شوې، اخیر اتو ته ورپورته شوم. قناعت یې نه کاوه، له هرې خوا نارې راتلې، دوی ډېرو نجونو ته کار غوښت.
اته مې لس کړې، خو لا هم اوربوزونه څرېدلي ول.
ولاړه شوم، ټولو په حیرانۍ راته کتل، ومې ویل چې په خپله سره کېنښنۍ، د لسو داسې پېغلو او ځوانو ښځو نومونه ولیکۍ چې په لاسي ګنډنو کې بې ورې وي.

ته مرې خوا ناري راغلې، ويل يې چې مور ته غم مه پرېږده، نجوني به په خپله انتخابوي.

کېناستم، اول يو په ظاهره پاک سپين ږيری را مخته شو، د کوڅې وکيل و، ويل يې چې که نور وي، که نه وي، خو د ده لمسی او د ملا صيب لور حتمي دي.

د وکيل له لمسي سره چا مخالفت ونه کړ، خو د ملا لور ته ټول ډونګېدل، ويل بې چې د ملا لور به ګرېوانونه څنګه جوړوي، په ټول ژوند يې ستن او تار نه دي ليدلي، خو وکيل قانع کړل، دليل يې دا و چې همدې ملا صيب پردې انګرېزي ته د نجونو لېږل ناجايزه ونه ګڼل، اجازه يې راکړه، ويې ويل يې پروا نه لري، خو که يې يو وار ويلي وای چې نه، بيا به مو څه کول؟!

دوې نجونې انتخاب شوې، اته پاتې وې. د دې اتو نجونو ټاکل اسانه نه ول، خلک ډېر وو، شمېر کم، هر سپين ږيري د خپلې لور، لمسۍ يا نږور صفتونه کول، ويل يې چې په لاسي ګنډنو کې بې جوړې دي.

ناري ډېرې شوې، نه سره جوړېدل، په چوتره کې ناستو څو زړو ښځو هم غږونه پورته کړل، بخوانۍ خبرې بې را واخيستې، ويل بې چې جومات ته څو واري راغلې مرستې هم وکيل او د جومات ملا غيبې کړې، غريب ته څو داني سېږرې لوبياوې هم ور ونه رسېدې.

دا خبره د وکيل پر ښځې بده ولګېده، بوې ښځې ته يې څو پېغورونه ورکړل. سوالګره بې وبلله، خو په دې خبره چېرې قانع کېده، زړه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډک و، ورته ویې ویل چې زما مېره به یوه بوشکه غوړي او یوه بوجی لوبیا راوړې وي، ستا لور خو له پردي کلینر سره وتښتېده.

سپکې سپورې ډېرې شوې، رښتیا، دروغ، پټې خبرې را ووتې، د چا لور د دوکاندار له زوی سره جوړه وه، د چا د نږور پر سینو د کوڅې خیاط لاس تېر کړی و، د چا د ښځې عکسونه د همسایه د زوی په مبایل کې لیدل شوي ول.

د وکیل ښځې څلور ښځې له کوره وایستې. دروازه یې ورپورې وتړله، خو دا څلور ښځې له بوټې نه وې پیدا، د چا مېره په کوڅه کې ولاړ و، د چا زوی، د چا خوان لمسی.

دروازې ته تېرې ونیول شوې، له کوڅې پوچ او پاش راتلل، وکیل بې مرده ګاو باله.

خو وکیل د مرده ګاوي په کیسه کې نه و، غوږونه یې کانه واچول، ده باید په خپلو مخلصو ګاونډیانو کې اته ښځې را معرفي کړې وای.

خبرې تودې وې، نه سره جوړېدل. ساعت ته مې وکتل، د مازدیګر څلور بجې وې. ولاړه شوم، خو دوی بیا کېنولم. دا خبره باید همدا نن او همدا ساعت فیصله شوې وای.

اذان راغی، خو یو هم لمانځه ته ور ونه ووت، جومات یې څه کاوه، ببکاره خو نه ول، دوی جومات ته یوازې د ببکارۍ په وخت کې تلل، اوس د پیسو خبره وه، یو لمونځ دې بیا قضا وای.

ارې ډېرې شوې، هر يوه خپله لور او لمسى مستحقې ګڼلې، کمالونه
بې نه خلاصېدل. بله لاره نه وه ، ودرېدم، ومې ويل، هغه ځوک به
تنخنېږي چې د لاسي ګنډنو نمونې يې ووينم.
منډې شوې. پيغلې او ځوانې ښځې له کوره ووتې.
وکيل يوه ماشوم ته د کاغذ او قلم د راوړلو ووېل، ماشوم لاړ، بېرته راغی،
په ټول کور کې قلم او کاغذ نه وو.
ما له خپله بکسه قلم او کاغذ را وايستل، اول مې د وکيل د لمسى نوم
او ولد وليکل، بيا مې د ملا صيب.
بيا خبره مې هېره وه، موسسې يو يو عکس هم غوښت. په اخير کې
بې شهادت نامې ورکولې، عکس ضرور و.
همدا خبره مې په نه زړه وکيل ته وکړه، خپله يې کوم مشکل نه درلود،
تنده يې تروه نه شوه، خو د ملا صيب نظر ورته مهم و.
ډله ښځې راغلې، مخې ته مې کوټه کميسونه او ټيکري را ولوېدل.
يوې ښځې يو زوړ پرتوګ په لاس کې نيولی و، پايڅې يې را ښودلې،
ويل يې چې نږور يې په لاس جوړې کړې دي، خو وکيل سپکه کړه، د
غنمې ښځې پرتوګ يې راوړی و.
يوې له عمره پخې ښځې زوړ کميس راته ونيو، قسم يې وخوړ چې لور
يې تېر کال جوړ کړی دی، خو يوه بله ښځه په خوله کې ور ولوېده،
ويې ويل چې لور دې اتلس کلنه ده، خو تا دا کميس شل کاله مخکې
په خپل واده کې اغوستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيغې ډيرې شوې. په بېړه مې څو کميسونه خوښ کړل، ومې ويل چې د همدې کميسونو د جوړونکو نومونه غواړم.

نارې کمې شوې، خو غلې نه شوې، اوس نو څو ښځو په خپلو مينځونو کې داوې شروع کړې، هرې يوې انتخاب شوی کميس خپل ګاڼه.

خبره قسم ته ورسېده، ما نه و ورته ويلې، دوی په خپله قسمونه خوړل، بيا هم مشکل پر خپل خای پاتې شو، حق او ناحق قسم نه مالومېده، ټولې قسم ته تيارې وې، تېزې پرې ورتلې، نه خدای پاتې شو، نه کوران او نه هم د شوربازار حضرات.

يوې ښځې خو سلطان محمود غزنوي هم ياداوه. نارې يې تر ټولو تېرې وې "په سلطان صيب لو (قسم) درته خورم چې دا پرتوګ زما دی."

اته نور نومونه مې وليکل، ښځې ډونګېدې، ښځې خوشاله وې، خو ماته يوه هم غوسه نه وه، هر څه يې د کوڅې له وکيله ګڼل.

وکيل ته مې د خپل يوه دوکان ادرس ورکړ، ورته ومې ويل چې يوه هفته وروسته د همدې انتخاب شويو کسانو عکسونه غواړم.

د باندې ووتم، کوڅه له خلکو ډکه وه، ښځې په غوسه ول، له سترګو يې اورونه بادېدل، خو ماته نه ول غوسه، له سترګو يې پوه شوم، دوی وکيل او هغو کسانو ته کتل چې ښځې او پېغلې نجونې يې انتخاب شوې وې.

وکيل او څو خوشاله سپين ږيرو تر موټره بدرګه کړم، د خپل پخواني کور تر مخ تېره شوم، کلونه مخکې خواره، بې کسه او وړې طاهره مې سترګو ته ودرېده، د سهار په خړه کې به خپلو ډنګرو اولادونه ته د وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېږۍ به پیدا کولو پسې په اوو کمیسونو او زړه چادري کې له کوره وزنه. ماردیګر به راغله. همدلته، د همدي زاړه وره ترمخ به ډله خوانان ورنه ماتله ول. وخت یې نه قضاه کاوه. مبایلونه به یې په زنګونو درولي ول. داحشه راتله، د مخې لمنې به یې نبغې ورته ولاړې وې. خو اوس هماغه خلک خارجي موسسې ته د خپلو خوانو نجونو په لېږلو نه سره جوړېدل. دا نه چې دوی پوه شوي ول. هماغه خلک او هماغه تشې کړې وې. په مغزو کې یې هېڅ تغیر نه و راغلی. د پخوا غونډې وچ ول. ان لس کلنې نجونې یې مکتب ته نه پرېښودلې. سور کوېر ورته بکارېده. دا وار پیسې زوروې وې.

داخل لوخ مخې ارایش کړې طاهره ههه پخوانۍ فاحشه نه وه. د زنا ګناوې نه وریادېدې. د دوزخ په لمبو کې لوخه لېږه نه درېده. برعکس، ملایکه یې ګڼله. د شرابو په پیاله کې به پرته وه. ګوله به په خپله ورته راتله. دې به مازې غابښونه پرې لګول.

لا! غربته. خدای دې ورک که. څه د عزت انسانان دې بې عزتو ته بې عزته کړل.

هغه لا نه وه وتلې چې وکیل عکسونه راوړل. ډېرې یې تنکۍ نجونې وې.

دوه ویشت کسان مې پوره کړل. انګریزه یوازې د ورکشاپ په اوله ورځ راغله. ښځو ته یې لنډې خبرې وکړې. لاسي ګنډنې او د کورنۍ اقتصاد پیاوړتیا یې سره وتړل. نور ورکشاپ یې ماته را پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دوې هغتې دوی ته د لاسي صنايعو په اړه وغږېدم، د نویو ډیزاینونو او رنګونو نمونې مې ور وښودې، د وطن د نورو برخو له لاسي ګنډنو سره مې بلدې کړې. بازار موندنه مې ورزده کړه.

موږ د غرمې د ډوډي او لمانځه له پاره يو ساعت وخت درلود، په دې وخت کې به مې له نجونو سره خبرې کولې، دوی خوږې وې، ذهنونه يې ژر خلاصېدل، هر څه يې په شوق زده کول.

په دوی کې ډېرو نجونو تر څلورمه يا پينځمه درس ويلی و، خو وروسته له مکتبه منعه شوې وې.

- د ملک لمسی راته وژړل، ويل يې چې اول نومره وه، پلار يې په يوولس کلنی کې د نجونو له نږدې مکتبه په دې خاطر وايسته چې نوره غټه شوې وه، خو په اتلس کلنی کې يې د پينځه نيمو سوو ډالرو په خاطر لس کيلو متره ليرې ليږله. له دې مې پوښتنه کړه، په اولو دوو ورځو کې يې ورور ورسره راته، خو وروسته يې ورته ويلي و چې زه کرکټ نه خم، اوس بلده شوې يې، لاره در مالومه ده، نور مې مه پازابوه.

دا خلک پينځو سوو ډالرو ته ګوري، هېڅ خبره نه وي، خو پينځوسو کلونو ته نه ګوري. دا خلاقه نجلی وه، که يې درس ويلی وای، اوس به يې د کانکور امتحان ورکاوه، شېږ، اوه کاله وروسته به ډاکټره وه.

نه، مکتب به ولي وايي! مکتب يې بې لارې کوي، سپين سترګې او بې حيا يې اموخته کوي. له دې خلکو سره تل همدا فکر وي، نيکونو بې هم مکتب کوبر باله، زامنو ته يې هم له مکتبه ورټ پرېښود، لمسيانو ته يې هم مکتب بې حيايي ښکارېږي. دوی دا سل کاله له مکتب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساسیت لري، د مکتب د نوم یادول یې په تشو ککریو کې مردارداني راخېژوي، بخار پیدا کوي. نه، که نجلۍ مکتب ووایي نو بې حیا کېږي. نجوني فارغې شوې، پیسې، د کار وسایل، د لارې کرایه او شهادتنامې مو ورکړې.

د خدای په امانې پر وخت ډېرو نجونو ژړل، نه وې ملامتې، ډالر خو هر وخت نه پیدا کېدل چې نارینه یې د باندې پرېږدي.

په دوی پورې ببرته د کورونو دروازې تړل کېدې. اه! ولي به د باندې وځي، ولي به درس وايي، ولې به کار کوي!

که له کوره ووتې، چور دی، خلک لاس ور اچوي، تښتوي یې، بې عزتي راوړي. نه، ښځه یا د کور ده یا د ګور.

بس! په څوارلس کلنۍ کې به یې مېړه ته ورکړي، مېړه او خسرګنی یې په لسو کلونو کې دوولس اولادونه ترې غواړي، خدای مهربانه دی، یو-دوه وارې خو به غبرګ ماشومان وزېږوي، وچه یې نه پرېږدي.

ګڼ کور به وي، نیمه شپه به را پورته کېږي، دوډۍ به پخوي، سړي او کوچنیانو ته به چای تیاروي، بیا به د مېړه او لېورونو بوټونه ور رنګوي، کوټې به جارو کوي، کوټه جامې به مینځي، د غرمې دېګ به کوي، اوتو به را اخلي، د ماخستن تر لسو بجو به لکه مزدوره ګرده تاوېږي.

سترې به پرېوزي، خو مېړه به کرار ور وښویږي، ستما به یې خېژي، که ښځې له ډېرې سترېا (نه) ورته وویل، نو بیا خو ژوند نور هم سور اور شو، لا به یې مېړه نه وي خوښ، یا به له بل سره جوړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا په میاشتني ناروغي کې هم وي، خو مېره ته به له ډاره څه نه شي ویلی، ځکه نه پوهېږي، له شرعي اړخه ناخبره ده، دې ته یوازې دومره ویل شوي دي چې که دې لاسونه په وړو هم ککړ وي، د مېړه غوښتنه به پر ځای کوې، ګنده به ورته خلاصوې، که نه نو خدای دې نه بخښي.

راتلونکې ورځ او شپه یې هم د تیرې ورځې او تیرې شپې تکرار ده.

په څلرویشت ساعته کې به څلور ساعته خوب نه لري. به تیاره کې به را پورته کېږي، توله ورځ به ګرځي، دا وکه، ها وکه، تر ماخستنه به تر درنو بارونو لاندې وي، د شپې به هم یو څوک ورباندې پروت وي.

بیا به هم تول نه وي ترې خوشاله، یو به د دېګ مالګه ډېره ګڼي، بل به یې بلمنګي بولي، یوه ته به غوړ خوراک خوند ورکوي، خو بل به یې دښمنه ګڼي چې فشار مې پورته دي، قصدا مې وژني.

په دېرش کلنۍ کې یې ډېر کار، روحي فشار او کال په کال د ماشوم پیدا کول اویا کلنه کړي، مخ یې وځړېږي، سترګې یې تورې حلقې ونیسي، ملا یې کړوپه شي، د ډیرو جامو مینځلو او غسلونو له لاسه یې د روماتېزم ناروغي ونیسي. ډاکتر نه ویني، ګوتې یې کږې شي، د شپې له پرېوتا ووځي، دا د کور په کارونو کې د پخوا غوندې راستمنه وي، خو له وسه یې څه نه کېږي، پېغورونه اوري، وهل ټکول خوري.

هېڅوک هم نه وې ترې خوشاله. مېړه یې بله ښځه کوي، په اخیر کې د ګور شي، خو د کور نه.

نې ذته اناول
ب ک به پښتو سترګو کې ده، اوبا کلن نه بې ورکه، شل لکه وشمېره،
به ملتونو، ان پوزته هم نه درته ګورې، ساده خبره ده، هر خوک
ني پوهېږي، حتی پوښتنه هم نه شي کولی چې ولې؟ هر څه
ه دي. د پلار په قسمت کې شل لکه افغانی لیکلي وې، د لور به
ت کې اوبا کلن بوډا. دې ته له ماشومتوبه وبل شوې دي چې
ږي به اسمانونو کې انتخابېږي. له خپل قسمته بې وګنه، مور څه
لت بو. قسمت دي همداسي غول شي و.

ه بو. له خپل قسمت سره به څه کوې؟! خدای همدا درته لیکلي
ني له خدای سره به څنګه زور وهې. نه، وبې زغمه، هسې هم دنیا
دي ورځې ده. مري.

و دنیا به دوې ورځې نه وي، کلونه کلونه به یې مرګ ته سترګې
ې. مرګه! څه وخت راځې؟! خدای دي ژر راوله.

ې څنې درس ووایې، بیا خو نو غټ تاوان دی، سترګې بې خلاصېږي،
ه دې پوهېږي چې له شرعي او قانوني ارخه مې هېڅوک اوبا کلن ته
ه نشي ورکولای. زما خوښه مهمه ده، په مکتب کې بې راته ویلي و چې
ه حتی د دربېمګرې په موجودیت کې له هلک سره خبرې هم کولای
شي، شرایط ابنودلای شې. د بوبل خوی او عادت معلومولی شې، ان
که بې د خولې هم بد بوی نه، مه یې منه. نه ورته ووایه، شرعي حق
لرې. هېڅ خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یې په زور ورکولې، نبغه ورته ودرېږه، ورته ووایه چې پلاره! خدایکه ستا پلار هم ورکړي، نکاح مو نه سهي کېږي. ګناوو ته مې مه مې ټېل وهه، دا واده، نه واده.

دلته که نجلۍ درس ووايي پوهېږي چې دا يوازې د چرګوړو د ايستلو ماشين نه ده، انسان ده، حقوق لري، اقلا دومره خو خپل سړي ته ويلی شي چې کال په کال ماشوم راوړل مې صحت ته تاوان لري، د يوه او بل کوچيني تر مينځ به دوه، درې کاله وقفه راولو، هم ماته ښه ده هم تاته، هم به زه روغه يم هم ماشوم.

دا يو درجن خيرن، وږي او بې تربيې ماشومان به څه کوو. که درې، څلور کوچنيان ولرو، نو جامو، خوراک، صحت، تربيې، درس ته يې سم رسېدای شو، وس به مو پرې بر وي، ښه به يې و روزو، هم به تاته په درد وخوري، هم ماته او هم به له دوی سم انسانان جوړ شي.

با تربيه به وي، په ښو او بدو به پوهېږي، څوک به يې نه شي غلطولی، د نورو احترام به يې زده وي، نزاکتونه به ور مالوم وي، نېک صالح به وي، زه، ته او ټوله کورنۍ به ښه ورسره يادېږو، په راتلونکې کې به هم په خپلو ځانونو بسيا وي.

دلته که نجلۍ درس ووايه نو په دې به پوهېږي چې زه کوم حقوق لرم، خوابنې او خسر مې کوم حقوق را باندې لري، د مېړه حقوق مې کوم دي، مېړه ته ويلی شي چې ساړه خوره، يو دوې ورځې سا وکه، د مياشتنۍ ناروغۍ مې لا وخت پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته که نجلۍ درس ووايې نو له مېړه به پاک غابنونه غواړي، له نصوارو په ډکه خوله به خوله نه ورکوي.

په ظلم وربانديې کېږي، نو د عريضې ځاي ور مالوم دی. له خپل مېړانه خبره ده، پوهېږي چې د مېړه په کور کې کوم حقوق لرم او له شرعی او قانوني اړخه له پلاره څه غوښتلی شم.

دا به هماغه کار کوي، خو لاره به نه وې ترې ورکه، په دې به پوهېږي چې لندې پايځې او دايم سرې اوبه صحت ته تاوان لري، د جامو د مينځلو په وخت به ځان نه لندوي، دستکشې به پر لاسونو کوي او مغته ويټامين دي به ورمالوم وي چې په ورځ کې نيم ساعت لمر ته کيني.

دا به کار کوي، عايد به لري، او له مالي اړخه به پر ځان متکي وي. د يوه پاکټ گوليو له پاره به يې د بل جېب ته وچې سترگې نه وي نيولې.

ژوند دی، هېڅ پخه نه ده راوړې، ژوندی ساوې مري، خو که بې کسه شوه، خپل ځان او خپل ماشومان به ساتلی شي. تنخوا به لري، هېڅوک به يې له بېوسي استفاده نه کوي، د نانوايي تر مخې به خواست ته نه کيني، د خلکو بوټونه به نه رنگوي، د کور کرايه به پر خپل وخت ورکوي، اولادونو ته به په خپله ايسکريم اخلي او هېڅوک به يې په حويلۍ کې يوه بوشکه غوړي، چارک بوره او ارزان بيه چاکلېټ نه وړدي.

نه، همداسي پټې سترگې ښه دي، که يې دوه کاله د اولادونو په مينځ کې وقفه راوسته نو بې حيا ده، که د ناروغې په وخت کې له مېړه سره پرې نه وته، بيا هم بې حيا ده، که په دې پوه شوه چې د هلک خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوی کوي، انتخاب دې خپل دی، څوک دې په زور نه شي ورکولی. بیا هم بې حیا ده، خامخا بل یار لري، که یې کار او حلال عاید درلود او په اوو پوښونو کې پټه له کوره وته، بیا خو نو لاس ترې مینځه، سمه فاحشه شوه.

که پوه شوه، د لمانځه او اوداسه فرضونه یې زده کړل، په دې وپوهېده چې څوک مې په زور نه شي ودولای، درس ویل مې حق دی، د خپلو جامو رنګ په خپله انتخابولی شم، بې حیا شوه.

نه، له اوله یې غم وخوره، له مکتبه یې را وګرځوه، په تیاره کې به بې حیا خوندي وي.

دوی ته جهالت حیا ښکاري او علم بې حیایي.

ورک یې که، دا خلک خدای پوه نه کړل، ښه به پوه شي.

لور مې له پوهنتونه فارغه شوه، واده یې ساده و، خپله غوښتنه یې وه، ډېر مصرف یې نه غوښت، د خپل مېړه کور یې نه خراباوه.

کال وروسته مې زوی هم پوهنتون خلاص کړ، لایقه و، په اوله میاشت یې په یوه دفتر کې کار وموند.

ما پیسو ته ضرورت نه درلود، ډېرې وې، خو دی به راغی، په غېږ کې به یې ونیولم، په تنده به یې ښکل کړم، په خپله به یې خپله تنخوا راته ونیوله، پوهېده چې د زوی له ګټې خوند اخلم.

ده به د هرې میاشتې په پای کې مېلمستیا راکوله، خپله خور به یې هم راوستله، هوټل ته به تلو، پوازې تکه کباب به مو خوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخ یې یوه نجلۍ را وښوده، ویل یې چې راباندې ګرانه ده. له نجلۍ سره وغږېدم. د مرګ خبرې یې نه کولې، زما زوی یې د ژوند له پاره غوښت. ومې منله.

ما هېڅ غم نه درلود، خپلې ټولې ترخې خاطرې مې هېرې کړې، خوشاله وم.

یو سهار مې حویلۍ پاکوله، ستړې شوم، جارو مې دېوال ته ودروله، پلاستیکي څوکۍ مې را وخیسته، د انګورو د تاکونو تر چیلیې لاندې کېناستم، چمن ته مې وکتل، پاک و، خو د چمن تر څنګ نرۍ سیمینټي لارې جارو کېدا غوښته.

یو دم مې پورته د انګورو په پاڼو کې یوې شب پرکې ته پام شو، د غنمې په غټه خاله کې تازه بنده شوې وه، سپین وزرونه یې رېږدل.

یوه غټه تکه توره غنمې پر خپل اوبدلي جال راغله، څو واري تر سپینې شب پرکې را وګرځېده، نوي تارونه یې له ورایه ښکارېدل، د لمر رڼا پکې ګډه وه. شب پرکه یې کلکه وتړله، مازې یو وزر یې ښورېده. غنمې نور زحمت ونه ایست، ډاډه وه، کار یې جوړ لید، کراره ودرېده. دا دې ته ماتله وه چې شب پرکه له حرکته ولوېږي او ویې خوري، خو شب پرکې لا یو وزر په چټکۍ خوځاوه.

تارونو ته مې وکتل، یو بل څه هم پکې بند و، ورته ودرېدم، په خړو پخوانیو تارونو کې یې مازې یو وزر پاتې و. ومې پېژندله، شب پرکه وه، خو اوس یې له یوه کمرنګه وزر پرته نور ټول ځان خوړل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې شپې پرکې وزر واهه، اول ورو و، بيا چټک شو، د خالي تول تارونه خوځېدل، د اوبو غوندې موجونه يې لرل، وروسته يې دوهم وزر هم حرکت پيدا کړ، اول يې يوه پنبه خلاصه کړه، بيا بله، والوته.

ژوند د غنې خاله ده، خامخا به پکې بندېږې، که دې وانې ورته ووتې، يوازې يو وزر به دې پاتې وي، خو که دې له حالاتو سره مبارزه وکړه، غنو ته بېسبکه نه شوې، لاسونه او پنبې دې ووهلې، نو تور تارونه پرې کوې شې.

دنيا همداسې ده، که دې ځان کمزوری ونيو، تل به دې په حويلۍ کې د غوړو پينځه ليتره بوشکه، چارک بوره او يو پاکټ ارزان بيه چاکليټ اينبې وي، خو که دې تېره غابنونه لرل، مامور قدوس دوی دې د غولو په ځا کې واچول، خپل ځان او خپلې کورنۍ ته سپر وې، تول به سترګه درنه کوي.

# پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library